# د ګوانتانامو

# ۳

# بنديان

ګوانتانـامو هغـه زنـدان چـې پـر افغانسـتان تـر حملـې وروسـته د امريکايانو لخوا د کيوبا په جزيره کې جوړ، طالبان، عرب، چيچن او هغه جنګيالي ور وړل شـول چـې پـه افغانسـتان کـې د پخـواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو مقابل کې جنګېدلي وو، د همـدوی زور وو چې امريکا د شوروي اتحاد له سيالۍ خلاصـه او پـه نـړۍ يې د باداري خوبونه په مغزو کې وګرځېدل

نظرمحمد مطمئن




# د گوانتانامو ۳ بندیان

لیکوال: **نظرمحمد مطمئن**

د پښتي ډیزاین: **سپین سهار**

خپرندوی: **دانش خپرندویه ټولنه**

چاپکال: **لړم ۱۳۹۸ - نومبر ۲۰۱۹**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

سالنگ واټ، انحصارات، د پخواني ملي سینما څنگ ته، دانش کتابپلورځی

+۹۳ (۰) ۷۷ ۱۱ ٤٤ ۳۱۷ - ۰۷۹۹ ۲۰ ۹۲ ۷۲

danish۲k۲۰۰۰@yahoo.com - spinsahaar@gmail.com

**د چاپ او ژباړې ټول حقونه له لیکوال سره خوندي دي.**

**لیک لړ** **مخگڼه**

سریزه ............................................................................ ۵
د گوانتانامو ماشوم بندي جواد پېغور او د وزیر ټیټې سترگې ................ ۷
په یو نوم درې کسان.................................................................... ۱۶
د گوانتانامو زندان...................................................................... ۱۶
مولانا عبدالرزاق فتاحې.............................................................. ۱۹
پېژندنه: ..................................................................................... ۱۹
نیول کیدل: ................................................................................. ۲۱
د کندهار زندان ......................................................................... ۲۳
د باگرام زندان............................................................................ ۲۸
د گوانتانامو زندان..................................................................... ۳٤
د پلچرخې زندان ...................................................................... ٤۵
خوشي کېدل .............................................................................. ٤٦
بده خاطره: ............................................................................... ٤۸
شریف الله شیرزاد ..................................................................... ٤۹
پېژندنه: .................................................................................... ٤۹
نیول کیدل: ............................................................................... ٤۹
د ننگرهار د هوایي ډگر زندان................................................... ۵۱

د باگرام زندان.............................................. ٥٣

د گوانتانامو زندان.............................................. ٦٠

له گوانتانامو زندان څخه خلاصون.............................. ٦٩

د پلچرخۍ زندان .............................................. ٧٥

کورته رسیدل .............................................. ٨٠

حاجي محمد نعیم کوچی .............................................. ٨٤

پېژندنه: .............................................. ٨٤

نیول کیدل .............................................. ٨٥

د باگرام زندان.............................................. ٨٧

د گوانتانامو زندان.............................................. ٨٨

له گوانتانامو زندان څخه خلاصون.............................. ١٠٣

کورته رسیدل .............................................. ١٠٤

ښه خاطره:.............................................. ١٠٧

بده خاطره: .............................................. ١٠٨

د لیکوال پېژندنه .............................................. ١٠٩

# سریزه

د الله ﷻ ډیر زیات حمد او ثناء وایم، د الله ﷻ پر نازولي پیغمبر محمد ﷺ باندي درودونه وایم چې ماته یې د یوه بل مهم کتاب لیکلو توان راکړ.

د گوانتانامو خاطراتو اړوند شاهکار کتاب د گوانتانامو انځور، د ملا عبدالسلام ضعیف کتاب دی، په بېلابېلو ژبو هغه کتاب خپور او په میلیونو نسخې یې خلکو واخیستلې.

د گوانتانامو اړوند که هر بل کتاب لیکل کیږي، هغه ډول خوند به ونه لري او نه به یې لوستونکې په هغه ذوق ولولي.

ولي دا چې د گوانتانامو بندیانو ته درناوی شوی وي، له همدې امله ما (لیکوال) وپتیله که وتوانیږم چې د گوانتانامو د ځینو بندیانو خاطرات را ټول او د کتاب په بڼه خپور شي.

ستونزه پکې داده چې د گوانتانامو ډیر بندیان زړه نه ښه کوي چې د هغوی خاطرات په لیکلي بڼه خپاره شي.

زه د گوانتانامو له ډیری بندیانو سره اړیکې لرم، هغوی پیژنم، هغوی راباندي باور لري، ولي حاضر نه وو چې د زندان خاطرات یې ولیکل شي.

په دي کوچني کتاب کې تاسي د دریو بندیانو خاطرات لولئ، هغوی چې په افغانستان کې دننه نیول شوې، په افغانستان کې د ننه امریکایې

زندانو ته وړل شوې، له هغه وروسته ګوانتانامو ته لیږدول شوې، شکنجه شوې، وهل شوې، ډبل شوې، روحې زجر ورکول شوی، او بیا یې برائت پیدا کړی، خو په نړۍ کې هیڅ کومه دروازه نه شته چې دوی د خپلو حقونو غوښتنه ورڅخه وکړي.

په پیل کې د ګوانتانامو ماشوم بندی محمد جواد ژمنه وکړه چې د هغه ځیني خاطرات به موږ نشر کړو، د هغه په خاطراتو مو کار وکړ، وروسته د امنیتي ستونزو له امله هغه پریکړه وکړه چې خاطرات یې اوسمهال نشر نه شي.

همدا ډول ما (لیکوال) په قطر کې هغه پنځه د ګوانتانامو څخه را خلاص شوې بندیان ( ملا محمد فاضل اخوند، ملا خیرالله خیرخوا، ملا نورالله نوري، ملا عبدالحق وثیق او حاجي محمد نبي عمري) چې له امریکایې اسیر بو بریګډال سره یې طالبانو تبادله وکړه، ډیر ځله لیدلي، د هغوی ځیني خاطرات مې په شخصي ډول یاداښت کړي وو، هغوی هم د بېلابېلو لاملونو له کبله اجازه ونه کړه چې په دي کتاب کې یې خاطرات د اوس لپاره خپاره شي.

که څه هم موږ دلته د دریو بندیانو خاطرات وړاندي کوو، تمه ده چې د ګوانتانامو نور را خلاص شوې بندیان به هم وهڅول شې، تر څو په راتلونکې کې د زندان خپل خاطرات افغان ځوانانو ته په لیکلي بڼه پریږدي.

# د گوانتانامو ماشوم بندي جواد پېغور او د وزير ټيټې سترگې

محمدجواد چې اصلي نوم يې سخی بادشاه او مشهور په جواد دی، د خپل پلار سلمان شاه له شهادته نږدې شپږ مياشتي وروسته په ميرانشاه کې زيږېدلی و. پلار يې په ۱۹۹۱ز.کال کې د پخواني شوروي د پلوي رژيم پر ضد د جهاد پر مهال د خوست ولايت د مولوي جلال الدين حقاني اړوند د ژورې غونډ کې شهيد شوی و. نيکه يې زربادشاه هم دوه ورځي وړاندي دده د پلار له شهادت څخه په ياد غونډ کې شهيد شوی و.

د محمد جواد اصلي ځای د سرانه کلی، د گردې څيړۍ ولسوالي، د پکتيا ولايت دی، قومي تړاو يې د ځدراڼو مشهوره قبيله سلطانخيلو سره او د مولوي جلال الدين حقاني له نږدې قريبانو څخه دی، د پلارڅخه په کور کې يواځنی زوی پاتې شوی و، هغه بل ورور نه درلود.

محمد جواد لا تنکی هلک و چې کابل ته راغی. د خپلې کورنۍ لپاره يې د حلالې ډوډۍ د پيداکولو هوډ درلود، خو برخليک يې د گوانتانامو زندان مېلمه کړ.

جواد په کابل ښار کې يو لاسي بم د امريکايانو په جيپ موټر (ټانک) باندی گوزار کړ، د امريکا د سپيشل فورس دوه پوځيان او يو افغان

ترجمان يې زخميان کړل. جواد د تيښتې هڅه وکړه خو افغان پوليسو ونيوه. بې له ځنډه د کورنيو چارو وزارت نظارت خانې ته يوړل شو، د جواد خان کورنۍ وايي، د نيولو پرمهال يې عمر ۱۲ کاله و. ۲۲ تنو افغان لوړ پوړو چارواکو له کمکي جواده پوښتنې او ګرويږنې پيل کړي. د ده «مهم» استنطاق کې دوه وزيران او دوه معينان هم ناست وو.

استاد محمد زمان مزمل وايي: " د وخت د کورنيو چارو وزير، تاج محمد وردګ (تاج محمد وردګ په انتقالي اداره کې د محمد يونس قانوني پر ځای د کورنيو چارو وزير شو، ډير ژر له يادې دندې ليرې، او د ۲۰۱۴ ز کال سپټمبر کې ومړ) يې د تحقيق او بيا امريکايانو ته د سپارلو په اړه داسي وويل: "زموږ ډله له محمد جواد څخه د تحقيق لپاره ناسته وه. هر کس د خپلې خوښې پوښتنه ورڅخه کوله. يوه ناست وزير ورته وويل: تا ولي په امريکايانو بريد وکړ؟"

جواد ورته وويل: "غوښتل مې ويې وژنم! "

وزير لږ جدي شو: ته ماپيژني؟

جواد وويل: "هو! زه دې پيژنم ته د .... وزير يې، او زه دي پيژنم چې خپلې لونې او پردۍ ځوانې انجونې امريکايانو ته په واک کې ورکوي، او هغوی ور سره بد کار کوي. ما ځکه پر امريکايانو بريد وکړ چې ستاسي د لوڼو او افغان نجونو عزت خوندی شي، امريکايان پوه شي

چې دلته افغان شازلمیان شته، او دوی (امریکایان) نه پرېږدي چې افغان ناموس ته په سپکه سترګه وګوري!"

وزیر غوسه شو، جواد ته یې بدې ردې وویلې: ته ډېر بې شرم، ډېر بې حیا هلک یې، وژنم دې، امریکایانو ته دې په لاس ورکوم چې هغوی دې ګوانتانامو ته یوسي، او په سخت زجر او شکنجو دې ووژني!

تاج محمد وردګ وایي، جواد جان څخه موږ پوښتنه وکړه چې ولې دې په امریکایانو حمله وکړه؟ ویل یې:

کله مې چې کابل کې د امریکایانو یو ټانک ولید، چې امریکایان پکې ناست دي او د کابل له نجونو سره خنداګاني کوي، له انجونو سره اشارې کوي، نور مې دا حالت تحمل نشوای کړای. ولاړم، له کابله ووتلم، ۱۵ ورځې مې ټرینګ وکړ، بیرته کابل ته راغلم، د امریکایانو پلټنه مې کوله، یو ځل یو درملتون ته ننوتلم، هلته مې وکتل چې نږدې بهرنیان ورته ولاړ دي، چې پوه شوم هغوی جرمنیان وو، بیا مې حمله پرې ونه کړه، ځکه ماغوښتل چې په امریکایانو حمله وکړم.

دویم ځل مې د کابل ښار په یوه برخه کې بیا ولیدل چې امریکایي پوځیان ولاړ وو، هلته ورغلم، خو د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وه، او که برید مې کاوو، نو عامو وګړو ته هم زیات زیان رسیدی، بیرته ولاړم، او په امریکایي پوځیانو مې برید ونه کړ.

په دریېیم ځل زه په خپل پلان کې کامیاب شوم، د امریکایانو ټانک ولاړ و، هغوی پکې سپاره وو، او د ګرنټ واری مې پرې وکړ، ومې لیدل چې ګرنټ یې په ټانک کې دننه ولګیدی، د امریکایي پوځیانو چیغې مې واوریدې، منډه مې واخیستله، او د تیښتې چانس مې هم درلود، غوښتل مې چې په خلکو کې پټ شم، افغان پولیسو راپسې منډې وهلې، ما کولای شوای چې همدا افغان پولیسو باندي هم د ګرنیټ ګوزار وکړم، په لاس کې مې ګرنټ نیولي و، مګر بیا چې مې د خلکو ګڼه ګوڼه وکتله، فکر مې وکړ چې زه خو هسې هم مرګ ته روان یم، مګر دا عام وګړي خو خپلو میندو مرګ ته نه دي را استولي، د ګرنټ ګوزار مې ونه کړ، او دي بې غیرتو افغان پولیسو ته مې ځان په لاس ورکړ!

زه پولیسو ووهلم، زما پوزه ماته شوه، او په خپل کړي عمل باندي چې د امریکایانو وژل وو، نه یم پښېمانه!

د کورنیو چارو پخواني وزیر تاج محمد وردګ وویل چې کله مو د جواد غیرت او هوډ ولید، زموږ افغاني غیرت هم راویښ شو، زما هوډ دا وو چې جواد باید امریکایانو ته ونه سپارم، ولي د ولسمشر کرزي مکرر فشار وو چې باید دا هلک امریکایانو ته وسپارئ، موږ به کرزي ته وویل چې دا هلک ماشوم دی، دولس کلن دی، د ښو او بدو تفکیک نه شي کولای. خو د کرز ي لخوا فشارونه ورځ تر بلې زیاتېدل، او زه پوه شوم چې کرزی په دی مسئله کې جدي دی.

څو ورځې مو جواد خان د کورنيو چارو وزارت په نظارت خانه کې وساتی، مګر د کرزي لخوا وروسته تهديد او اخطارونه هم پیل شول. بيا موږ هم جواد خان امريکايانو ته وسپاری.

که څه هم ما (تاج محمد وردګ) له جواد سره ژمنه کړي وه چې امريکايانو ته دي نه سپارم، ولي د کرزي او امريکايانو زور راباندي زيات وو، کله چې موږ جواد خان امريکايانو ته سپاری، او جواد خان پر موږ باندي تیریدی، نو ما ( تاج محمد وردګ ) ته يې وکتل او ويې ويل:

وزير صاحب! ډيره بې همتي دي وکړه، ما دومره بې همته او ټيټ ذاتی نه ګڼلي، تاسي به زه اعدام کړی وای، زه به مو په خپلو لاسونو وژلی وای، مګر دي ذليلو امريکايانو ته به مو نه سپارلای!

تاج محمد وردګ وايي چې له ما سره د کورنيو چارو وزارت مرستيال هم ولاړ و، هغه هم همدا خبري واوريدی، او موږ ناچاره، ټيټې سترګې نيولي وي، جواد امريکايانو ته وسپارل شو.

د کورنيو چارو مرستيال چې د پنجشير اوسيدونکی و، هغه سهار مهال زما (تاج محمد وردګ) دفتر ته راغی، د هغه څيره له خپګانه ډکه ښکاريده، ويل يې، وزير صاحب! خوب مې سم نه دی کړی، کله چې مې په بالښت سر ولګاوو، د غازي ماشوم جواد خبرې مې رايادې شوې، چې «بې همتو! خپله به مو اعدام کړی وای، خو دي ذليلو

امریکایانو ته به مو نه سپارلی، او د جواد هغه خبرې مې رایادي شوې چې د ۲۲ تنو مخکې یې موږ او تاسي ته کړي وي، چې ما د خپل هیواد د نجونو په عفت ساتلو باندي ننگه وکړه.

مرستیال وزیر ویل، ډیر زیات مې وژړل، چې موږ ولي ونشوای کولای چې دا غازي ماشوم وساتلای شو، بیا وروسته خوب وړی وم، زما اوښکو بالښت لوند کړی وو، اوښکې یخې شوې وي، زه د خپلو اوښکو په یخوالي بیا راویښ شوم، د مخ یو اړخ مې یخ شوی و، بیا چې رابیدار شوم، دومره مې وژړل چې بالښت مې په اوښکو لا زیات لوند شو، او بیا ځل هم د خپلو سړو شوو اوښکو له امله چې زما مخ یې هم یخ کړی و، راویښ شوم، ټوله شپه مې له خپل ضمیر او وجدان سره جگړه وه، او خپل ضمیر او وجدان ملامتولم، بې خوبه کولم یې، ویښولم یې او د جواد جان دا کلمات به مې په غوږونو کې ازانگې کولي چې: "اې بې همتو! ولي مو امریکایانو ته وسپارلم، تاسي به خپله اعدام کړی وای".

مرستیال وزیر ویل چې ماغزو مې کړنگا کوله چې د جواد خبره به مې را یاده شوه، ما غوښتل چې ستاسي لوڼې او افغان ناموس له بدو سترگو څخه وساتم! "

مزمل صاحب وایې: " موږ ته د کورنیو چارو وزیر تاج محمد وردگ ویلي و چې ښه کورت درته تیاروم، کور ته یې ورغلو، چې کله

دسترخوان هوار شو، کورت يې کېښودل، تاج محمد وردګ وويل چې لاسونه پورته کړئ، زه دعا کوم او تاسي آمين راسره واياست:

خدايه! ملاعمر او ګلبدين ۱ مه وژني، هغوی ژوندي لري، هغوی قوي کړې، د هغوی مرستندوی شي، يا الله ته يې وساتې، ته د دوی قوت او هيبت د امريکايانو په مقابل کې نور هم زيات کړي!

کله چې يې دعا خلاصه کړه، موږ ورته وويل چې غواړي په امريکايانو مو ونيسي، که څه خبره ده؟ تاج محمد وردګ وويل چې تاسي دا بد ذاتي او ذليل امريکايان نه پېژنئ. قسم په خدای! که د دي ملاعمر او ګلبدين ډار يې په ماغزو کې نه وای، زموږ له کورونو به يې نجوني د بدکارۍ لپاره ايستلای، او موږ به ورته څه نه شوای ويلای، د خدای ﷻ شکر دي چې د طالبانو او حزب اسلامي د مجاهدينو د ويري له امله دا کار په کابل او نورو ځايونو کې؛ د دوي له دي پست فطرته عمل څخه يې مخه نيولي ده. "

---

[۱] د حزب اسلامي مشر ګلبدين احکمتيار تر دې مهاله له امريکا/ناټو سره په جګړه کې و، خو وروسته يې له افغان حکومت سره د سولې تړون لاسليک او کابل ته راغی.

د ۲۰۱۷ ز. کال د فبروري په ۳مه نېټه د ملګرو ملتونو لخوا پر حزب اسلامي لګېدلي بنديزونه ليري شول، او د دغه ګوند د مشر ښاغلي ګلبدين حکمتيار نوم د ملګرو ملتونو د امنيت شورا له تور لست څخه ليري کړل شو.

۲۸ اپريل ۲۰۱۷ يې لغمان کې د حزب اسلامي له ځينو پخوانيو غړو او نورو کسانو سره وليدل، پر ۲۹مه يې په لغمان، پر ۳۰مه يې په جلال اباد او د مئ مياشتې پر ۴مه نېټه يې په کابل کې وينا وکړه

وزیر تاج محمد وردک په وروستیو لیدنو کې مزمل صاحب ته دا هم ویلي وو چې ممکن زما د کورنیو چارو له وزارت څخه گوښه کیدو، یو لامل به دا هم وو چې محمد جواد مې امریکایانو ته په خپله خوښه ونه سپاری، هغه مې په کورنیو چارو وزارت کې څو ورځې وساتی، بالاخره د کرزي غوسه ورځ تر بلې زیاتیدله او بیا مجبوره شوم چې هغه ماشوم جواد، حیوان فطرته امریکایانو ته وسپارم.

که څه هم د جواد کورنۍ وایي چې هغه د حملې کولو پر مهال ۱۲ کلن وو، ولي د پنټاګون هغه څیړنې چې د جواد په هډوکې یې کړي، راپور ورکړی چې پر امریکایي پوځیانو د حملې پرمهال د هغه عمر ۱۷ کاله و.

جواد د امریکایانو په کاروان د بم گوزار د ډسمبر په ۱۷مه، ۲۰۰۲ ز. کال کې وکړ. له نیولو وروسته سمدستي د کورنیو چارو وزارت نظارت خانې ته، ډیر ژر د امریکایي پوځیانو په واک کې د باگرام زندان او د ۲۰۰۳ ز کال د ډسمبر میاشت کې گوانتانامو ته یوړل شو، اوه کاله په گوانتانامو کې بندي و، د ۲۰۰۹ز. کال د اگست میاشتې په ۲۴مه خلاص او کابل ته راوړل شو.

د ۲۰۰۴ مئ میاشت کې هر درې ساعته وروسته به هغه ته د گوانتانامو زندان کې د بي خوبۍ جزا ورکول کیده، له خوبه یې ویښاوه، په دوو اوونیو کې ۱۱۲ ځله هغه ته بې خوبې ورکړل شوې وه، او په لوړ بږغ موزیک هم ورته بږغول شوی وو. په همدې دوو اوونیو کې یې ۱۰٪ وزن له لاسه ورکړی و، او له ادرار سره یې وینو جریان درلود.

د محمد جواد په اړه رسنیو ډیري لیکنې کړي، چې د هغه حالت یې بیان کړی. د گوانتانامو یو له ډیرو مشهورو زندانیانو څخه گڼل کیږي.

محمد جواد گارډین ورځپاڼې سره مرکه کې ویلې چې کله زه لومړی ځل خپلې مورکۍ ولیدم، هغې ونه پیژندم، هغې زما د سر په یوه برخه کې چې کله د ماشومتوب نخښه ولیده، بیا باوري شوه چې زه جواد یم.

کله چې جواد له گوانتانامو زندان څخه راخلاص شو، د کورنۍ غړو یې ویل چې هغه اوس ۱۹ کلن دی، مگر پنتاگون بیا هغه ۲۴ کلن گاڼه. جواد د گوانتانامو زندان کې د قران کریم حافظ شو، له زندان څخه تر خلاصیدو وروسته یې واده وشو، اوس د یوې لور پلار دی.

محمد جواد له زندان څخه تر خلاصون وروسته نږدې یوکال په کابل کې هستوگن و، ولې دوه ځله یې بیا هم په کور د دولت د امنیتې کسانو لخوا چاپه ووهل شوه، ونیول شو، دواړه ځله د لنډ وخت لپاره زندان ته یوړل شو، بیا وروسته د بېلابېلو ستونزو له امله له هیواده ووتی.

یادونه: پورته لیکنه د سپتمبر ۱۹مه، ۲۰۱۸ کې چمتو شوی و.

# په یو نوم درې کسان
# د ګوانتانامو زندان

۱۷ مارچ ۲۰۱۲، د جلال اباد ښار، خالص بابا په فامیلو کې د طالبانو پر مهال د کورنیو چارو مرستیال وزیر، مولوي نورجلال صاحب میلمانه و، مولوي نور جلال صاحب هم د امریکایانو لخوا نیول شوی و، د باګرام زندان او بیا وروسته ګوانتانامو زندان ته وړل شوی و، هغه ویل چې بګرام ته یې له دریو بېلا بېلو ولایتونو (کندهار، خوست او پکتیا) څخه په یوه نوم درې کسان راوستل، دامریکایانو پکې مطلوب یو و، خو راپور ورته رسیدلي و او په یوه ورځ یا شپه کې یې په درو بېلابېلو ولایتونو کې درې کسان نیولي وو چې یو تر وهلو لاندې شهید شو خو لاهم معلومه نه وه چې مطلوب تن نیول شوی که نه؟

یو ژورنالست چې ځوان هلک وو بګرام ته یې راوستی، دهغه ډیره روانه او ښه انګلیسي زده وه. بندیانو فکر کاوه چې دایې جاسوس راته راوست چې زموږ جاسوسي وکړي، هر بندي به واهه او بد رد به یې ورته ویل، اخر یې په یوه بله لیري ځانته کوټه کې له بندیانو لیری ساتی، ماته غیرت بهیر (د حزب اسلامي د سیاسي کمیسون پخواني مشر) وویل چې ته دا بندیان وپوهوه چې ددغه ځوان سره داسي رویه نه کوي. زما خبره ځکه په بندیانو بده نه لګیدله چې ما یې امامت کاوو. ځوان مو راوست، هغه ویل چې ما د کندهار په پنجوایې او ځینو نورو

سيمو کې د امريکايانو له خوا د بې گناه ماشومانو او مړو عکسونه واخيستل او هغه مې بې له ايډيټ څخه خپاره کړل، زه يې وغوښتم او راته اخطار يې راکړ، دويم ځل بيا ما د امريکايانو لخوا د بې گناه خلکو وژلو د بلي پيښي عکسونه خپاره کړل ځکه ما له شخصي ټلويزون سره کار کاوو، بيا يې وغوښتم او اخطار يې راکړ، دريم ځل يې ونيولم، اوس چې دلته بنديانو وهلم او بده رويه يې راسره کوله، دوی راته ويل چې اوس ښه شوي، موږ دي هم وهو او دوی هم. تا ددوی مرسته کوله.

څه موده وروسته زه او هغه ژورنالست په يوه ورځ خلاص شولو ،هغه يې هم گوانتانامو ته وړی وو، هغه ځوان خبريال د گوانتانامو له زندان څخه تر خلاصيد وروسته بيا هم د امريکايانو د ظلم او وحشت بيا نونه کول او ټلويزونو هم خپرول، د الجزيرې ټلويزون سره يې هم اوږده مرکه درلودله، خو يوه ورځ مې د الجزيري څخه د هغه د مرگ خبر واوريدی، ورور يې هم لږ وروسته راته ټيليفون وکړ چې د کوم ټلويزون لپاره د راپور جوړولو په موخه ليري پرتې ساحې ته تلی، خو موږ يې مړی په سړک لويدلی پيدا کړ، معلوم ندی چې د چا له خوا ويشتل شوی ، مولوي نورجلال ويل چې دا خلک هيڅوک نه پريږدي چې ددوی حقيقي څيره خلکو ته څرگنده کړي.

نورجلال مولوی صاحب ويل چې يوځل يو لوړ رتبه امريکايې محقق د گوانتانامو په زندان کې د تحقيق لپاره راغلی وو، زه يې وغوښتم،

ژباړونکي راته وويل چې د محقق سره سم چلند وکړه، لوړ رتبه تن دی کيدای شي مرسته درسره وکړي.

محقق لومړی پوښتنه داوه چې دلته خو دی زيات وخت تير کړ، کوم ټکی انګليسي دي ياده کړی که نه؟ ومې ويل چې هو ډير شيان مې زده کړي او ډيري خبري مې زده کړي؟ هغه وويل چې راته ويې وايه، ما هم ټول هغه شکنځل چې بهرنيو عسکرو به راته کول يو په بل پسي ورته وويل، محقق سخت خفه شو، ويې ويل چې تا خو ډير بد الفاظ زده کړي دي، ومې ويل چې دا ما زده کړی نه دي بلکي را زده کړل شوی دي، په ورځ کې څو ځله دغه بد الفاظ ستاسي د عسکرو له خوا راته کيږي اوس مې ياد شوې دي.

محقق نور هم خفه شو، ويل يې ډير بد الفاظ دي زه به ددي د مخنيوي لپاره ستا خبري لوړ ځای ته ورسوم. مولوي صاحب ويل چې وروسته بيا شکنځل کم شول.

# مولانا عبدالرزاق فتاحې

**پېژندنه:**

مولانا عبدالرزاق فتاحي د حاجي اختیار محمد زوی، او د نیکه نوم يې عبدالفتاح دی، د کندهار ولایت د شاولي کوټ د کیخآباد کلي اوسیدونکی ، لومړنۍ دیني زده کړې يې په شاولیکوټ کې کړي، د زابل ولایت په دای چوپان ولسوالي کې يې ډیر وخت د دیني درسونو په ویلو تیر کړی، کوچنۍ دوره یې وکړه، چې د کمونستانو پر ضد جهاد شروع شو، له مولانا عبدالرزاق څخه هم د ګڼو نورو طالبانو په ډول درسونه پاتي شول.

مولانا عبدالرزاق فتاحي چې په حاجي مولانا صاحب مشهور دی، اوس يې عمر ۵۵ کلونو ته رسیږي[۲]، د افغان بنسټ مرستیال دی، د طالبانو د حکومت پر مهال د تجارت وزیر و، د طالبانو تر سقوط وروسته د افغان دولت د کندهار والي ګل آغا شیرزي د وسلوالو له خوا په شاولیکوټ ولسوالۍ کې ونیول شو، د کندهار محبس، د کندهارهوايې ډګر کې د امریکایانو زندان، د بګرام زندان، د ګوانتانامو زندان او پلچرخې کې يې د بند پر وخت شپې او ورځې تیري کړي، موږ هڅه کړي په لنډ ډول د ګوانتانامو د بندیانو پېژندګلوي او خاطرې ولیکو، تر څو د تاریخ دغه مهمه برخه د تل له پاره د خلکو سره په کورونو او کتابتونو کې پاتې وي.

کله چې په ۱۹۹۴ ز. کال کې طالبان د کندهار ولایت په میوند ولسوالۍ کې راښکاره شول، حاجي مولانا صاحب له طالبانو سره

---

[۲] د وري درېیمه، ۱۳۹۳ ل کال / د مارچ ۲۳مه، ۲۰۱۴

ملگري شو، راځئ چې نور هر څه دده له خولې څخه واورو:
مولانا عبدالرزاق فتاحي وايي: "په ارزگان، زابل کندهار او هلمند کې ډير ناوړه او بد حالت وو، د مجاهدينو په نوم فُساق را جمع شوي وو، او هغوی بد اعمال کول، د خلکو څخه يې پيسی په زور اخيستلي، غلاوي يې کولي، لويې لارې يې بندي کړي وي، او د خلکو کشران (لغړزني هلوکان) يې ځورول[۳]، خپلسرې جگړې يې يو له بل سره کولي.

کله چې طالبانو ظهور وکی ، له هغوی سره ملگری وم، او لومړی دنده مي د طالبانو سره، د نيمروز د گمرک د مديريت مشر وم، له څه مودې تيرولو وروسته د کابل گمرک رياست مشر شوم، په ياد رياست کې مې تر ۱۸ مياشي زيات وخت کار وکړ.
د تجارت وزارت ته د طالبانو د مشر ملامحمد عمر مجاهد له خوا څخه د وزير په صفت معرفي شوم، دوه نيم کلونه د تجارت وزير پاتې شوم، کابل چې طالبانو پريښودی، په هغه شپه زه هم د ميدان ښار دلاري کندهار ته ولاړم، طالبان ځيني د چهاراسياب او ځيني د ميدان ښار دلاري له کابل څخه ووتل.
د کندهار ښار ته ولاړم، هلته مي دوې شپې وکړي، حالات مي وليدل چې د طالبانو په گټه نه و، شاوليکوټ ولسوالي کې خپل کلي ته ولاړم، يو کال په کور کې ناست وم، هيڅ کار مي نه دی کړی، نه ايران او نه هم پاکستان ته ولاړم، په خپل ځای کې اوسيدم.

[۳] ډير ځله داسي شوې چې خپلسرو وسلوالو به له کم عمره هلوکانو سره په زور او جبر سره لواطت کاوه.

**نیول کیدل:**

د حامد کرزي د حکومت یو کال وروسته زمونږ په سیمه کې طالبان پیداشول، د افغان غر په نوم ځای کې به طالبان اوسیدل، د دولت له خوا له کندهار څخه قوه (اپریل ۲۰۰۳) کې راووتله، ۱۷۰۰ حکومتي وسلوال وو، د نظامي عملیاتو عمومي مشرې د کندهار والي ګل آغا شیرزي کوله، د ارزګان له خوا څخه بله قوه (پوځیان) د ارزګان د والي جان محمد خان په مشري را ووتله. له دواړو لورو څخه د افغان غر سیمه محاصره شوه ، له دی سره سره یې شاوخوا کلي هم محاصره کړل، د سیمې مشرانو او خلکو راته وویل چې تاسي له دي ځای څخه زمتو کلي ته ولاړشئ، دا نظامي خلک دي، د چا دعزت پروا نه لري، ښه دا ده چې بلې خواته ولاړشئ.

زما (مولانا) سره بل ملګری هم و، هغه د مشورې لپاره بیرته زمونږ کلي ته ولاړ، زه همدلته ورته انتظار وم. بلاخره زه د وسلوالو لخوا ونیول شوم.

کله چې له خپل کلي ووتلم، زما سره کلاشینکوف هم و، د خپل امنیت په خاطر مې راسره اخیستی و، په غرنۍ لاره کي خلک ولاړ وو او ما ځان ورڅخه پټ کړ، ما فکر کاوو چې دا به د کلي خلک وي، خو د احتیاط په خاطر مي بیا هم ځان پټ کړ، په دي وخت کې الوتکو بمبارد هم وکړ، ما د الوتکو بمبارد ته کتل چې امنیتې دولتي ځواکونو زه لیدلی وم، باران زیات شو، ما ځان د یوې لویې ډبري لورته پټ کړ، خو وسلوالو زه لیدلی وم، او ویې نیولم، ، دوه شپې یې په هغو غرونو کې له ځان سره ګرځولم، د ګل آغا یو قومندان و چې په ژړ

گلالي [٤] سره مشهور و، هغه راته راغی، په سوک يې په خوله کې ووهلم، زما غاښ يې را مات کړ، دوه شپې زما لاسونه د شا خواته تړلي وو، او دواړه شپې مي خوب ونه کړ.

وروسته يې د کندهار والي گل آغا شيرزي ته ور وستم. اول ځل چې ونيول شوم، خپل نوم مې ورته ونه ښود، د ورور نوم مي ورته واخيست، ځکه نظامي خلک وو، که خپل نوم مي ورته اخيستی وای، داسي نه چي ستونزه يې پيښه کړي وای، گل آغا خپلو خلکو ته د مخابرې د لارې ويلي وو چې ماته يې راولئ، گل آغا هم په شاولي کوټ کي وو، اول ځل چې ونيول شوم، دوی هم نه پيژندلم، ما هم نه دي ورته ويلي چې زه طالب يم، وسلوالو ويل طالب يې ځکه دغه منطقه د طالبانو ده، او ما نه منله چې طالب يم، دريمه ورځ يې ماسپښين مهال گل آغا شيرزي ته وروستلم، هغه د کجور په کلي کي و، د کجور کلي خلکو چې په لاره له وسلوالو سره د بندي په ډول زه ليدلی وم، ځينو يې پيژندلی وم، مخکې له دي چې گل آغا ته ورسيږم، د سيمي خلکو گل آغا ته ويلي وو چې دا خو دي غټ القاعده نيولی دی.

د گل آغا سره ډيري قواوی (پوځيان او د پوځيانو گاډي) وي، دکلي خلکو زه پيژندلم، ورته ويل شوی وو چې داخو غټ نفر دی، د ده سره په مجلس کې خالد پښتون هم وو، هغه چې خبر شو، سمدستي يې رسنيو ته احوال ورکړ، چې د طالبانو د وخت د تجارت وزير زموږ کسانو د يو ميل کلاشينکوف سره د شاوليکوټ ولسوالي په يوه غره کې نيولی دی.

---

[٤] گلالی بيا وروسته د کندهار د استخباراتو مشر، له هغه وروسته د کابل د ملي امنيت د تحقيقاتو د رياست مشر و، ډير زيات ظلمونه يې د طالب په نوم کسانو سره کول.

په دی ځای کې له گل آغا سره د هغه نور قومندانان هم وو، هغوی پوښتنه وکړه چې ته څه کاره وي، فکر مي وکی چې نور نو انکار فایده نه کوي، بل دا چی دی (گل آغا) مشر دی، دی به دومره عصبیت او تعصب نه لری، گل اغا ته مي خپل ټول حالت ووایه، په غرونو کي مي یوه شپه بله هم د ده له افرادو سره تیره کړه، څلورمه ورځ یې د کندهار زندان ته راوړم.

**د کندهار زندان**

شپه مي په زندان کې تیره کړه، سهار مهال خالد پښتون زندان ته راغی، هغه ویل چې له فرانسي څخه ټلیفون راغلی، او راته ویل شوې چې تاسي ته راشم، تر څو پوه شم چې تاسي څه وایاست، هغوی غواړي چې پوه شي تاسي د القاعده غړی[5]، رښتیا معلومات راکوئ یا نه؟ پښتون وویل چې د انډیوالي او وطنداري له امله ماته حال ووایه، ته چې په کومه منطقه کې نیول شوی یې، په دغه منطقه کې ملادادالله وو، هغه ماښام مرکه هم کړي ده. پښتون ته مې وویل چې ملا دادالله هلته نه و، پښتون ټینگار وکړ، ورته مي وویل چې زه هر څه تاته ووایم خو ستا زړه ته نه لویږي مگر دا رښتیا ده چې ملا دادالله هلته نه و.

ماښام مهال یوه څارنوال له زندان څخه د طالبانو د وخت د بهرنیو چارو وزارت نمایندگۍ (ځای) ته بوتلم، څلور امریکایان، خالد پښتون او یو ترجمان هلته ناست وو، ترجمان پښتون ته وویل چې ته د خبرو

[5] پر افغانستان د امریکا تر حملې وروسته، په لومړیو وختونو او کلونو کې د حکومتي چارواکو له خوا د طالبانو غړو ته د القاعده نوم په قصدي ډول کارول کیدی.

ژباړه کوه، خالد هغه ته وويل چې ته يې وکړه، اخر زما د خبرو ژباړه خالد پښتون امريکايانو ته کوله، دلته مې ډير وخت تير او ډيري پوښتنې يې را څخه وکړي.

امريکايانو زما څخه معلومات وليکی، او بيرته يې د کندهار مرکزي زندان ته يوړم، دوه مياشتې نور هم د کندهار زندان کې وم، بيا ځل د دوو مياشتو جريان کې امريکايانو پوښتنې ونه کړي.

د ۱۳۸۲ ل کال د حمل مياشتې پر ۸مه ورځ ونيول شوم او د جوزا پر ۳مه، غرمه مهال يې سترګي او لاسونه را وتړل، په موټر کې يې سپور کړم، ماته لاره معلوميدله، پوهيدم چې کوم لور ته مي وړي، يو ناڅاپه موټر بل لور ته وګرځيدی، ما فکر وکړ چې کيدای شي داسي عمل راسره وکړي لکه چې موږ په کليو کې د خلکو څخه اوريدلي وو، يا به مې ژور ځاه ته غورځوي او يا کوم بل عمل کوي (چې مړ به مې کړي)، خو لږ وروسته يې د ملا محمد عمر مجاهد پخواني کور ته وروستلم[6].

له موټر څخه يې کښته کړم، تر دې ځايه افغانانو راوړم، د بل موټر اواز مې هم واوريدی، ورسره جوخت د امريکانو ږغونه هم زما غوږونو ته ورسيدل.

خالد پښتون وويل چې مولوي صاحب! نيم ساعت به ږغ نه لري، امريکايان تا يو ځای ته وړي، که ته وږغيږي هم فايده نه کوي، ځکه چې

[6] کله چې کندهار د امريکايانو لخوا ونيول شو، د ملا محمد عمر مجاهد کور کې د سي آی اې او ځينې د امريکا د ځانګړو ځواکونو مشران اوسيدل. او ياد ځای د کندهار د مرکزي ښار څخه په څو کيلو متره کې پروت دی، له ښار څخه ډير ليري نه دی.

دوی ستا په ژبه نه پوهیږي، ترجمان ورسره نشته. په زړه کې مې را تیره شوه چې ورته ووایم، چې خالد صاحب! ورباندې خرڅ [۷] دې کړم!!! بیا مې ویل چې بندي یم، که دا خبره وکړم او یا نه، فایده نه کوي.

امریکایانو موټر ته وخیژولم، تر شا یې دروازه را پسې وتړله، او موټر کې یې کیسټ په لوړ اواز چالان کړ.

په تړلو سترګو هم لاره راته معلومیدله چې د کندهار هوایي ډګر خواته موټر روان و، د شورآندام کوتل او د هوایي ډګر دروازي ته چې ورسیدو، دغه ځایونه ماته معلومیدل.

هوایي ډګر ته یې ورسولم او موټر ودریدی، د شا دروازه یې خلاصه کړه، ماته نه معلومیده چې څه ډول موټر و، سترګې، لاسونه او پښې یې را تړلي وي، زما پښې یې کښته کش کړي، په دغه وخت کې سپي غپ کړل، د سپي غپ چې مې واوریدی وویریدم، ډول ډول خبرې مې مخکې اوریدلې وي، زما سره هم تشویشونه پیداشول، نه پوهیدم چې په دې وخت کې امریکایانو زما څخه انځور اخیست او یا کوم بل کار؟ زه یې پړ مخې وغورځولم، کالي یې راڅخه وکښل، هغه د خلکو خبره مې یقین شو، چې امریکایان څه کوي؟ دادی زه یې هغه ځای ته راورسولم.[۸]

---

[۷] په کلیوالو او ښاري سیمو کې داسي اوازې وي چې کله مهم طالبان، امریکایانو ته د افغانانو لخوا ور وښودل شي او یا په لاس ورکول شي، په مقابل کې یې امریکایان ډالر ورکوي. والله اعلم.

د امریکا د سي آی اې مامورینو په خپلو خپرو شوو کتابونو کې لیکلي چې کله به پاکستان د القاعده غړي ورته سپارل په مقابل کې به یې پاکستاني چارواکو ته ډالر ورکول کېدل.

۸ خلکو به ویل چې امریکایان له افغان او عرب بندیانو سره ناوړه اعمال تر سره کوي، او د سپي پواسطه یې بې عزته کوي، او یا خو بندي ټینګ وتړي او بیا سپی

لاسونه یې شاته ټینګ را وتړل، هتکړۍ یې ټینګې ورته واچولې، ما زګیروی وکړ، دوی داسی یو بل شي را واغوست چې سر تر پایه یې پکې پټم کړم او ډېر لوی کمیس و.

یو ځای ته یې بوتلم، زما د ګوتو نښې یې واخیستلې، ډاکټر یې راته راوست، هغه د مریضي په اړه راڅخه پوښتنې وکړي ویل یې چې څه مریضي لري، کوم ځایونه دي درد کوي، او ځینې نورې پوښتنې.

لږ وروسته یې د بندیانو بلاک ته بوتلم، د اغزن تار څخه جوړ شوې اطاق کې یې ور وغورځولم، سترګی یې راخلاصي کړي، لاسونه او پښي یې را خلاصې کړي، دوه نور بندیان هم وو، ما چې سترګي روڼي کړي، یو تور رنګه سړی و، د هغه نفر له خبرو معلومیدله چې د وزیرستان څخه و، بل نفر په دغه اطاق کې اشپز (چې په زرمت کې د امریکایانو اشپز و، کوم ملګري یې د غټ رتبه امریکایې دریشي سوځولي وه، هغه تښتیدلی و، دی یې نیولی و) بندي و، دوی ماته وویل چې پورته شه، اطاق ته یې را وستلي، نور سترګې خلاصي (روڼې) کړه، د اغزن تار څخه یې کوټه جوړه کړي وه.

مازیګر مهال یې د تحقیق لپاره له همدې اطاق څخه وایستلم، مستنطق ډول ډول پوښتنې وکړي، یوه پوښته یې دا وکړه چې تاریاک کوم قوم ډیر کرلي دي، ما ورته وویل چې په شاولیکوټ کې د ګل آغا قوم (بارکزیو) ډیر کوکنار کرلي دي.

تحقیق کونکو وویل موږ یوازي تحقیقات کوو، تاسي مه ویریږئ، که مشکل نه وو، شاید ته بیرته خپل کور ته ولاړشي، موږ خپل پوره

---

ور پریږدي چې هغه بندي وداړي (وخوري). او د سپي په واسطه ډول ډول تعذیب بندي ته ورکړي.

تحقيق کوو، موږ ته مطلق طالب مجرم نه دی، او نه هم د طالب په نوم څوک مجرم دی، موږ ستا په اړه بشپړ معلومات کوو، بیرته یې هغه د اغزن تار څخه جوړ شوې اطاق ته را وستلم، تر اطاق پوري یو پښتون ترجمان راسره ملګری و، هغه چې زما دا بد حالت ولید، ډیرخفه شو، او په ټيټ اواز یې راته وویل چې د تحقيق پر مهال لنډې خبري کوه، او د ژباړن دا خبره زما لپاره ډیره ارزښت لرونکي تمامه شوه.

ماښام یې خوب ته پرېښودم، یوه ډله امریکایې عسکر بدل شول، بله ډله، او بیا دریمه ډله چې راغلل، ویل یې ولي ناست یې؟ ومي ویل چې خوب ته مي نه پرېږدي، بیا هغوی ویل چې ویده شه، زه هم ویده شوم.

دلته زما دوه شپې او دوه ورځې تیرې شوې، اشپز او وزیرستانی چې زما سره په یوه اطاق کې بندیان وو، هغه له امریکایې پیره دار عسکرو سره لږ په ژبه پوهیدل، دوی راته ویل چې امریکایان وایې الوتکه راځي او تاسي باګرام زندان ته وړي.

دریمه ورځ الوتکه راغله، سترګې، لاسونه او پښې یې را تړلي وو، ، تر وزرو (تخرګونو) یې ونیولو، ویل به یې چې سر کښته کړه، لاسونو مې ډیر درد کاوو، موږ یې نظامي الوتکې ته وخیژولو، په طیاره کې یې ټينګ و تړلم، زما پر ورنو (پښو) یې یو کیبل تیر کړ، موږ درې سره یې ټيګ وتړلو، طیاري چې لږ مزل وکړ، طیاره به یې لوړه کړه بیا به یې کښته پریښوده، لکه چې الوتکه سقوط کوي، موږ یې ویرولو، دا خبرې ما اوریدلي وي او نه ویریدم، الوتکه کښته شوه، فکر مې کاوو چې د باګرام هوایې ډګر به وي.

## د باګرام زندان

له الوتکې څخه يې کښته او زه يې په موټر کې کينولم ، هغه بل بندي يې موټر ته را وغورځاوو، په ماکې وموښتی، ډير يې خوږ کړم، موټر په کچه سړک روان شو، ډير جمپونه يې کول، يو لوی سالون ته يې بوتلو، هلته يې د کندهار د هوايې ډګر د زندان کالي / جامې راڅخه وايستلې، نوري جامې يې را واغوستلي، پلاستيکي عينکې يې را پر سترګو، لاسونه چې تر دي مهال شاته تړلې وو، مخته يې را وتړل، په اږخ يې پري ايستلو، پښې مو تړولې کړی نيولي وي، ويل يې چې يو او بل لور ته به نه ګورئ، د عينکو تر کونج مي وکتل ماته مخامخ امريکايې ناست و، هغه دوه نفره يې جلا جلا تر ما مخکې وايستل، دريیم زه وم، تر وزرونو (تخرګونو) يې ونيولم، او روان يې کړم، په لوړ اواز يې نارې را باندي وهلې، خو زه هيڅ نه پوهيدم چې څه وايې، يو اطاق ته يې ور وستلم، سترګې يې را خلاصي کړي، يو نفر ولاړ و، ويل يې چې زه ډاکټر يم، ښځې هم وي، هغوی زما د ګوتو نښې اخيستلې، ډاکټر د مريضي په اړه پوښتنې کولې، مخامخ يو غټ امريکايې پوځې ولاړ و، هغه ويل چې ماته به ګوري، په زوره زوره يې نارې را باندي وهلې، ويل به يې چې ماته ګوره، په يوه وخت کې د ګوتو نښې اخيستل، د ډاکټر پوښتنې او د هغه بل امريکايې چيغې چې ماته به ګوري.

د ډاکټر پوښتنې خلاصي شوې ويې ويل چې ويې باسئ، پوځيانو سترګې را وتړلي، تر وزرو يې ونيولم، شاور ته يې ور وستلم، دوه درې دقيقې يې اوبه په ډير فشار (تيزې) راباندي را خوشي کړي وي، په زوره زوره يې نارې را باندي وهلې، بيا يې کالي بيرته را باندي واغوستل، په سترګو يې شيشې را کړي، په کوم اطاق کې يې وغورځولم، لاسونه،

پښې او سترګې مې تړلي وو، بې خوبه وم، ما فکر وکړ چې ماښام دی، همداسي په تړلي حالت کې له زنځيرانو سره بيده شوې وم، سهار يې ډوډۍ راوړه، لاسونه او پښې يې را خلاص کړل، سترګې مې خلاصي شوې، په پښو يې لويې موزي را اغوستي وي لکه کراسته (د پسو له وړيو يو ډول غټې موزي د جنوب کوچيان جوړوي )، هغه يې هم راخخه وکښل، نور کالي يې راته راوړل، او د ګودړ (يو ډول ټينګ ټوکر) بوټونه يې راپه پښو کړل، دوييم منزل ته يې بوتلم، لوی د روسانو د وخت ورکشاپ و، ما چې ودانۍ ته وکتل، مخکې ما د روسانو ودانۍ ليدلي وي، پوه شوم چې باګرام دی، دلته يې د لرګو غرفې جوړې کړي وي، زه يې په يوه غرفه کې واچولم، خبرې او هيڅ اواز نشته، بريښنايې څراغونه روښانه وو، ډير تيز او زياته رڼا يې کوله، وخت هيڅ نه راته معلوميدی، چې شپه ده، ورځ، ماسپښين او يا کوم بل وخت، ډير سرګردانه وم، د لمانځه وخت او د خوب وخت نه راته معلوميدی، نه پوهيدم، که به مو پوښتنه وکړه چې څه وخت دی، هغه به ويل ، نو No، که به مو خبره وکړه، ناري به يې جوړې کړي چې خبرې مه کوه، چوکۍ به يې را واخيستله، زما د لرګي غرفې ته به يې ونيوله او غرفه به يې ټکوله، ټکوله، ډب او ډوب به يې جوړ کړ، اطاق به يې ښه ډير وډباوو چې بيا خبرې ونه کړم.

تشناب ته چې به مو وغوښتل ولاړ شو، لاس تړلي ، پښې تړلي او سترګې به مو هم تړلې وي، دوی به روان کړي وو، يوه پيټۍ (څلورکونجه) ډول پلاسټيکي تشناب وو، څلور طرفه يې ديوال يا پرده نه لرله، يعني دروازه او هيڅ ډول پرده نه وه ، يوائې دغه څلورکنجه پلاسټيکي کموډ رقمه شی به يې په سپين ډاک (ميدان ) کې ايښې وو،

او زموږ سره به یې څادر یا بل هیڅ شي نه پریښود چې د ځان پرده ورباندې وکړو، نورو بندیانو او د زندان پیره دارانو به سړی همداسي لوڅ لیدی. کله چې به یې موږ په کموډ کښینولو ، دوه امریکایان به راته مخامخ ولاړ وو، ویل به یې ژر شه، ژر شه، بیرته به یې ژر را ولاړ کړو. او په تشناب کې اوبه هم نه وې، چې ډیر وخت به ووتی راکش به یې کړو، که پتلون لوړ وو یا کښته دوی پروا پرې نه کوله، که به د چا پتلون نجس کیدی هم، دوی لا خوښاله کیدل.

یو ځل چې یې تحقیقاتو ته بوتلم، هغوی ته مې وویل چې اوبه نشته او د لمانځه وخت نه را معلومیږي، ویې وویل که تاسي موږ ته سم تحقیقات راکړئ، حقیقت راته ووایاست، موږ به هم وخت در وښیو،که احوال سم راته ونه وایاست، د لمانځه و خت هم نه در ښیو، اوبه به هم نه وي، تحقیقات یې دوه اونۍ وکړل، ماته یې وویل چې تاسي خامخا گوانتانامو ته بیایو، ځکه چې موږ ته حقیقي معلومات نه راکوئ، مستنطقینو ته مې وویل چې کوم معلومات مې درلودل، هغه مې درته وویل، له دي زیات زه هم نه پوهیږم.

تحقیق کوونکو به ویل چې اسامه چیرته دی؟ د طالبانو مشر ملا محمد عمر مجاهد چیرته دی؟ دا اوس چې جنگ شروع شوې دا جنگونه څوک کوي؟ او زما (مولانا) سره دغه ډول معلومات بیخې نه وو.

دوه میاشتې یې په کوچنۍ د لرگې غرفه / اطاق کې را باندې تیري کړې، ډوډۍ به یې د لرگو د غرفې په کړکۍ کې راته کیښودله، ماته هیڅ نه معلومیدل، چې ډوډۍ په شپه او ورځ کې یو وار ورکوي، دوه واره او که درې واره، سهار دی، که غرمه او یا ماښام، هیڅ نه پوهیدلم، ورځ او شپه نه راته معلومیدله، چې برق به ولاړی تکه توره شپه به وه، او چې

برق به وو، سپینه رڼا به وه.

دوه میاشتې وروسته یې کښته منزل ته راوستلم، د ازغن سیم څخه یې اطاقونه جوړ کړي وو چې په هر اطاق کې به ۱۰ - ۱۵ کسان زندانیان وو، زه یې هم یو اطاق ته ور وستلم. دومره خوشاله شوم لکه زه چې یې له زندان څخه خوشی کړی یم، ځکه هلته مې نور انسانان (بندیان) ولیدل، په ژبه سره پوهیدلو، خو خبرې له یو بل سره کول منع وي، مګر په پټه به مو کله یو بل سره خبرې کولې، دلته هم موږ ته د لمانځه ټول وختونه نه معلومیدل، ولي چې سهار به شو، رڼا به لږ معلومیدله، موږ به پوهیدو، لمونځونه مو په تیمیم سره کول، د اوداسه اجازه نه وه، ماسپښین وخت به هم راته معلومیدی.

دوه نفره امریکایان به د اطاق مخکې ولاړ وو، زموږ خولو ته به یې کتل، که به د چا خوله وښوریدله، بیا به یې هغه ته وویل چې ستنه آپ! نیم ساعت به بیا هغه سړی ولاړ و، او له ځان څخه به یې لاسونه لیري نیولي وو، په همدې د اغزن تار اطاق کې مې څلور میاشتې تیري شوې.

یوه ورځ د سور صلیب د ادارې لخوا دوه کاغذونه (لیکونه) راغلل، ځینو بندیانو سور صلیب ته شکایت کړی وو، چې موږ ته اوبه نشته، د لمانځه وخت نه راته را ښیې، لمانځه ته مو نه پریږدې.

زه یې شاور (غسل کولو) ته ولاړ کړم، چې هغه خطونه زما په ځای کې وو، دوی چې هغه خطونه ولیدل، فکر یې وکړ چې دغه خبره دغه سړي (مولانا)، سور صلیب ته کړي ده، یوه پوځۍ ښځه وه، هغه ماته ډیره په غوسه شوه، د باندي یې وایستلم او په یو کمربند یې ټینګ وتړلم، زما لاسونه او پښې یې ټول یوځای له یو بل سره ټینګ وتړل، چې کمربند یې ټینګ کړ، کونجلک شوم او بیا یې کوم بل اطاق ته ور

وغورځولم. ما کله هم سور صلیب ته شکایت نه وو کړی، ناحقه یې دغه ډول سخته شکنجه راکړه.

د روژې مبارکه میاشت وه، چې ماښام یې زه راخلاص کړم ( په دي وخت کې د حاجي مولانا صاحب د هغه وخت سخت دردونه ور یاد شول، ژړا ورغله، ویل یې چې ډیره سخته او ناحقه شکنجه وه)، په دي ډیر خفه وم چې ناحقه شکنجه او بیا دومره سخته شکنجه یې ماته ولي راکړه؟

زه ډیر خفه وم، ملګري مي وویل چې خیر دا پیښیږي ( حاجي مولانا صاحب ته بیا ژړا ورغله)، ما (مولانا) ویل چې روژه ده، زندان دی، او بیا دومره سخته او ناحقه شکنجه؟

چې د روژه مات وخت به شو، یوه خُرما به یې راکړه، ډوډۍ به یې نه راکوله، ویل به یې چې د ډوډۍ وخت نه دی پوره شوی، بیا به یې نا وخته په کڅوړو کې یو رقم سره ډوډۍ راوړه، هغې به بوی کاوو، دوه ډوله بې خونده او لږ خوراک به و، چې یو د چرګ غوښه وه، ډیر خراب خوراک و، هغه به مې نه خوړله، په یو کوچنې قطعي (ډبي) کي به څو دانې ممیز (کشمش) وو، او په بل قطعي کې به څو داني د لمر مخي زړي / زنې وو، هغه به مې وخوړل، ګوزاره نه وربانديي کیدله، د چرګ غوښو به ډیر بد او سوړ بوی کاوو، ما نه خوړله، ولي بل ملګري بیا غوښه خوړله، هغه ته به مې غوښه ورکړه، او هغه به هغه دوه قطعي ( ممیز او زنې) ماته راکړل، دوه کوچني بیسکوټونه به هم وو، ډیر کلک به وو، دومره کلک چې ما په خپلو کمزورو او خرابو غاښونو نه شوای خوړلای.

د روژې میاشت تر شلم هم واوښتله، بیا امریکایانو تحقیقات شروع کړل، ځینو بندیانو به ویل چې موږ پریږدي، ځینو به ویل چې بل ځای

ته مو انتقال کوي.

د روژې ۲۷مه ورځ چې سهار لمونځ مي وکړ، د یوه یوه بندي نوم به يې اخیست او هغه به يې ولاړاوو، زه يې هم ولاړ کړم، شاور ته يې بوتلم، هلته يې ژیره را وخریله، سترګې يې را وتړلي، نور کالي / جامې يې را باندي واغوستل، دا ځل يې بل اطاق ته بوتلم، لږ وروسته يې نور بندیان هم را وستل، موږ يې ټول اتلس  بندیان همدلته سره یو ځای کړو، موږ پوه شوو چې ګوانتانامو ته مو استوي، ځکه هغه کسان چې ګوانتانامو ته به يې بیول، هغوی ته يې ژیرې ور خریيلې، او هغه کسان چې کور ته يې پریښودل، هغوی ته يې ژیرې نه ور خریيلې، دلته مو ښه ډیر انتظار وکی، بیا يې یو غټ موټر ته وخیژولو، په کچه  (خامه سړک) کې موټر روان وو، الوتکې ته يې  ور وخیژولو، او ټینګ يې پکې وتړلو. زما پر سر يې یوه خولۍ را اغوستي وه، د هغې سربیره يې زما پر سترګو عینکې ټینګې را وتړلي، لاسونه يې را وتړل، د لاسونو ترمنځ يې یو بل ځنځیر کش کړ، هغه به يې د چوکۍ په شا پسي قلف کړ، په دي وخت کې ماته څه نا امیدي پیدا شوه، چې ګوانتانامو لیري ځای دی، بیا خدای خبر چې سړی به کله بیرته خپل هیواد او کور ته راځي، او دا چې ګوانتانامو ته کوم بندیان وړي، هغه نو حتمې ده چې د ډیر وخت لپاره به هلته وي، که داسي نه وي نو د څه له پاره يې هلته وړي؟

ناامیدي ډیره وه، چې بیا به کورته سړی راشي که نه، خو نور بیا ډیره اندیښنه راسره نه ه، ویل مي چې ښه ده، په زندان کې به مطالعه وکړم، کتابونه به ووایم، او قران کریم به ښه په تجوید سره زده کړم، دا خبرې مې اوریدلي وي چې د قران کریم زده کړه او حفظ او د کتابونو مطالعه هلته کیږي، په دي مې ډیر طبیعت برابر و.

## د ګوانتانامو زندان

د ورځي ۹ او یا ۱۰بجې الوتکې د باګرام هوایې ډګر څخه الوت وکړ، د شپي کوم ځای کیناسته، له لنډ وخت وروسته یې بیرته پرواز وکړ، ممکن چي تیل به یې ورته اچول، موږ ته یې لږ کیک د خوړلو له پاره راکی، هغه هم ترجمان په خوله کې را کاوو، ځکه زموږ لاسونه تړلي وو، تر کیک راکولو وروسته یې وویل چې د خوب ګولۍ خوري، ورته مي وویل چې هو، ګولۍ مې وخوړله، شپه تیره شوه، بله ورځ او بله شپه هم تیره شوه، دریمه ورځ ماسپښین مهال ګوانتانامو ته ورسیدو.

کله چې یې موږ له الوتکې څخه کښته کولو، سپې ډیر زیات غفل، خو موږ پوهیدو چې سپی کار نه را لري، یواځي غاپي.

غټ موټر ته یې وخیږولو، موټر ګړبیدی، جمپونه یې کول، یو ځای بیا داسي وو لکه چې موټر په کښتۍ کې وي، نه ګړبیدی، بیا چې کله له کښتۍ څخه خلاص شو، بیا یې ګړبې شروع شو، موټر روان و، چیرته چې یې موږ له موټر څخه کښته کړو، هلته شګې هوارې وي، موږ یې لمر ته کینولو، عسکرو اوبه راوړي، ناري یې وهلی چې واټر واټر، یوه ملګري وویل چې زما خو روژه ده، هغه ته مو وویل چې دوه شپې او ورځې تیري شوې، هسي اوبه وڅښه.

لمر ته تر لږ کیناستو وروسته یې کوچني روغتون ته ور وستو، هلته یو لوی سالون او په هغه کې د نه تشنابونه وو، د باګرام زندان کالي یې راڅخه وکښل، شاور ته یې بوتلو، نور بوټونه یې راکړل، په لویو بروشونو یې پریوللو، بروشونه یې زموږ په بدن پسي ټینګ ټینګ موښل، بیا یې وروسته ډاکټر ته را وستلو، ډاکټر پوښتني کولی، چې کوم مرض خو به

نه لري، په کور کې خو به مو توبرکلوز مريضي يا داسی بله خطرناکه مريضي نه وه، بيا يې له ډاکټر څخه را و ايستلم، په يو کوچني موټر کې يې کښينولم، چې تحقيقاتو ته مي يوسي، په دغه وخت کې مې ځلانده لمر ته فکر شو، گرم باد راباندي لگيدی، ماسپښين مهال و، د لمر په ليدو او داچې سترگې مې خلاصي دي خوشاله شوم، هيڅ خفگان مي نه دی کړی، تحقيق ته يې بوتلم، هلته يې په يو کوچني اطاق کې کينولم، وار له مخه يې ايرکنډيشن چالان او ډيره سړه هوا يې را باندي را پريښودله، دا يې د بندي لپاره جزا وه، ، ايرکنډيشن ډيره يخه هوا کوله، لږ ځنډ وروسته مې لاس وښوراوی، څنگ ته يوه ډبله شيشه وه، يو سړی راغی، هغه راته وويل چې له ايرکنډيشن څخه ډير په عذاب يې؟ بيا يې سړه هوا لږ کمه کړه.

درې نفره راغلل، يو ژباړن او دوه امريکايان وو، زما محقق جاني نوميدی، هغه له ما سره سم چلند وکړ، هغه ويل چې د کندهار او باگرام تحقيقات ماته په درد نه خوري، ماته نوی تحقيق راکړه، جانې ته مې وويل چې زما همهغه تحقيقات/خبرې دی کوم چې مي په باگرام کې ورکړی، خپل تحقيقات يې وکړل، پوښتنې يې کولې، بيا يې وويل چې باگرام څنگه ځای وو، ورته مي وويل چې باگرام ډير وحشي ځای وو، جانې وويل چې گوانتانامو سم ځای دی، دلته به اوبه وی، لمونځ به کوئ، او سمه ډوډۍ به درکوي، دلته په جماعت لمونځ او دلته د خبرو اجازه شته، بس تشويش مه کوه، له دغه ځای  څخه يې را وايستلم، ماخوستن و، په يوه غرفه کې يې ور دننه کړم، په غرفه کې اوبه وي، يو څه غورمه ډوله غوښې پرتې وي، زښت زيات خوشاله شوم، ومې ويل چې کاشکي هغه نور بنديان چې په باگرام کې دی، هغه هم دلته گوانتانامو ته راوستل شوې وای.

یوه میاشت یې زما څخه تحقیق وکړ، موږ یې په بندو او قلف شوو کوټو کې ساتلي وو، یوه میاشت وروسته یې له دغه ځایه و ایستلو، موږ ټول هغه اتلس نفره چې له باګرام زندان څخه یې را وستلي وو، سره یوځای شولو، بل بلاک ته یې یوړو، هلته مو پنځلس یا زیاتي ورځې تیرې کړي، پس له هغه یې له نورو زړو بندیانو سره یوځای کړو، چارلي بلاک ته یې بوتلو، همدې بلاک ته یې ابو محمد هم را وستی، ملامحمد فاضل اخوند (د طالبانو د نظام پر مهال لوی درستیز) هم و، ځینې نور شناخته ملګري (طالبان) هم وو، وروسته یې نور بندیان هم را وستل، چارلي بلاک یې له بندیانو ډک کړ، دلته اوسیدو، موږ نوي او زاړه بندیان یې سره ګډ کړو.

اوازه شوه چې د پنځم کیمپ په نوم بل بلاک جوړیږي، هغه به ډیر سخت ځای وي، وروسته یې ځینې عربان او افغانان ۵ کیمپ ته یوړل، زه یې څه وخت وروسته څلوم کیمپ ته وروستم، هغه بیا لږ تر دا نورو بلاکونو ښه و، هلته مې ډیر وخت تیر کړ، څو میاشتي هلته وم، زه او ضعیف صاحب په یوه کوټه کي وو.

زموږ څنګ کې د عبدالرحمن په نوم یو تن پروت و، چا ویل پاکستانی ده، چا ویل افغانی دی. یو ځل یې تحقیق ته بوتلم، ماته یې وویل چې دغه کس پیژنې؟ د طالبانو په وخت کې یې کار کړی دی کنه ؟ ما ورته وویل چې زما څخه زما اړوند پوښتنه کوئ [۹]، د هغه

---

[۹] د ۲۰۱۸ کال د مارچ میاشت کې ما (لیکوال) ته ښاغلي ضعیف صاحب وویل: "په ګوانتانامو کې یوه بندي د بل بندي په اړه محقق ته خبرې نه کولي، بلکې محقق ته به یې ویل چې زما په اړه کومه پوښتنه وي، هممغه پوښتنه را څخه وکړئ، او ددې لامل دا شو، چې تر پایه پوري ځینې ډیر مهم او لوړ پوړي طالبان هم

(عبدالرحمن) څخه  د هغه په اړه پوښتنه وکړئ.

امریکایانو ونه پیژندل، چې یو د هغې جملې څخه ملا عبدالقیوم اخوند و، هغه خپل نوم بدل کړی و، او نه یې منله چې هغه لوړ پوړی طالب دی، دا ډول نورو بندیانو چې هغه پېژندی، هیڅ بندي امریکایې محققینو ته ونه ویل چې همدا کس ملا عبدالقیوم اخوند دی، طالب زندانیانو د بل بندي په اړه حتی د هغه اصلي نوم هم امریکایې محققینو ته نه اخیست، ځکه بندیان نه پوهیدل چې طالب بندي به امریکایانو ته کوم نوم ور ښودلي وي، او دا تاریخي خبره ده چې په گوانتانامو کې طالب بندیانو د کوم بل طالب بندي په اړه ، چې هغه به یې له نږدې ښه پېژندی، نه خو یې امریکایې محقیقنو ته معلومات ورکړ او نه یې د بل بندي په اړه ډیر لږ څه هم ورته وویل، بلکې هر بندي به امریکایې محقق ته ویل چې یوازي د خپل ځان په اړه معلومات درکوم، د نورو بندیانو په اړه معلومات نه لرم. "

د مارچ ۲۲مه ۲۰۱۸، مولانا عبدالرزاق فتاحي ما (لیکوال) ته وویل: "لومړني کسان چې په شمال کې ونیول شول، پنځه تنه (ملا محمد فاضل اخوند، ملا نورالله نوري، مولوي عبدالحق وثیق، ملا عبدالقیوم ذاکر او د وثیق اخښی روحاني) وو. دوی یې لومړی د کراچې بحر ته نږدې یوړل، ځکه د گوانتانامو زندان لا نه و جوړ شوی، بیا یې بیرته کندهار هوایې ډگر ته راوړل او له هغه وروسته یې گوانتانامو ته یوړل. ذاکر ویل چې له مزاره تر کراچې بحر پوري چې الوتکه کې موږ وو، امریکایانو به هر ځل بږغ کاوو چې ذاکره، خو ما به هیڅ نه ویل، او خپل نوم مې عبدالله ورته ښودلی و، کله چې یې موږ گوانتامو ته وړلو هم به یې د ذاکر په نوم په ما باندي بږغ کاوو، خو ما به هیڅ ځان نه پوه کاوو، او په گوانتانامو کې یې هم دا ډول کول، ولي نه مې خپله ورته ومنل او نه هم کوم بل طالب ورته وښودلم چې زه ملا عبدالقیوم ذاکر یم، او بیا وروسته ملاقیوم ذاکر د عبدالله په نوم له زندان څخه خوشی او د طالبانو نظامي لیکه یې بیاځل ډیره قوي کړه. "

ملا عبدالقیوم ذاکر چې کله له گوانتانامو را خلاص شو، بیرته د طالبانو سره یو ځای، د طالبانو د مشرتابه له خوا د ټولو طالبانو نظامي مسؤل وټاکل شو، او د ده د نظامي دندې پر مهال جگړو ډیر زیات شدت پیدا کړ.

محقق ويل نه، دا خبره درسره نه منم، دا دی کیمپیوټر مي راوړی، ستا درواغ او رښتیا زه معلوموم، محقق لاړي نومیدی، ویل یې چې نعیم کوچی مي خوشی کړ ، فلان او فلان مي خوشي کړل، که تاسي رښتیا راته وویل تا هم خوشی کوم.

څلور او پنځه پوښتنې یې وکړي او بیا یې وویل چې عبدالرحمن ته پیژني؟ ورته مې وویل چې هو پیژنم یې، زما تر څنګ بندي دی. محقق وویل، داسي نه، دا راته ووایه چې په افغانستان کې په طالبانو کې وو کنه؟ ورته مې وویل زه نه یم خبر، لاړي وپوښتل: په افغانستان کې یې له طالبانو سره وظیفه اجراکړی ده کنه؟ ما ورته وویل: زه نه یم ورباندی خبر.

لاړي محقق د باندي ووتی، کیمپوټر یې ورسره واخیست، بیرته چې راغی، ماته یې وویل چې تا ماته درواغ ویلي دي، ورته مي وویل: که دا ستا کیمپیوټر داسي درواغ معلوموي، ورشه دهغه سړی (عبدالرحمن) په غاړه کې دغه دکیمپیوټر ګوشي ور واچوه، د هغه درواغ دی معلوم کړي، زما درواغ ولي معلوموي؟ پر دي خبره مو سره جنجال شو، زه یې جزایې له څلورم کیمپ څخه څلور میاشتي و ایستلم. داسي جزایې شوم چې یوه غرفه وه، یوه کیمپله یې راکړي وه، د شپې هوا لړ سړه وه، د غرفې لاندي برخه اوسپنه وه، کیمپله هم ډیره نازکه وه، څلور میاشتي مي دغسي سختي ورځې او شپې تیري کړي، له ۴ میاشتو جزا تیرولو وروسته بیرته اول درجې جزا ته را ورسیدم، زه یې څلورمه درجه جزایې کړی وم، هغه سړی (عبدالرحمن) [۱۰] چې زما څخه یې دهغه په اړه

[۱۰] د مارچ ۲۲مه، ۲۰۱۸، افغان بنسټ کې مولانا فتاحي ما (لیکوال) ته وویل چې عبدالرحمن هغه سړی و چې کابل کې د طالبانو د نظامي محکمې رئیس و، خو عبدالرحمن اغا دا خبره امریکایانو ته نه منله چې هغه له طالبانو سره کار کړی،

تحقیقات کول، هغه یې خوشی کړی و، خو ماته یې د هغه پر سر څلور میاشتې جزا راکړه.

د سختې جزا ورکولو له پاره ځانګړي دغه ډول نږدې ۱۵ لوی ځایونه وو، زه هم په یو له همدغو بلاکونو کې جزایې شوی وم، چې نوم یې اوس راځخه هیر دی.

څه موده وروسته قران کریم ته د امریکایانو لخوا د سپکاوي له امله بندیانو مظاهره وکړه، درې عربانو ځانونه ځوړند او مړه شول،

بندیانو او امریکایانو تړون درلود، بندیانو له امریکایانو سره ژمنه کړې وه چې له نامه لاندې تر ځنګنو پورې، د بدن په دې برخه کې به شی نه ساتي، او په قران کریم کې به کاغذ نه ږدي، خو امریکایان به راغلل، یا به یې د دغو ځایونو (ستر عورت) تلاشي اخیستله او یا به یې د قران کریم د پاڼو منځ کې تلاشي کوله، بندیانو ورته ویل چې تاسي له موږ سره تړون کړی، دا کار مه کوئ، ټول جنجالونه د قران کریم پر سر کیدل، مظاهره دې حد ته ورسیدله چې ۳ بندیانو ځانونه ځوړند او مړه شول.

وروسته یې همدې د بندیانو غرفو ته نوی عسکر د نظارت لپاره را وستل، لږ سهولت راغی، دا نوي عسکر په خړو دریشیو کې وو، هغه پخوانیو پړانګې دریشې درلودلې، نوو عسکرو د بندیانو سره ښه ګوزاره کوله، کیمپلې یې ور پریښودلې. درې عربو د خپلې غرفې څلور طرفه کیمپلې ځړولې وې، پښې یې تړلې وې، بیا یې غاړو ته هم چل جوړ

بلکې ورته ویلې یې وو چې د عبدالرحمن په نوم ډیر کسان شته، او زما نوم هم عبدالرحمن دی. هلته نورو بندي طالبانو هم هیڅا امریکایانو ته ونه ویل چې همدا هغه عبدالرحمن اغا دی چې د کابل نظامي محکمې رئیس و.

کړي وو، غاړې یې هم تړلي وي، او د غاړو تړلو له پاره یې هم ځان ته رسی له خپلو پټو (څادرونو) څخه جوړې کړي وي، عسکر ورباندي نه وو خبر شوي، په دي ډول هغوی ځانونه وژلي وو.

سهار مهال عسکر خبرو شول چې درې عربو ځان وژنه کړي، له دي وروسته یې اته میاشتي پر موږ بندیانو ډېره سختي را وستله، نه یې د باندي پرېښودلو، ماخوستن چې به د خوب وخت شو، یوه بجه به شوه، پوځیانو به ځنځیران راوړل (چې کوټې به یې تلاشي کولي، بندي به یې له کوټي څخه د باندي ایستی، او پښې او لاسونه به یې په ځنځیرانو ور تړل) ، ټوله شپه به یې د بندیانو غرفې تلاشي کولي، دا هر څه او دا سخت حالت هم تیر شو. پوره اته میاشتي همدغه حال و.

یو وخت زما غاښو وینه کوله، شکایت مي وکی چې غاښونه مي وینه او دردکوي، د سیګال په نوم نرسان په اونۍ کې دوه ځله په بندیانو ګرځېدل، هغوی ته مي شکایت وکړ، چې کوم شي څښم یا خورم، خوله کې مي وینه راشي، ډاکټر ته یې بوتلم، هلته به یې د مریض په کټ باندي موږ پري ایستلو، پښه او لاس به یې باالعکس (راسته لاس، چپه پښه، چپه لاس راسته پښه) ټینګ په کټ پوري وتړل، ماته ډاکټر وویل چې ستا یو غاښ کښل غواړي، ستا مشکل له دغه غاښ څخه دی، ورته مې وویل سمه ده، غاښ مې راته وباسئ، دا کار یې ونه کړ، غاښ یې ونه کیښ، بیرته یې غرفې ته را وستم، ۹ میاشتي وروسته، د شپې یې لاسونه او پښې په ځنځیرونو را وتړل (په اطاق کې موږ تړلی نه وو)، د زندان د ننه هغه کوچني روغتون ته یې بوتلم، ډاکټر ویل تاسي شکایت کړی وو، هغه ته مې وویل چې نه میاشتی مخکې وو، اوس مې غاښ لږ ښه شوی، خو ډاکټر وویل چې دا غاښ وکاږي ښه دی، هغه

غاښ لږ مات هم و، همدا لږ مات شوی غاښ مې په ګوته ورته وښودی، ولي هغوی ظالمانو زما د خراب غاښ پر ځای روغ غاښ راښخه کښلی و.

زما ښخه يې نيښ (انياب) غاښ، چې ډير کلک غاښ دی، همدا غاښ يې راښخه کښلي و، خراب غاښ په زامه کي پاتې و، بيا يې وروسته هغه نيم مات شوی غاښ هم را ښخه وکښی، او له دي وروسته يې زه د عربانو بلاک ته را وستم، د دردونو له امله مې تبې وي، ډير تکليف وم، عربانو به راته ويل چې الله ﷻ دي شفا درکړي، دا پيښيږي، اطمنان يې راکاوو.

يو ځل بيا مظاهره وشوه، د بنديانو او امريکايانو تر منځ جنګونه ډير کيدل، دلته مي هم وخت تير کی، بيا يې څلورم کيمپ ته بوتلم، هلته وم، بنديانو بيا له عسکرو سره جنجال وکی، بيرته يې زړو بلاکونو ته چې يوه يوه غرفه وه هلته را نقل کړو، کيسه لنډوم، خبرې خو ډيري دی، ژباړن له يو بل امريکايې سره راغی، ماته يې وويل چې دغه امريکايې ستا وکيل دی، د بحري قواوو نظامي صاحب منصب دی، دوی د (ټابينال) نوم ورته اخيستی، امريکايې راته وويل چې محکمې ته به راځي، که خپله راځي هم، او که ته رانه شي، موږ ستا په غياب کې فيصله کوو، چې هر ډول فيصله مو وکړه؟ ويې ويل ته راځي که څنګه؟ومي ويل چې زما وکيل خو به زما په خوښه وو، داخو نظامي سړی دی، د حکومت طرفداري کوي، امريکايې وکيل وويل چې نه! داسي نه ده، ما ورته ويل چې سمه ده زه راځم، مخکې له تګ ښخه يې پنځلس سوالونه راوړل چې جوابونه ورته وليکم، ما ورته وويل چې زه يې هلته سوال په سوال ځواب درته وايم، ليکلای يې نه شم، څو

ورځي وروسته يې ځينځران راوړل (چې پښې او لاسونه يې پرې راوتړل) بويې تلم، ماته يې وويل چې ته حاضر يې چې سوالونو ته ځوابونه ووايې؟ ومې ويل هو، ورته مې وويل چې د سوالونو جواب کول ماته څه فايده کوي؟ ژباړن ويل ستا پکې فايده ده، يوې کوټې ته يې بوتلم، په چوکۍ يې کښينولم، لاسونه او پښې مې تړلي وو، دلته يوه مختبله (غټ ميخ) وه، زما پښې يې په ميخ پسي قلف کړې، لاسونه مې هم تړلي وو، څنگ ته مې ژباړن کښيناست، څلور پنځه نور کسان را ننوتل، يوه پکې ښځه وه، چې د کرنل نښان يې درلود، دوی ډير رږغ او دارو مدار نه درلود، هلته لوډ سپيکرونه وو، دوی په کمپيوټر کې زما د خبرو کمپوز هم کاوو.

امريکايې وکيل به سوال کاوه او ما به ځواب ورکاوه، بيا هغې ښځې هغه بل نفر ته وويل چې ته خو به اعتراض نه لري، که به يې اعتراض درلود ما به ځواب ورکی، په اخر کې يې راته وويل چې درې څلور مياشتې وروسته به تاته يو کاغذ راشي، يا به ته خپل کور افغانستان ته ولاړشي او يا به شپږ مياشتې دلته پاتې يې، يا به دی د افغانستان حکومت ته سپارو، ډير وخت وروسته يې زه يوې کوټې ته بوتلم، چې يو زوړ محقق او يو ژباړن ولاړ وو، هلته کوچونه ( چوکۍ) ايښې وو، ميوه هم وه، چاى هم پکې ايښی و، هغوی به ماته ويل چې تير وختونه هير کړه، اوس څه چل کوي؟ ما ورته وويل چې خپل کور ته به ولاړ شم او خپله گوزاره به کوم، خپل عيال (اولاد) ته به نفقه برابروم، بيا به يې ويل چې رښتيا ووايه ته به څه کوي؟ ما به ورته ويل چې زه ولاړشم، تجارت کوم، ويل يې چې مالونه به دکوم ځايه راوړې؟ يو ځای به مې ورته ياد کی، يا به مي و رته وويل چې په خپل ولايت کې يې رانيسم،

بهانه به مې ورته وکړه، بله ورځ یې وویل که ته افغانستان ته ولاړ شي، او تاته د ملا محمد عمر مجاهد نماینده راشي، پیغام درته راوړي، یا تا وغواړی، یا درته ووایې چې راشه جهاد وکړه، ته څه ورته وایې؟ فوراً مې ورته وویل چې زه دغه سړی پولیسو ته په لاس ورکوم، په دی شرط چې حکومت زما حمایت وکړي، یو دار او مدار مي کاوه (د ځان خلاصیدو په هدف مې دا خبره ورته کوله)، ده راته وویل گوډ گوډ، دغه اصلي خبره ده. وخت په وخت درې څلور میاشتي دغه زاړه سړي پوښتنې راځخه کولي، بیا به یې عکسونه راوړل، چې په افغانستان کې دغه خلک (طالبان) هلوکان وژني، نجوني وژني مکتبونه سوځوي، ما به ویل چې دا خو بیخي ناروا کار دی چې هلوکان او نجوني وژني، بیا به مې ور زیاته کړه چې دا نو ولي وژني؟ ویل یې د کرزي په خاطر طالبان کوچنیان وژني، ما ویل چې کرزي دي له حکومت څخه تیر شي، چې د ده په خاطر خلک (طالبان) کوچنیان وژني، طالبان هم ناروا کوي، چې کوچنیان وژني، او کرزی دي هم له دي حکومت څخه تیر شي.

محقق وویل چې ته له حکومت سره مرسته وکړه، ورته مې ویل چې زه له حکومت سره څه ډول مرسته وکړم؟ که په اقتصادي برخه کې اړتیا وي، خو د نړی څخه افغانستان ته اقتصاد پوهان راغلي، که ته وایې چې د حکومت په گټه جگړه وکړه، زه خو نظامي سړی نه یم، او نه هم ما جهاد کړی، نه په توپک پوهیږم، نه مي ټوپک کارولی دی[۱۱]، که خوشی شم نو زه ځم خپله غریبي به کوم، د دغو محقیقینو هم شک

[۱۱] له بند څخه خوشي کیدو لپاره یې دا خبرې کړي وي، حاجي مولانا صاحب د مولوي خالص بابا اړوند جبهه کې مجاهد پاتې شوی دی.

راڅخه وختی، اخر دوی هم دغه نظر ورکړی وو چې سړی خوشي کړئ، هیڅ لا هم نه شي کولای.

څلور میاشتی وروسته ماته یو امریکایې خبر راوړ چې زیري درکوم چې ته خوشی کیږي، خپل کورته به ځي، ویل یې خوشاله یې؟ ومې ویل هو! خوشاله یم. د اخطار په ډول یې دوې خبرې راته وکړې.

ویې ویل: که بیا ته موږ د القاعده او یا طالبانو په تور ونیولې بیا ستا خلاصیدل نشته، دا خبري ته مني کنه؟

١ - د طالبانو سره به ستا اړیکې نه وی.

٢- د القاعده سره به دي اړیکې نه وي.

درې یا څلور ورځي وروسته د سور صلیب کارکوونکي راغلل، ویل یې چې ته او فلان - فلان موږ سره یو ځای کوو، بیا به مو له ګوانتانامو څخه افغانستان ته وړو، څه موده وروسته یې ماښام موږ څو تنه بندیان سره یو ځای کړو، په یو غټ ملي بس ډوله موټر کې یې کینولو، د موټر شیشو ته تور پلاستیک ورکول شوی وو، د کوم بریښنایې څراغ رڼا به معلومیده، د هر نفر سره یو عسکر ناست و، زموږ پښې او لاسونه یې تړلي وو، پنځه نفره (مولوي محمد شریف د شبرغان، حاجي آمین الله د کندز، عبدالغني د بولدک، یعقوب خان د بغلان، او زه مولانا) وو، ټول یې د طالبانو په تور نیولي وو، لږ وخت وروسته داسي ښکاریده لکه چې موټر په کشتي کي وي، هوایې ډګر ته را ورسیدو، ټول بریښنایي څراغونه یې مړه کړل، هلته لویه نظامي الوتکه ولاړه وه، دلته چې یې له موټر څخه کښته کړو، داسي سخته تلاشي یې را څخه وکړه ، چې په خوا دوی نه وه کړي، طیارې ته یې پورته کړو، سترګې، لاسونه او پښې

يې ټينګې ټينګې را وتړلې، په چوکۍ پسې يې هم وتړلو، د شپې ۱۲ يا يوه بجه به وه، چې طيارې پرواز وکړ، په طياره کې نظامي عسکر هم وو، د هغوی بستري او بکسونه هم ورسره وو، د طياري په مينځ کې چوکۍ وې، موږ يې پکې وتړلو، شپه تيره شوه، ورځ، بله شپه، دا بل سهار الوتکه کښته شوه، چې سترګې يې راخلاصي کړي، ومي کتل چې د باګرام غر مې وليد او وپيژندی.

زموږ د سترګو انځورونه يې واخيستل، بيرته يې سترګې را وتړلي، بيا يې په يوه موټر کې سپاره کړو، چورلکې ته يې وخيژولو، کله چې کوم ځای کې چورلکه کښته شوه هلته مو افغان عسکر هم وليدل، موږ نه پوهيدو چې دا کوم ځای دی، برجونه او بلاکونه ښکاره کېدل، له افغان عسکر څخه مو پوښتنه وکړه، هغه وويل چې دا ځای د پلچرخي زندان دی.

## د پلچرخې زندان

موږ د ګوانتانامو څخه را خوشي شوې بنديان يې پلچرخي زندان ته ور داخل کړو، دوې مياشتې په کندهار محبس کې، شپږ مياشتي باګرام زندان کې، څلورکاله دګوانتانامو زندان کې او څلور مياشتې مې د پلچرخي زندان کې تيرې کړې.

د پلچرخی زندان بنديان يې په دوه برخې ويشلي وو، يوه برخه بنديان يې په کورنيو چارو وزارت او بله برخه بنديان يې په دفاع وزارت پوري تړلي وه، موږ د دفاع وزارت اړوند وو، دلته هم امريکايانو زموږ څارنه کوله، موږ چې يې را وستلو، ډوډۍ او د عسکرو چلند ښه وو، دلته ډيرې ستونزې نه وې، يوه مياشت کوټه قلف وو، سره کالي يې را اغوستي وو، زموږ فکر دا وو چې امريکايان غواړي چې موږ

وازمويې، چې دوی له افغان امنيتي کسانو سره څه ډول گوزاره کوي؟ موږ هم ښه گوزاره کوله، يعنی که چيري موږ دلته جنجال کړی وای، هغه نور د گوانتانامو بنديان يې ممکن بيا افغانستان ته نه وای راوستلي، داچي موږ پنځه کسانو ښه گوزاره وکړه، تر موږ وروسته يې بله ډله بنديان هم را وستل او له هغه وروسته يې بل گروپ بنديان راوستل او همدي لړۍ دوام درلود.

## خوشي کېدل

په پلچرخې زندان کې له څلور مياشتو تيريدو وروسته يې د لوی اختر په شپه خوشی کړم .

په ارگ کې کارکونکي صالحي ماخوستن مهال خوشال مېنې کې د مولوي وکيل احمد متوکل کور ته را وستلم، متوکل صاحب ته يې وويل چې يو کال به ستا په ضمانت کي وي، له يو کال تيرولو وروسته بيا هم دلته کابل کې پاتي شوم، کندهار ته نه ولاړم، کور مي د کندهار څخه کابل ته را وستی.

خدای ج دي نور بنديان هم خپلو کورونو ته راولي، هغوی هم په تکليف دي، گوانتانامو کې ځينو بنديانو به ويل چې نظر بند وای خو چې له دغه ځای څخه وتلي وای، ځينو به ويل چې داسي شوې وای

لکه ملا عبدالسلام ضعیف [۱۲] چې کابل کې نظر بند دی، موږ هم په هیواد کې نظر بند ساتل شوې وای، له خپلو اولادو او کورنۍ سره خو به وای، شاید دوی یې هم را نقل کړي وای، خو مشکلات نور ورته مخکې راغلل، چې ځینې لا هم په گوانتانامو کې پاتې او هغوی ډیر عاجزه خلک دي. ولی ښه شو چې پنځه نفره تبادله شول او قطر کې له خپلو کورنیو سره یو ځای شول [۱۳].

[۱۲] ملا عبدالسلام ضعیف چې له گوانتانامو څخه را خوشی شو، د یو کال لپاره په کابل کې نظر بند وساتل شو، او بیا یې وروسته په هیواد کې د تگ او راتگ اجازه درلودله، چې موده وروسته بیا بهر هیوادونو ته هم د تگ اجازه ورکول شوه. او تر دي مهاله یې کور تر امنیتي څار لاندي دی. یو ځل (٦ دلو ۱۳۸۹ ) امریکایانو غوښتل چې د هغه کور ته د دیوال د لاري ور واړي، خو د ضعیف صاحب ساتونکو یې مخه ونیوله، د هغه پر کوردویم ځل (۳ مرغومي ۱۳۹۵ ) حمله وشوه، یو ساتونکی یې ورته وواژه او برید کوونکي وتښتېدل، همدارنگه دریم ځل (۱۷ مارچ ۲۰۱۹ ) یې پیا پر کور د ملي اردو لخوا چاپه وهل کېدله، چې ضعیف صاحب پر وخت له حامد کرزي او ځینو قوي سیاستوالو سره اړیکې ونیولې، د هغه پر کور د چاپې وهلو خبر ډیر ژر طلوع او کابل نیوز ټلویزونو خپور کړ، همهغه وو چې د حامد کرزي له لوري د دفاع وزیر اسدالله خالد سره تر اړیکو نیولو وروسته وضعیت نورمال شو.

[۱۳] د طالبانو سره د امریکایې بندی پوځي بوبریگډال سره د گوانتانامو ۵ تنه بندیان (ملاخیرالله خیرخوا، ملا نورالله نوري، ملا محمد فاضل اخوند، ملا عبدالحق وثیق او حاجي محمد نبي عمري) تبادله ( په ۳۱ مئ خوشي شوو، او په ۱ جون ۲۰۱۴ قطر ته ورسیدل)، له هغوی سره په لیدلو او له قطر هیواد څخه بهر ته وتلو باندي یې

**بده خاطره:**

چې د خراب غاښ پر ځای امریکایي ډاکټر زما سم غاښ راځخه وکيښ، بل داچې د بل بندي پر ځای یې زما څخه تحقیقات کول، زه یې ٦ میاشتې د هغه پر سر جزایې کړم، مګر هغه خوشی هم شو. زه یې په خوشي کېدو خوشاله وم.

زما ملګری ملاعبدالغفار اخوند چې د شاولیکوټ ولسوالۍ د کجورو د کلي اوسیدونکی و، دولس ورځې یې د سړې هوا (اېر کنډیشن) پواسطه یخی کاوه، ماسپښین به یې یوړ، ماخوستن به یې ۱۱ بجې یخ او مښتی بدن راوړ، د هغه پر بدن به یې اوبه توی کړې وې، ایرکنډیشن به یې ورته چالاند کړی و، سړه هوا به یې په ډېر فشار ورباندې ور پرې ایښې وه، او د ډېرې سړې هوا له امله به یې بدن شخ او یخ شوی و. پوره دولس ورځې یې همدا کار ورسره وکړ، او هغه یې ډېر په تکلیف کړ. کله چې به یې ماخوستن زموږ اطاق ته راوړ، د اطاق ټول بندیان به ډېر زیات ورته ځوریدل.

---

بندیز و، مګر په ۲۰۱۹ ز کال کې چې یاد ۵ تنه له امریکا سره د مخامخ خبرو لپاره د مذاکراتي ډلې غړي شول، بیا وروسته دوی له قطر هیواد څخه وتلای شوای، د دوی ځینو ابوظبی، ځینو ماسکو، ځینو ازبکستان او ځینو هم اندونیزیا ته د سولې مذاکراتو په موخه د طالبانو د پلاوي دغړو په صفت سفرونه وکړل.

# شریف الله شیرزاد

**پېژندنه:**

شریف الله شیرزاد د ډاکټر سبحان الله شیرزاد ځوی، د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالي اوسیدونکی، په جلال آباد ښار کې د میا عمر د لیسې څخه په ۲۰۰۱ ز کال کې له ۱۲ ټولګي څخه فارغ شوې، عمر یې ۳۰ کلونو ته رسیږي[١٤]، تمه یې لرله چې پوهنتون ته ولاړشي، د حالاتو د خرابیدو له امله یې پوهنتون ته لاره پیدانه کړه.

تر نیول کیدو یوه اونۍ مخکې یې د کوزدې خبرې رواني وي، مګر چې کله ونیول شو، بیا له اوه کلن بند تیرولو څخه وروسته چې کله ازاد شو واده یې وکړ، اوس مهال د څلورو اولادونو پلار دی.

**نیول کیدل:**

شریف الله شیرزاد د جلال آباد ښار کې د خپل یوه دوست په کور کې میلمه و، د ۲۰۰۳ ز کال د جنوري میاشت وه چې سهار لمر ختلی په همغه کور چاپه ووهل شوه، شیرزاد او ملګری یې غورځنګ دواړه د ائتلافی ۱۵ ځواکونو له خوا ونیول شول، شیرزاد د خپل ځان او ملګري د نیولو کیسه داسې کوي:

" له نیول کیدو سره سم یې موږ د کلاشینکوف په کنداغونو ووهلو، زما ملګری غورځنګ یې د کلاشینکوف په میل پر سر وواهه، هغه یې په همهغه اول وخت کې پر سر زخمي کړ، موږ دواړه یې د ننګرهار هوایې ډګر ته یوړلو، سترګې یې ټینګې ټینګې راباندې وتړلې، لاسونه یې شاته په پلاستیکې تسمه راته وتړل ، پوره درې ورځې او شپې یې

---

[١٤] د وري ۲۵مه، ۱۳۹۳ / د اپریل ۱۴مه، ۲۰۱۴

[١٥] د امریکا په مشرۍ د ناټو ځواکونه چې په افغانستان یې حمله کړې وه.

موږ ته ډوډۍ، د خوراک او څښاک له پاره څه رانه کړل ، ما دشپې هم کم خواړه خوړلې و، زموږ لومړۍ ورځ او شپه تر وهلو لاندې تیره شوه، زجر او شکنجې لوږه راڅخه هیره کړي وه، په دوهیمه ورځ مې په معده درد شوو، مازیګر مې پیره دار ته وویل، که لږ ډوډۍ راکړئ چې د معدې درد مې ارام شي، هغه وویل چې موږ ته امر شوې چې ستاسي له پاره ډوډۍ نشته، زه یو پیره دار یم زما څخه مه خپه کیږه، ماخوستن بل پیره دار راغی، زوړ پیره دار ورته وویل چې بندی وږی دی خو ډوډۍ ورنه کړې، نوې راغلي پیره دار را باندې ږغ وکړ چې ښه یې؟ داچې مونږ افغانان داخاصیت لرو که هر یو په هر ډول ستونزمن حالت کې وي بیاهم وایو ښه یم، ومې ویل چې الحمد لله، زه ښه یم. پیره دار وویل اوبه څښئ؟ ومې ویل نه، که یوه ګوله ډوډۍ وي، هغه وویل چې زه پوهیږم چې ستا حالت ډیر خراب دی، ږغ دې په ټپه ناست دی، ږغیدلای نشي، مګر موږ څه وکړو، اجازه نشته چې لږ یا ډیره ډوډۍ درکړو، لږ شیبه وروسته یوبل تن راغی، پیره دار ورته وویل چې د بندي حالت ماته ښه نه ښکاري هسې نه چې مړ شي، مسؤلین به خبر کړو، لږ وروسته درې کسان راغلل، افغانان وو، یوه یې وویل چې موږ تاته لږ ډوډۍ درکوو، مګر پام دې وي چې بهرنیان درڅخه خبر نه شي، که پوښتنه یې درڅخه کوله ورته وایه چې هیڅ مې هم نه دي خوړلي، د یوه عسکر سره څراغ او د بل سره لږ وچه ډوډۍ په لاس کې وه ، دریم زما د سر څخه کڅوړه کش کړه یواځې زما مخ یې را لوڅ کړ، ویې ویل موږ ته مه ګوره، لاسونه مې شاته تړل شوې وو، عسکر ډوډۍ په خوله کې راکوله، یقین وکړئ داسي خوند یې و، چې بیا هغه خوند ما په هیڅ ډول ډوډۍ کې وروسته وخت کې پیدا نه کړ. "

## د ننگرهار د هوايي ډګر زندان

دننگرهار د هوايي ډګر په زندان کې موږ دومره ووهل او وډبول شوو، چې يو الله ﷻ ليدل، هره ورځ به يې له سهار څخه بيا تر ماسپښين پوري موږ ته وهل راکول، پر موږ پيره عسکر افغانان وو، وخت پر وخت به زموږ اطاق ته رانوتل، په لغتو اوسوکانو (بوکس) به يې وهلو او ښه ډير ښکنځل به يې هم وکړل، بيا به د بهرنيو عسکرو چې امريکايي پوځيان وو، د هغوی له خوا موږ ته جزا راکول کيدله، يوه امريکايي پوځې به د زنگنو پر سر پر ځمکه کينولم، ښي او چپ لورته به مې يو يو امريکايي عسکر ودريدل، تر دواړو متو به يې کلک نيولی وم، د شا له خوا به يې زما ملا (شاته) ته زنگون ورکړی وو، همداسي نيغ به يې کينولی وم، مخامخ به دوه نور امريکايان راته ولاړ وو، هغوی به هم پوښتنه کوله او هم بوکس، لغته او په څپړو باندي وهل يې راکول، د بدن په مختلفو برخو به يې زه وهلم، ښي او چپ لورته ولاړ عسکر هم ارام نه دريدل، هغوی به هم په لغتو وهل راکول، کله به يې چې پر معده گوذار وکړ، وبه يې وهلم، زړه به می وران، وران شو، يوځل وهلو ډير وارخطاء کړم، ساه می ډوبه ، ډوبه شوه ، عسکرو ته مې سر وښوروواه، چې زه ټول حال وايم، اقرار کوم، تاسي مې يو ځل پريږدئ، امريکايي عسکر خوشاله شول، وهل يې بس کړل، انتظار وو چې بندي به اوس کومي پټې او مهمې خبرې راته وکړي، له ځان سره مې وويل : ياالله! څوک ورته وښايم !؟ د چا په کور ټکه (تندر) ور واچوم، څوک به ورته بهانه کړم، چې زه پرې د وهلو څخه خلاص شم ...؟ که هر څوک ورته ناحقه وښايم، د هغه به هم دغه ډول حال وي،

کوم چی زما دی، وهل کیږی به، زوریږی به، چیغې، سوري، فریاد به کوي، هغه به ورته وایی چی زه بی گناه یم، دوی (امریکایان) به ورته وایی چی نه، ته ډیرغټ مجرم یې، یو چا موږ ته ستا په باره کی معلومات راکړی، هغه موږ ته ویلې چې ته تروریسټ یې، ماته مې خپل ضمیر او وجدان دا اجازه را نه کړه چی زما سره دی په دي اور کې بل بې گناه افغان هم وسوزي، په سړه سینه می ورته وویل: نه پوهیږم چې په کوم جرم او گناه مو زه نیولي یم؟ او تاسي ته د کوم جرم په اړه خبره وکړم؟ نه خو د طالبانو کوم مهم سړی او نه هم د القاعده خلک پیژنم، نه هم ورسره کوم تړاو لرم، د خبرې تر خلاصیدو سره سم یې په نس کې په لغته ووهلم، پورته شوم، بیرته په ځمکه ولویدم، ساه (نفس) راکې ورکه شوه او ونښتله، نه پورته تله او نه کښته، په سر او غوږونو کی می یو ډول اواز او زوږ پیداشو، فکر مې وکړ چې نور مې د مرگ وخت دی او ختم شوم، بهرنیو عسکرو چې زما لاسونه یې پورته نیولي وو، د څادر په ډول یې وځنډلم، او په ځمکه یې وویشتم، بیرته نفس راپکې وچلیدی، عسکرو او ترجمان چیغې کړې چی څنگه یې؟ د خبرو توان راسره نه و، یواځي مې سر وښوراو، ترجمان ډیر ژر وویل چې حال ووایه که نه دا ځل مړکیږي، بیا هم له ډیره درده مې د سر په ښورولو سره وپوهول چې زه په هیڅ هم نه یم خبر، امریکایې ترجمان ته وویل چې He Saying No تر جمان ورته وویل Yah, yah he said, I don't know، د دوئ دا ځنډل، په ځمکه ویشتل او زما ساه چلیدل عجیب راته وبریښدل، چې څه ډول الله ﷻ له تکلیف څخه خلاص کړم، بالاخره دوی پوه شول چې معلومات ورڅخه نه ترلاسه کیږي، ماته یې وویل چې ته ډیر سخت روزل شوی یې، مرگ قبلوي

خو اقرار نه کوي! اوس نو زه هم لږ په هوښ کې وم، ورته مې وويل چې په وهلو مې مه تکليف کوئ، په مرمۍ مې وويلئ چې هر څه ختم شي، هغوی وويل چې نه، دا سي اسانه دي نه وژنو بايد چې يو څه خو ووايې، ويې ويل چې ته خو څه نه وايې، مگر موږ ستا په اړه تحقيق کوو، دوه ساعته ورسته بيا راغلل ويې ويل چې مونږ معلومات وکړ چې تاسي بمي چاودنې کوئ، انفجاري مواد کاروئ، په تروريستي کړنو کې لاس لرئ.

ښه دا راته ووايه چې څوک پېژنئ؟ د طالبانو له کومې ډلې (ټولگي) سره اړيکې لرئ؟ د طالبانو مشران چيرته دي؟ ډول ډول پوښتنې يې کولې، ما (شيرزاد) ورته ويل چې موږ عادي افغانان يو، له هيڅ يوې تروريستي ډلې سره تړاو نه لرو، او نه هم له طالبانو سره اړيکې لرو.

## د باگرام زندان

دريمه ورځ سهار نږدې ۹ بجې به وې لويه دوه څرخه چورلکه هوايي ډگر کې کيناسته، موږ دواړه ملگري چې د زندان په جلا جلا کوټو کی وو د يو او بل په حال نه وو خبر، له اطاقو يې را و ايستلو، د کوټو (اطاقونو) له ځايه تر چورلکې پورې يې په ټيوټا موټر کې يووړو، د ژمی موسم او ډير بد يخ ؤ، موږ يې د طيارې سره نږدی پړمخی پر ځمکه پري ايستلو، د ژمي سړه هوا او د طيارې د څرخونو سخته هوا...... اوف الله! هيڅ الفاظ ورته نه لرم ،دکوم شي سره يې تشبيه کړم ، له ډيري يخنۍ څخه مې پر هغې کښوړې خوله خښه کړه کومه چې يې زما پر سر را اغوستي وه، نيم ساعت يا څلوېښت دقيقې وروسته يې بيا موږ چورلکې ته وخيږولو، په طياره کې يې ټينگ ټينگ وتړلو،

له همدې ځایه یې باګرام هوایي ډګر ته یوړو، له طیارې څخه یې کښته کړو، بیا یې په یو لوی ګړبیدلي موټر کې د باګرام زندان ودانۍ ته یوړو، زموږ د تن خپل کالي (جامي) یې را څخه و ایستل، د بندیانو سرې جامې یې را واغوستلي، همدلته یې لنډ تحقیق راڅخه وکړ، بیا یې موږ هر یو یوې کوچنۍ کوټې کې قلف کړو، دغه کوچنۍ کوچنۍ کوټې د لرګي د تختو څخه جوړې شوې وي ، یوه کوچنۍ کړکۍ پکې وه، په هغې هم شاته پرده ځوړند وه، موږ ته یې د همدې کوچنۍ کړکۍ د لاري د خوراک له پاره ډوډۍ او د څښاک اوبه راکولي، د باندي څه نه لیدل کیدل ، یوازي به مو د امریکایې پوځیانو خبرې اوریدي، په کوټه کی د ننه برق نه و، د کوټې سر لوځ مګر د اوسپنیز جال په واسطه پوښل شوی و، دغه اپارتمان د روسانو په وخت کی فابریکه وه، ډیر لوړاو غټ، غټ دهلیزونه یې درلودل، بندیانو ته یې په دهلیزونو کې وړې وړې کوټې جوړې کړې وې، په عمومي دهلیز کی ګروپونه لګیدلي وو ، د همدغه ګروپونو څخه زموږ دي وړو اطاقونو ته رڼا راتلله لکه د تازه یا سکني ماښام په څیر به تته رڼا وه، په همدې کوچني اطاق کې چې قلف به و، موږ درې ورځې تیري کړي، او د دریو ورځو په جریان کې یې له موږ څخه تحقیق هم کاوو. له هغه وروسته یې موږ له نورو بندیانو سره یوځای کړو، هلته غټې د ازغن سیم څخه جوړ ې شوې پنجرې ( اطاقونه ) وي، په هر اطاق کې به ۱۵ څخه تر ۲۰ بندیان اوسیدل، زه یې هم د یوې پنجرې په دروازه کې واچولم، چې د لویې پنجرې په مخکې به دغه دروازه جوړه شوې وه، درې ورځې وروسته یې بیا د پنجرې داخل ته نورو بندیانو سره یوځای کړم.

په همدې ورځو کې امریکایانو تر ۳۰ زیات بندیان د ګوانتانامو له

پاره جلا کړل، هغوی ته يې ږيرې، بريتونه او سرونه ور خريلي وو، ګرده شپه يې بې خوبه کړل، خوب ته يې نه پريښودل، سهار يې بيا د ازغن سيم له پنجرو و ايستل او بيا يې ګوانتانامو ته يووړل.

په سبا يې زه د تحقيق له پاره له پنجرې څخه وايستلم، محقق ته يې کينولم، هغه راته وويل چې  ته خبر شوې چې څو کسان ګوانتانامو ته ولاړل؟ ومې ويل هو، يو چا راته وويل چې ګوانتانامو ته يې ډير بنديان يوړل. محقق وويل  ته څه فکر کوي چې ته به خلاص شي که څنګه؟ ومې ويل چې زه نه يم خبر چې خلاص به شم که به خلاص نه شم. امريکايې محقق وويل که ته رښتيا موږ ته ووايې موږ به تا خوشي کړو، که رښتيا ونه وايې نو ته به همدلته يې. ومې ويل چې ما خو ټول حقيقت تاسي ته ويلی، نه خو له ما سره کوم خطرناک شی نيول شوی او نه هم په کوم جنګ کې نيول شوی يم،  تاسي ولی ما مجرم بولئ؟ شيبه په شيبه د محقق په حالاتو کې تغير راتلی، غوسه به يې کوله، او ډير به په  قهر کيدی.

يو بل ځل يې تحقيق ته بوتلم، عينکي يې را په سترګو کړي، چې هيڅ مې نه ليدل، پلاسټيکي عينکي وي چې څوک نه ورڅخه ښکاره کيدی، په ځمکه يې د زنګنو پر سر کينولی وم، لاسونه مې  تړلي او پورته مې نيولي وو، په دغه ډول حالت کې يې زما څخه تحقيق کاوه، کله به يې په چوکۍ ميز وويشت او کله به يې ديوال پر چوکې وويشت، زما سترګې تړلي وي،  زه يې ډارولم، چې خبري ورته وکړم، حال داچې زما سره هيڅ  معلومات هم نه و، ما به دوی ته څه ويلی وای، هغه څه چې حقيقت و، هغه مې ورته ووايه، زه  يې ډير مجبوره کړم، ويل يې چې ته بايد  يو څه ووايې، ما ورته ويل سمه ده، چې څه ډول تاسي

غواړئ زه به هغسي وکړم، تاسي ماته خبرې وکړئ، زه به هغسې درته ووايم، که تاسي ماته ووایاست چې ته د اسامه سړی یې؟ زه به درته ووایم چې هو. که تاسي وایاست چې ته د ملاعمر سړی یې، هغه ته دي کارونه کړي دي، زه به درته ووایم چې هو.

محقق وویل چې نه، موږ نه درته وايو، ته باید پخپله دغه ډول خبرې وکړې. ومې ویل چې ما خو کوم جرم نه دي کړی او نه هم له طالب او القاعده سره تړاو لرم، نه هم په کومه تروریستې پېښه کې لاس لرم، زه ولي درواغ ووایم. که تاسي غواړئ چې دروغ په ما ووایاست، سمه ده، خو په خپله خوښه دروغ نه وایم.

محقق وویل چې ځان ته مشکل جوړوې، ته نه غواړې چې خلاص شي، ویل یې چې زه به له تاسره بل ځل گورم. دوه ورځې وروسته امریکایی عسکرراغلل، ماته یې وویل چې سامان دي راټول کړه، جزا درباندي ختلي ده ،لوړ منزل ته دي بیایو، زما سره یو قرآنکریم، دوه کوچنۍ کیمپلي وي، له ځان سره می واخیستي، زه یې انفرادي اطاق ته بوتلم، همهغه محقق چې زما څخه به یې تحقیق کاوو، راغی، راته ودریدی، ماته یې وویل چې ودریږه، زه هم ودریدم، ویل یې لاسونه پورته ونیسه، لاسونه مې پورته ونیول، ډیر وخت همداسي ولاړ او سخت ستړی شوم، د جارو کولو برو ش یې کوټې ته را غورځار کړ، د اري بور (دلرگیو بور) یې په کوټه کې شیندلی وو، کوټه زما په فکر چې دوه په دوه نیم متره کې وه ، په لاسو کي مې دوه ډوله زولنې وي ، یو ډول غټې او بل ډول کوچنۍ زولني، د دواړو لاسونو تر منځ درې انچه فاصله وه، ماته یې وویل چې په بروش په اطاق کې شیندل شوی بور را جارو کړه، او دي کونج ته یی راوړه (د اطاق یوه

کونج ته یې اشاره وکړه)، بور مې را جارو او کونج ته مې را ټول کړ، بیا یې ویل چې هغه بل کونج ته یې یوسه، بیا یې ویل هغه بل کونج ته، همدا کونجونه یې را باندي کتل او ما به هغه بور د جارو په واسطه له یوه کونجه بل کونج ته جارو کاوو، چې ډیر ځله یې پر ما د اطاق کونجونه وشمیرل،کله به مې په کړوپه ملا او کله په ناسته جارو کاوو، د جارو وهلو سره به زولني په لاسونو کې خوځیدې، د زولنو ښوریدلو زما د مړوندو پوستکی خوږ او واړاوو. محقق ته مې وویل چې ته څه غواړې او زه څه وکړم؟ ویل یې This is your job, do it همدا دي دنده ده، کوه یې، ډیر وخت وروسته یې وویل چې ودریږه، لاسونه پورته ونیسه، همداسي مې وکړل، زما خوا کې بل اطاق خالي و، په دریم اطاق کې حاجي نعیم کوچی و، هغه هم ولاړ او لاسونه یې پورته نیولي و، هغه ته هم محقق ولاړ و، همدا مسخره کارونه یې پر موږ کول، نعیم کوچی د ډیر عمر سړی و، طاقت یې نه درلود او ضُعف شو، پر ځمکه ولویدی، استفراق یې وکی، له هغه وروسته امریکایې محقیقنو نعیم کوچی او زه دواړه له دغې درنې او سختې سزا څخه خلاص کړو، خو زه یې بیا هم کیناستلو ته نه پریښودلم، کوچې ته ډاکټران ورغلل، سیروم یې ورته ولګاوو، اوبه یې پرې وڅښلې.

ماښام شو، عسکر ته مې وویل چې زه ژباړونکی غواړم، هغه وویل نشته، بیا مې ورته وویل چې ترجمان غواړم، یوه ښځینه ترجمانه راغله، په ایرانۍ ژبه ږغیدله، ماته یې وویل چې په فارسي خبرې وکړه، څه وایې، ومې ویل چې له سهاره دادی ولاړ یم، کمزوری شوې یم، نور د دریدلو توان نه لرم، پر ځمکه لویږم، زه غواړم چې لږ شیبه کینم، هغې وویل چې زه ځم، بیرته راځم، ته تر هغه وخته پورې مه کینه، ۱۵ یا ۲۰

دقیقې وروسته راغله، ویل یې ما ستا له محقق سره وکتل، هغه درته د کیناستلو اجازه وکړه، خو که هر څوک درپسې راغلل او تاته یې وویل چې ودریږه بیا به سمدستې دریږې، لږ شیبه نیم ساعت ناست وم، چې عسکر راغی راته ویې ویل چې ودریږه،له دې وروسته به دوه درې ساعته ولاړ وم، بیا به یې لس دقیقې او کله کله نیم ساعت په ځمکه د کیناستو اجازه راکوله، اوله ورځ ډېره سخته وه، په نورو ورځو کې د جارو کولو جزا نه وه، خو بیخوبي او په ولاړه دریدل په کې وه، یعنې شپږ شپې او شپږ ورځې موږ خوب ونه کی، او نه یې هم خوب ته پریښودلو، کله به داسې وخت راغی چې دیوال ته به مې تکیه کړې وه، په ولاړه به خوب وړی وم، وبه غورځیدم، عسکر به راغی په لغته (پښه ) به یې دروازه ووهله، نارې به یې کړې، ودریږه، ودریږه، ویده نه شې. دغسې یو سخت او بد حالت وو، خوب ته یې نه پریښودلو، د دی په ارمان وم چې که داسې وخت راشي چې لږ شیبه خوب او ارام وکړم، له شپږ ورځو او شپو وروسته یې بیرته د نورو بندیانو اطاق ته بوتلم، هلته یې ځینې بندیان د هلمند ولایت د باغران ولسوالي څخه نوي راوستلي وو، له هغوی سره په اطاق کې وم، یوه نیمه میاشت مې همدلته په باګرام کې تیره کړه، بیا یې موږ بندیان سره بېل کړو، داسې ګنګوسې وې چې ځینې کسان ګوانتانامو ته بیایې، زه هم په دې ډله کې راغلم، بریره، سر او بریت یې راباندې وخریل او د ګوانتانامو د تګ انتظار مو کاوو.

شریف الله شیرزاد وایې د باګرام یوه دردونکې خاطره لرم، هغه وایې: زما په څنګ کې یو بندي و، نوی باګرام ته راوړل شوی و، وروسته مې هغه په ګوانتانامو کې وپیژندی، حاجی بسم الله نومیدی، د هلمند

ولایت و ، کله چې یې زه له ٦ ورځو او شپو جزا را کولو څخه وروسته راخوشی او کښته پوړ ته یې اطاق ته را وستلم، دغه نوي بندي ته امریکایي عسکر وویل چې تا لوړ پوړ ته بیایو، زه خو پوهیدلم چې هلته څه ډول سزا ده، ماته بندي وویل چې چیرته مې بیایې؟ ورته مې وویل تا لوړ منزل ته بیایې، خیر ده لږ حوصله کوه، امریکایي عسکر پرې نارې کړې، ژر کوه، هله ژر، چیغې یې جوړې کړې، بندي یې ډیر وارخطا کړ، په دې وخت کې بندي قران کریم را اخیستي، په لاس کې یې ونیو چې عسکر دروازه پسې راخلاصه کړه، د هغه له لاس څخه یې قران کریم په لغته وواهه، قران کریم په ځمکه ولوید، او قران پاک ورغړید، خدای شته هغه شپه په ما ډیره سخته تیره شوه. گرده (ټوله ) شپه مې په ژړا تیره کړه، چې یا الله! ته د خپل دین حفاظت وکړې، زموږ له وسه خو هیڅ هم نه ده پوره. لاسونه او پښې مو تړلي، بې وسه یو، بندیان یو، کمزوري یو، ستا کلام په ځمکه پروت دی، امریکایان یې زموږ په مخ کې په لغته وهي، یا الله! ته د خپل کلام او اسلام حفاظت وکړې، افغان ولس او مسلمانان د دغو ظالمانو له منگولو خلاص کړې.

## د ګوانتانامو زندان

د باګرام هوايي ډګر کې يې طيارې ته وخيژولو، لاسو ته يې زولنې را واچولې او ښه يې ټينګې کړې، زولنو درې زنځيره لرل، يو يوې خواته او بل يې بلې خواته په ملا را تاو او قلف يې ور واچاوه ، په چوکۍ کې زموږ شاته يوه کونډه (کړۍ) وه چې زمونږ د ملا زنځير يې په کې بسته کړ ، هغه ځنځير ډير په تکليف کړو، شاته مو ډډه نه شواى وهلاى، هغه قلف به مو شاته نيغ ولاړ وو، دريم زنځير، د پښو تر منځ چې کوم زنځير و د هغې پورې وصل و، د طيارې په فرش کې هم يوه کړۍ وه، چې دپښو زنځير يې ورپسې تړلي و، لاسونه يې ډير کلک او ټينګ راته تړلي وو، په ډير تکليف تر خولي پورې پورته کيداى شول، ګوانتانامو ته په طياره کې د سفر پر مهال ډير سخت په تکليف شوو،کله به يې لږ اوبه او يا هم يوه مڼه راکړه، سترګو ته يې داسي غټې عينکي را اچولي وي چې هيڅ شی ورڅخه نه ښکاره کيدی، په عينکو يې پلستر هم نښلولی و، په پوزه يې يو ډول کوچنی ماسک را اغوستی و، ماسک يوه نرۍ ربړي تسمه لرله، تسمه ډيره سخته او ټينګه وه، زما د غوږڅخه لږ دپاسه يې تيره کړي وه، او پاسنۍ برخه يې زخمې کړه، چې کله به مې لاسونه په تکليف ور پورته کړل، بيا به عسکر ناره کړه، او نه به يې پرښودلم چې لاسونه تسمې ته ور وړم ، چې لږ يې له هغه خوږ ځاى څخه ليرې کړم، بيا به چې زما د غوږ پاسنۍ برخې سوى (درد) وکړ بيا به مې هڅه کوله چې لږ تسمه له هغه زخمي ځاى څخه ليرى کړم، عسکر به نه پريښودلم، عسکر ته مې وويل چې زه پښتون ترجمان غواړم، هغه ولاړی، بيرته راغی ، ويې ويل چې پښتون ترجمان نشته، د اردو ژبې ترجمان که غواړي شته، ومې ويل چې رايې وله ان شاء الله

په خبره به سره پوه شو، ترجما ن راغی، ورته مې وويل چې زما د غوږونو نه لږ د پاسه ځايونه وګوره کوم چې د ماسک تسمې را زخمي کړي، نور يې د درد او خوږ تحمل نه لرم، زما څخه ماسک ليري کړئ، ترجمان زما د غوږ د پاسه زخمې شوی ځای وليدی، عسکر ته يې وويل، هغه چې وکوت، پوه شو چې د ماسک ټينګې او سختې تسمې زما د غوږ څخه پورته برخه زخمي کړې ده، او د ماسک تسمې يې په غوښه کې ننوتي دي، عسکر ويل چې موږ څه وکړو؟ که دغه ماسک ليري کړو، بيا تر سترګو لاندې لږه فاصله پاتې کيږي، ته بيا موږ وينې، د دي له خاطره مو عينکې او دغه ماسک درته اچولی چې موږ ونه وينئ، ويل يې ماسک نه شو درڅخه ليرې کولای، ورته مې وويل چې زما په سر چې کومه سره خولۍ ده، دغه خولۍ لږ نوره هم راټيټه کړئ، او د ماسک تسمه د خولۍ د پاسه تيره کړئ، بيا دوی همداسې وکړل، خو تر ډيره وخته هغه زخمونه پاتې وو.

ګوانتانامو ته ١٨ يا ٢٠ ساعته سفر وو، موږ نه پوهيدلو چې ورځ ده که شپه، ځکه په سترګو مو هيڅ نه ليدل، يو ځل طياره يو ځای کيناستله، هلته يې ډير وخت تير کړ، بيا وروسته بيرته پورته شوه، او ګوانتانامو کې طياره کښته شوه، په طياره کې تشناب ته اجازه وه، خو عسکر به ولاړ و، سړي نه شوای کولای چې په سم ډول اړتيا ترسره کړي ، سترګې به تړلي وي، صرف همدومره به يې درته وويل چې تشناب دی او کينه، په دغسي يو حالت کې ډير مشکل وي چې سړی ضرورت پوره کړي، له همدې خاطره به موږ خوراک او څښاک هم نه کاوو، چې تشناب ته ضرورت پيدا نه شي.

ګوانتانامو ته ورسيدو، سپي يې په لاره کې درولي وو. د سپيو غپا وه،

فکر کوم چې زموږ د تیریدو پر مهال زموږ دلاري دواړو لورو ته سپي درول شوي وو، ډېر زيات يې غپل، د ګوانتانامو زندان ته يې ورسولو، ډېر وخت يې لمر ته کينولو، سخته ګرمه هوا وه، بيايې کلينيک ته بوتلو، هلته يې نوي جامي راکړي، د باګرام زندان جامي يې راڅخه ليري کړي، ډاکټرانو پوښتنې کولي، زموږ د وينې او نور څو ډوله معاينات يې وکړل، له دې وروسته يې هغه بلاک ته بوتلو چې يو نفرې اطاقونه وو، يوه مياشت مو هلته تيره کړه، دغه اطاقونه په کانټينر کې جوړ شوي و، زما په فکر چې دوه په دوه متره کې وو ، کوچنې اطاقونه د چادر پواسطه شا او خوا او دپاسه ټول پټ و ، يوه بندي بل بندي نه شو ليدلای، يواځې يوه وړه کړکۍ وه، د هغې دلاري به يې موږ ته د خوراک او څښاک شيان راکول، مياشت وروسته يې موږ نورو پنجرو ته بوتلو، دغه اطاقونه د سيخانو وو، چې سيخانو يو له بل سره دوه ګوتې فاصله لرله، يعني په دغه پنجرېې اطاقونو کې د دوو ګوتو په اندازه سورې وو، پنجرې يو له بل سره نښتي وې، موږ په ګوانتانامو کې له يوې مياشتې تيرولو وروسته نور افغان او عر ب بنديان وليدل، د نورو بنديانو په ليدلو ځکه خوشاله شو، چې له يوازيتوب څخه خلاص شوو.

ګوانتانامو کې د قران کريم پر سر زموږ او د امريکايې عسکرو تر منځ ستونزه پيداشوه، بنديانو دوی ته ويلي وو چې تاسي به قران کريم ته لاسونه نه وروړئ، تاسي ناپاک ياست، ځکه په قران کې آيت دی چې لا يَمَسُّهُ إِلاَّ الْمُطَهَّرُونَ (ناپاک خلک دي قران کريم نه مسح کوي )، په همدې اساس مو د قران له تلاشي څخه منع کړي وو، مګر امريکايانو به قران کريم ته د لاس ور وړولو سربيره کله به يې له پورته ځايه راغورځار هم کړ، له همدې امله پريکړه وشوه چې خوراک او

ځښاک به نه کوو، غذايي اعتصاب مو وکړ، درې ورځې او شپې ټولو بندیانو خوراک او ځښاک ونه کړ، ډېره سخته لوږه او تنده راباندي تيره شوه، داسي بندیان وو چې خپل اعتصاب يې نه ماتوی، په اونیو يې خوراک او ځښاک ونه کی، درې ورځې وروسته امريکايان راغلل او په لوډ سپيکر کې يې اعلان وکی چې ستاسي قران کريم ته بيا موږ لاس نه وروړو، خو بيا به هم دغه ډول حرکتونه تکراريدل.

د امريکايي عسکرو او محقيقينو له خوا ډول ډول تکليفونه راکول کيدل، روحي تکليفونه ډېر زيات وو، کله چې به د شپې ويده وو، عسکر چې پهره به يې کوله، د دروازې قلف ته به يې له پنجرې سره شرنګ ورکړ، بندي به چسپ له خوبه راپورته شو، خوب به يې خراب شو، بيا به خوب نه ورتلی، که بيا به بيده شو، عسکر به دوه درې ساعته وروسته بيا راغی، د دروازي سره نږدې فرش به يې په پښه ورته ډباوو، تر هغه وخته به يې دغه کار کاوو چې بندي را ويښ شي، او بې خوبه شي.

زموږ سره گوانتانامو کې يو ځو تنه هلمنديان وو، هغوی يې د سوارلي له موټر څخه راکښته کړي او راوستلي يې وو، په عمومي سړک د کلي څخه ښار ته د سودا له پاره روان وو، همهغه پيسي يې په جيب کې وی، چې دوی د کور د سودا، غوړي، اوړه ، چای او بورې له پاره ورسره را اخيستي وي.

زموږ يو بندي ملګری چې له تحقيق څخه بيرته راغی، ډېر خپه ښکاريدی، ما پوښتنه ورڅخه وکړه چې ولي دومره زيات خپه يي، هغه وويل چې محقق ډېر په غوسه خبرې راسره کولي، او ماته يې وويل چې ته به ټول عمر همدلته په ګوانتانامو کې تيروي، بندي ويل چې له

محقق څخه مې پوښتنه وکړه چې ولي زما جرم دومره لوی دی؟ محقق وويل چې کله ته ونيول شوي، کوم کوټ (واسکټ) چې تا اغوستی و، د هغه څخه د باروتو بوی تلی. ما (شيرزاد) بندي ته وويل چې ښه نو تا ورته څه  وويل؟ هغه هلمندي بندی وويل:  ما ورته وويل چې بالا نو بويَوه يې!

کله چې ګوانتانامو کې وو، د کور څخه د خط  پواسطه احوال راتلی، سور صليب به ليکونه راوړل، چې کله ګوانتانامو ته ورسيدم ، اوه مياشتې وروسته ماته ليک  راغی، کله چې به ليک دسور صليب له خوا د ګوانتانامو مسؤلينو ته ورسيد ٦- ٧  او يا ١٠مياشتی به ليک په ګوانتانامو کې بيا امريکايانو څنډاوو، له هغه وروسته به يې موږ ته راکړ، يواځې سلامونه او دا چې فلانی جوړ دی، همدا خبرې به وې، نور څه نه وو،  خو بيا هم امريکايانو د دې له پاره چې پر موږ روحي فشار راشي او په تشويش کې شو، يوه جمله يا نيمه جمله به يې د خط په منځ کې رنګه کړي وه. په تور قلم به يې خرابه کړي وه، ترڅو بنديان فکرجن شي چې دا به زماکورنۍ يا دوستانو څه شي ليکلي وي چې ليک يې رنګ شوی، کوم ليکونه چې موږ کورته استول، هغه به يې هم همداسې کړي وو، ځينې جملې او ځايونه به يې ورڅخه توږلي او رنګ کړي وو، تر څو د کورنۍ غړو ته تشويش پيداشي چې دابه نو بندي موږ ته کومه خبره ليکلې وه. ماته يې ٥ خطونه ګرده يو ځای ٢١ مياشتې وروسته راکړل، د سور صليب کسانو ته مې وويل  چې تاسې  دا خطونه وګورئ، په کوم تاريخ ليکل شوې او کوم وخت تاسې ماته راکړه، ويې ويل بخښنه غواړو، کوم  خطونه چې موږ دلته راوړو، امريکايانو ته يې ورتسليموو، موږ امريکايانو ته وويل چې دا خطونه

خو ډیر پخواني دي، بندیان به څه وايې، دوی ویل چې یوه الماری وه، هلته مو پکې اچولي وو، زموږ له یاده وتلي وه، اوس یې تاسي ورکړئ.

کله به چې بندیان په لمانځه ودریدل، امریکایې عسکرو به شور او زوږ پیل کړ، تر څو په لمانځه کې زموږ توجه راخرابه کړي، دغه ډول کړنه به پر موږ بندیانو ډیره بده لګیدله، چې نه مو خوب ته پریږدئ، نه مو ارام ته پریږدئ، نه مو لمانځه او نه هم تلاوت ته پریږدئ، دغه ډول روحي تکلیفونه وو چې موږ یې ځورولو.

شریف الله شیرزاد وايې چې د بوش د حکومت پرمهال ماته وویل شول چې ته برئ یې، کورته به ځې، او ټول پنځه نفره افغانان وو، چې موږ ته د ګوانتانامو له زندان څخه د خلاصون خبره وشوه، د سور صلیب کارکوونکو هم موږ ته ویلي وو چې تاسي به کورته ځئ، کله چې اوباما واک ته ورسیدی، زموږ پنځه واړو د خلاصون پروګرام یې بیرته لغوه کړ .

زما هغه بل ملګری غورځنګ هم په ګوانتانامو کې و، تر څلورو زیات کلونه یې هلته تیر کړل، زه او ملګری یې بېل بېل ګوانتانامو ته یوړلو، هغه یې له ما وروسته په بل پرواز او بله ډله کې بیا وروسته راوستی، له نیولو تر خلاصون پوري ټول ما اوه کلونه په زندان کې تیر کړل، دری ورځی ننګرهار، یوه نیمه میاشت باګرام، ۳۵ ورځي په پلچرخې او نور ټول وخت مې په ګوانتانامو کې تیر کړی.

یو ډول امریکایې ملکي وکیلان وو چې له امریکا څخه به راتلل، دوی ویل چې موږ ازاد وکیلان یو او غواړو ستاسي د حقونو څخه دفاع وکړو، په امریکا کې یوه فیډرالي محکمه ده، که غواړئ چې ستاسي

دوسیه هلته ورسول شي، نو تاسي به ډیر ژر خلاص شئ، دا ډول دروغ خو موږ ته زښت زیات ویل شوي وو، هر ځل چې به محقیقین راغلل، دغه خبرې به محقیقینو او نورو وکیلانو هم کولي، نور له هر څه څخه ستړي شوي وو، ما پریکړه کړې وه چې نور نه محکمې ته، نه تحقیق ته او نه هم کلینک ته ځم، هیڅ چیرته هم نه ځم، چې هر ځل به ماته عسکر راغلل، ما به ورته ویل چې زه هیڅ چیرته هم نه ځم. څو تنه امریکایې وکیلان وو، هغوی ماته خطونه راولیږل چې موږ ستا په ګټه کار او خبري کوو، ته خلاصیږي، هغوی ته ولاړم، ویې ویل چې موږ غواړو ستا څخه خبرې واورو، ستا ملګری غورځنګ چې ستا سره یو ځای نیول شوی و، هغه ډیر د وخته خوشی شو، غواړو چې ته هم خوشی شي، ومې ویل چې دا ډول دروغ ماته ډیر زیات ویل شوي، زه نور نه غواړم چې په دي باندې بحث وکړم او تحقیق ورکړم، هغوی ویل ته زموږ سره لږ وخت خبرې وکړه، تحقیق به ثبت کړو، مګر ما بیا هم تحقیق ور نه کړ، لږ موده وروسته احوال راغی چې ته به خلاصیږي او کورته به ځي.

امریکایې وکیلانو ډیر غوښتلم، نه به ورتلم، یو ځل یې مجبوره کړم چې ورشم، هغوی ویل چې موږ ته اجازه وکړه چې ستا دوسیه په امریکا کې په فیډرالي محکمه کې ثبت کړو، دلته په ګوانتانامو کې هم ځینې محکمې وې، هغوی هم له بندیانو سره کیناستل او فیصلې به یې کولي. د بندي خبرې به یې واوریدلي، بیا به یې سوالونه کول، څه موده وروسته به یې بندي وغوښت، ورته به یې و ویل چې زموږ (امریکایانو) له پاره خطرناک یې، موږ نه شو کولای تا خپل هیواد ته ولیږو، یو کال نور هم ستا د بند موده په ګوانتانامو کې اضافه شوه، په

کال کې به يې يوه جلسه کوله، په دغه ډول جلسو او محکمو کې هيڅ ډول گټه نه وه، داسي هم وو چې ځينې کسانو ته به يې ويلي وو چې ته برئ يې، موږ امريکايان ستا سره ستونزه نه لرو، ته به خلاصيږي، مگر همهغه بندي به په مياشتو او کلونو نور هم په گوانتانامو کې پاتي و، د امريکايانو د گوانتانامو دغه ډول محکمې ډيرې بې اعتباره شوې وې، خپل اعتبار يې دلاسه ورکړی وو، ځکه خو ما وکيلانو ته وويل چې زه نه غواړم خپله دوسيه ستاسي د لاري د امريکا په فيډرالي محکمه کې ثبت کړم، گټه نه لري.

دفيډرالي محکمی د وکيلانو څخه درې مياشتی وروسته امريکايې عسکر راغلل، ويل يې چې تحقيق له پار دي بيايو، لاسونو او پښو ته يې زولني را واچولي، د تحقيق اطاق ته يې بوتلم، يوه وړه کوټه وه، په چوکی يې کينولم، تر چوکی لاندي د کوټې په فرش کې يوه گونډه (کړی) وه، د پښو زنځير يې په کړی پسي قلف کړ، دا يوازی دلته داسي کار نه و ، بلکي هر ځل، هر چيرته چې به يې بيولو دا ډول عمل به يې کاوه، هلته اطاق کې يو ترجمان او بل امريکايې وو، هغه امريکايې ماته وويل چې زه ستا نمانيده يم، تير ځل چی ته زموږ جلسې ته را نه غلي، ستا په غياب کې پر تا فيصله وشوه چې يو کال نور هم په گوانتانامو کې بندي پاتي شي، څه وخت وروسته بيا ستا په باره کې جلسه دايريږي، د راتلونکې جلسې له پاره څه پلان لري؟ جلسې ته حاضريږي او که نه ؟ د امريکايې په لاس کې کاغذونه وو، ويې ويل چې دا کاغذونه واخله ويې گوره، ستا د تهمتونو ورقې دي، او د تهمتونو ځواب ښه په غور سره وليکه او موږ ته يې وسپاره، ډيره غوسه راغله، چې دا خو يو ځل نه دي، هر وخت دغه حال وي، له درد څخه

مې هغه کاغذونه ټول وشیرل، غورځار مې کړل، دوی ته مې و ویل چې زه نه غواړم دغه ډول جلسې ته راشم، همدغې جلسې او ستاسې محکمې درې میاشتې مخکې د تیر ځل پیغام راته واوراوه ، ماته یې وو یل چې ته به کورته ځې ، سور صلیب هم ماته وویل چې ته خلاصیږی او کورته به ځې، درې میاشتې ورسته تاسې وایاست چې نویو تهمتونو ته ځواب ورکړئ.

دا پخپل سر زما نماینده را ته وویل: زه نور نه پوهیږم، ماته یواځې ویل شوې چې دغه تهمتونه درکړم او که ته وغواړې ستا استازیتوب وکړم، ورته مې وویل چې نه ستاسې جلسې ته حاضریږم او نه هم ته زما نمایندګي او استازیتوب کولای شې، بل داچې تاسې وخت په وخت بیځایه او ناسم تهمتونه په بندیانو لګوئ.

یو ځل مو په یوه محکمه کې وویل چې ته د پاکستان د آی ایس آی سړی یې، په بله محکمه کې مو دا تور ولګاوو چې ته د حقاني د شبکې سړی یې، په دریمه محکمه کې مو وویل چې ته د حزب اسلامي حکمتیار سړی یې، ګلبدین ته کارونه کوې، عجیب تهمتونه دي، یو سړی او درې ډلو ته کار کول او هغوی ته لاسرسی، آیا دا امکان لري؟ تاسې امریکایان چې درواغ وایاست، نو په ځای او غور یې وایاست. ښه داده چې یوه خبره او یو درواغ ټینګ کړئ، ډول ډول درواغ او تهمتونه مه لګوئ.

ډول ډول فشارونه یې راباندې راوستل، ملګرو به تسلې راکوله چې الله ﷻ مهربانه دی، خلاص به شې، یو کال وروسته یې نور هم سره له دې چې زما د خلاصون خبره شوې وه زه یې هلته وځنډولم، مګر وروسته اوباما امر وکړ، هغه څوک چې دوسیه یې خلاصه وي، او برئ

شوې وي، هغوی خوشې کړئ، خو بیا هم ډیرو کسانو ته د برئت خبر ورکړل شوی ؤ مگر خوشی نه شول، له هغه وروسته یې موږ څلورو افغان بندیانو ته د خلاصون خبر راکړ، په هغه پخوانی څلورو بندیانو کې یوازی (محمدرحیم) د غزنی ولایت ته یې زماپه شان د دویم ځل لپاره یې خبر ورکړ چی ته به کور ته ځی، پرته له دې چې بیا زموږ سره محکمې او جلسې وشي، د هغې پخوانۍ محکمې او دوسیې له مخې یې موږ ته د خلاصیدو خبر راکړ، مگر هغه درې پخواني افغاني بندیان چې زموږ سره یو ځای د اول ځل لپاره ورته د خلاصون ویل شوې وه ، تر اوسه پوری د گوانتانامو په زندان کې دي، چې قاری حمد الله دکابل ولایت ، معلم ظاهر دغزني ولایت او شاولی د کندهار ولایت څخه دي

**له گوانتانامو زندان څخه خلاصون**

یو ملگري چې پورته می نوم ذکر کړ( شاولی د کندهار )، زه په اطاق کې وم، رامنډه یې کړه، ویل یې چې هله زر کوه، راشه هغه کسان راغلي چې چاته د کور د تگ زیری ورکوي، خدای شته چې خوشاله شوم، ورغلم، هغوی وویل موږ تاته یو ډیر ښه پیغام راوړی دی، ته له گوانتانامو څخه وځې. پوښتنه مې وکړه چې کوم ځای ته وړل کیږم؟ هغوی و ویل نور موږ ته هم معلومات نشته چې په کوم طرف به ځې خو ته به له گوانتانامو څخه وځې.

نږدې یوه میاشت وروسته یې زه له خپل بلاک څخه وایستلم، یوې کوټې ته یې بوتلم، هلته یې یو کاغذ راته ونیو، ویې ویل دغه لیک لاسلیک کړه، ومې ویل چې په دې لیک کې څه لیکلي دي؟ امریکایې وویل لیکل شوې چې ته امریکایې عسکرو نیولي وې، اوس بیرته

خوشې کیږي، ته به زموږ سره دا ژمنه کوې چې په راتلونکې کې به امریکایانو ته ستونزې نه جوړوي، دغه لیک لاسلیک کړه او ګوته دي هم پرې ولګوه، ورته مې وویل چې دا کار به وکړم، خو زه هم ستاسې څخه یو وړوکی لیک غواړم، امریکایي وویل چې ته څه ډول لیک غواړې؟ ومې ویل چې ماته ولیکئ اوه کلونه چې تا په زندان کې تیر کړل بې ګناه وې، موږ دربانديی ظلم او جبر کړی، دغه وخت تا تر تعذیب لاندې تیر کړی، په داسې حال کې چې موږ ستا په اړه هیڅ ډول کوم جرمې ثبوت پیدا نه کړ، بیرته دي خوشې کوو، دغه لنډې جملې راته ولیکئ، لاسلیک او ګوته به تاسې هم ولګوئ، زه به بیا همدغه لیک د افغانستان دولت او خپلو خپلوانو ته وښایم چې وګورئ، زه بې ګناه وم او بې ګناه نیول شوی وم. امریکایي وویل چې داسې خط خو موږ تاته نه شو درکولای، ما (شیرزاد) ورته وویل چې تاسې نه شئ کولای زه هم تاسې ته دا ډول خط نه شم امضاء کولای، امریکا يې د دوی له خوا د چمتو شوې لیک پر لاسلیک ټینګار وکړ؟ ومې ویل چې تاسې ماته خط رانه کړي زه هم داکار نه شم کولی، زه تاسې په کوم جنګ کې نیولی یم؟ په کوم جرم دي نیولي یم؟ تر اوسه دي په ما کوم شی ثبوت کړی؟ اوه کلونه مې دلته تیر کړل، اوه کاله وروسته ماته ویل کیږي چې I am sorry زه بخښنه غواړم، دا خو هیڅ معنی نه لري، امریکایي خفه شو او له اطاق څخه ووتی، زه پوهیدم که دا کاغذ زه امضاء کړم او که نه، انشاالله خلاصیږم به، بیا وروسته ډاکټرانو معاینه کړم، ورپسې د سور صلیب کسان راغلل هغوی پوښتنه وکړه چې ته غواړې افغانستان ته ولاړشې؟ ومې ویل هو زه غواړم چې بیرته خپل هیواد ته ولاړ شم، هغوی وویل چې سیاسي پناه خو به په کوم هیواد

کې نه غواړي؟ ومې ویل چې نه اوس خو یې نه غواړم، ویې ویل په افغانستان کې مشکل لري که نه؟ ومې ویل چې اوس خو ماته نه معلومیږي، چې زه یو ځل ولاړشم، وګورم چې هلته زما د اوسیدو ځای شته که نشته؟ که مشکل وو بیا به اړیکه سره ونیسو، له هغه وروسته یې زه بیرته خپل اطاق ته راوستلم او له خپلو بندي ملګرو سره یې یوځای کړم.

میاشت وروسته په ماپسي عسکر راغلل ، په هغه وخت کې موږ تفریح لرله، له ملګرو سره مو فوټبال کاوو ، یو عرب ملګري د فوټبال میدان ته رامنډه کړه، ویل یې چې هله ژر شه عسکر راغلي، تا بیایې او خلاصیږي ان شاء الله.

څو ورځې مخکې همدغه خبرې کیدلي چې یو ګروپ بندیان خلاصیږي او کورونو ته به ځي، عسکر راته وویل چې له دي بلاک څخه بل بلاک ته بدلیږي، زه پوه شوم چې بیرته ملګرو ته نه راستنیږم، له هغوی سره مې خدای پاماني وکړه، کله به چی کوم بندي ملګری دکور په لور تلی، د خلاصیدو زیری به ورکول شو، پاتې بندیان به ور پسي خپه کیدل ، خو په دي به بیا بندیان خوشالیدل چې ښه ده چې یو ملګری خو مو د دي ظلم او وحشت څخه نجات وموند ، نو زمابندي ملګري هم له یوي خوا څخه زما پر خلاصیدو خوشاله او له بلې خواڅخه خفه وو، ځکه هلته مو ډیر ښه ژوند سره تیر کړی وو، زه یې بل بلاک ته بوتلم، هلته دوه نور کسان هم ناست وو، هغوی هم خلاصیدل، هغوی ته هم د کور د خلاصون ویل شوې وو، شپه یې پر موږ همدلته تیره کړه، سبا ورځ یی نور کسان هم راوستل، ټول موږ ۱۲ کسان برابر شولو، په ګوانتانامو کې ۷ زندانونه وه، زما سره یواځې عبدالقوي په ٦ زندان او یو بلاک کې اوسیدی، دا نور ۱۰ تنه یې د

نورو بلاکو او زندانو څخه راوستلي وو، موږ يې ټول په شپږم زندان کې سره يوځاى کړو، ۴ افغانان، ۲ د سومال (سوماليا) او ٦ د يمن وو، درې ورځې مو نوري هم په ګوانتانامو کې تيري کړي، د مازيګر نږدې ۵ بجې به وي (په هر بلاک کې ديوالي ساعتونه لګيدلي وو) عسکر راغی ويل يې چې ستاسي پرواز دی، واړه واړه د بس په شکل موټر وو، شاوخوا يې ښيښو ته تور پلاسټيکونه لګول شوې وو، د باندي ساحه ورڅخه نه معلوميدله، په همدې کوچنيو بسونو کې کيناستلو، موږ ٦ نفره يې په يوه بس کې او ٦ نور په بل بس کې کينول، د هر بندي سره يو عسکر څنګ ته کيناست، ډير مزل يې وکړ، بيا ګړب او ګړوب شو، د موټر غرهار يو څه بند شو، موټر به زنګيدی، لکه کښتې غوندې، زما تر څنګ ناست عسکر ته مې وويل چې اوس موږ په بحر کې يو؟ هغه وويل هو بحر دی. ومې ويل چې موږ په کښتۍ کې روان يو. هغه وويل هو، موټر په کښتۍ کې دی، د بحر بلې غاړې ته ټاپو دی هلته ځو. سترګې مو نه وې تړل شوې، خپل منځ کې مو له بنديانو سره خبرې کولي، مګر لاسونو او پښو ته مو زولني را اچول شوي وي ، د بحر بلې غاړې ته چې واوښتو، موټر يو څه مزل وکړ، بيا ودريدی، او کښته شوو، طياري ته نږدې وو، ډير زيات امريکايې عسکر راغلي وو، هلته ولاړ وو، نظامي خلک وو، له يونيفورم پرته امريکايان هم پکې ليدل کيدل، البته د استخباراتو کسان به وو، کله چې يې موږ د طياري کسانو ته سپارلو، بيا يې هغه بدرنګه پلاسټيکي عينکې را په سترګو کړي، له دي وروسته مو په سترګو څه نه ليدل، ټينګه تلاشي يې وکړه، د لاسو ځنځيرونه يې هم را بدل کړل، يوه توره پټۍ وه ، د پټۍ په منځ کې دوه تسمې وي، يوه تسمه د يو ولچک پوري او دوهيمه تسمه د بل ولچک

پوري تړل شوې وي ، لاسونه مو د سینې څخه یو څه ازادیدل، د پخوانیو ځنځیرونو څخه دا ځل ډیر ښه وو، موږ پکې ډیر په تکلیف نه وو، په طیاره کې یې په چوکیو کې کینولو او ټینګ ټینګ یې وتړلو، له هغې خوا څخه  په طیاره کې نسبتاً سهولت وو، خولې ته مو لاس رسیدی، هغه ناوړه ماسک هم نه وو، خو بیا هم د تشناب مشکل و، لاس تړلي او پټې سترګې به کسان تشناب ته بیول کیدل، ځکه ملګرو ډوډۍ او اوبه ډیر نه غوښتل، مګر ډوډۍ او اوبه یې را کولې، په دوبۍ کې طیاره کښته شوه، له عسکر څخه مې پوښتنه وکړه، هغه وویل چې دوبۍ ده، سترګې مو تړلي وي، په عرب ملګرو باندي مې په عربی ژبه ږغ وکړ چې السلام علیکم! د خدای په امان. هغوی هم ویل چې الله ﷻ مو مل شه، په ګوانتانامو کې عربان زیات وو، نو ځکه خو هر بندي روغبړ او خدای پاماني په عربې ژبه زده کړي وه، هم هلته یې زما په فکر موږ سره تقسیم کړو، موږ  افغانان یې  یوې وړې نظامی امریکایې طیارې ته وخیږولو، د یمن او سومال کسان به یې په نورو طیارو کې کینولي وي، کابل ته یې موږ څلور تنه راوړو، تمه خو داوه چې زموږ خپلوان به یې خبر کړې وي هغوی به هوایې ډګر کې موږ ته د سترې مشي او هرکلي له پاره ولاړ وي، خو خبره داسی نه وه، سهار ملا اذان ته لا وخت پاتې وو، یو افغان افسر طیارې ته راوختی، سترې مه شئ او د هرکلي څو ټکې یې په پښتو ژبه  وویل، سمدستي یې ورپسي زیاته کړه چې  موټران را رسیږي، او تاسي به پکې ځئ، ورته مې وویل چې مننه قوموندان صاحب! که موږ ته ووایې چې موږ خپلو کورونو ته ځو او که بل ځای ته؟ ویې خندل او ویې ویل چې خیر دی، یو څو ورځې به له موږ سره میلمانه یاست، او بیا به ځئ، موږ دا خبره په ګوانتانامو کې

اوريدلې وه چې کوم بنديان خوشي کيږي، يو ځل يې پلچرخې ته وړي، او بيا يې وروسته خوشي کوي[١٦]، پوه شوم چې د پلچرخې محبس ته مو بيايي، قومندان ته مې وويل دا ډيره عجيبه نه ده چې د يو محبس نه مو باسي په بل محبس مو ور ننباسي، زموږ خو داهيله له تاسي نه وه، ځکه تاسي خو افغانان ياست، که موږ مجرم واى خو امريکا نيولي وو، هغوى خپل تحقيقات پوره کړل، تاسي ولي له موږ سره داسي کوئ؟ همدومره کفايت نه کوي چې کوم وخت موږ په گوانتانامو کې تير کړى؟ د سوالونو ځواب ورسره نه وو، ويې خندل، ويل يې خير تاسي ژر خلاصيږئ، ژر خلاصيږئ .

[١٦] په اول وختونو کې داسي نه وه، مستقيماً به يې د گوانتانامو څخه راخلاص شوې بنديان خپلو کورونو ته خوشي کول.

## د پلچرخې زندان

لږ وروسته یې موږ د خواجه رواش په هوایې ډگر کې افغان عسکرو ته تسلیم کړو، دوی دري ژبې وو، نه پوهیږم هزاره وو، که بل څوک؟ موږ نه لیدل، ځکه سترگې مو تړلې وي، ډیر بد وضعیت یې له موږ سره وکړ، زه یې له لاسونو څخه ټینگ ونیولم، په تیز تیز تگ یې موټر ته بوتلم، فکر کوم چې سرپ موټر (د فورنر زوړ ماډل موټر دی) به و، په وروسته ډاله (د موټر ډکۍ) کې یې واچولم، په سیټ کې دوو امریکایانو په انگلیسي خبرې کولې، زه پوه شوم چې افغانان او امریکایان گډ په موټر کې ناست دي، له ډیر مزل وروسته یې د پلچرخې محبس ته دننه کړم، هلته موږ تقریبا ۳۵ ورځې تیري کړي.

د پلچرخې زندان کې هم داخلي افغانان او وکیلان وو چې راغلل، پوښتنې یې کولې چې څه ډول ولاړئ؟ او څه ډول بیرته راغلئ؟ ټوله کیسه مې ورته وکړه، ورته مې وویل چې موږ ناحقه نیول شوي وو او ناحقه نږدې اوه کلونه په مختلفو زندانو کې ساتل شوې یو.

پلچرخې کې وخت ښه و، ځکه افغانان و، په ژبه ورسره پوهیدو، که به ډاکټر ته اړتیا وه هم به راتلی.

د شپې مهال د محبس د امنیت قومندان زموږ بلاک ته راغی، ویل یې چې هغه ننگرهاری شریف الله چیرته دی؟ فکر مې وکړ چې کوم بلدي نفر راغلی، ورته را ووتلم، روغبړ مې ورسره وکی، ویې ویل چې ستا د لاسه ما ډیره سرگردانه او لالهانده ورځ تیره کړه، قومندان ته مې وویل ولي؟ هغه ویل دا حاجي قدیر تا ولي وژلی دی؟ ما فکر وکړ چې ټوکې کوي، ورته مې وویل چې گوره قومندان صاحب! مړ تا کړ اوس یې په ما (شیرزاد) تاوانوي. قومندان وخندل، ویې ویل ډیر

چالاکه سړی يې او را غبرگه يې کړه چې زه مسخري والله که درسره کوم، نن يو مکتوب راغلی او پکې ليکل شوې چې دا سړی (شريف الله) خوشی نه کړئ، ده حاجي قدير وژلی دی. قومندان ته مې وويل چې هغه (حاجي قدير) خو زموږ د وطن سړی و، هغه والی و، بيا کابل کې وزير و، چيرته زه او چيرته هغه؟ دا به څه ډول امکان ولري چې حاجي قدير دي ما وژلی وي؟ قومندان وويل: موږ ته همداسي يو خط ستا په باره کې راغلی، دلته زموږ سره په محبس کې يو امريکايې کفتان دی، بيا زه او هغه لويې څارنوالي کې الکو ( دلويې څارنوالي مشر) ته ورغلو، هغه ته مو وويل چې دغسي يو خط راغلی، موږ په بندي څه وکړو، فيصله هم پرې شوې چې خوشی کيږي، الکو وويل چې کوم ثبوت شته؟ موږ ورته وويل چې نه يواځې خط راغلی. الکو وويل چې دا خو ثبوت نه شي کيدای، دا چا درته ليږلی؟ چا راوړي او له کومې مرجع نه راغلی؟ الکو وويل چې اول خو؛ ده (شيرزاد) دغه قتل کړی نه دی، بل که څوک قتل وکړي موږ ۱۸ کلونه قيد ورکوو، د گوانتانامو د زندان يوه ورځ په درې ورځو حساب کيږي، دغه بندي اوه کلونه تير کړي چې ۲۱ کلونه محاسبه کيږي، که قتل يې کړی وي هم برئ دی، موږ يو بل ته وکتل، ومو خندل او د لويې څارنوالي څخه بيرته د محبس په لور را روان شوو.

ما (شيرزاد) له قوموندان څخه پوښتنه وکړه چې اوس څنگه کيږي خوشی کيږم کنه؟ قومندان وويل ممکن سبا که نه بله ورځ ، خدای مهربانه دی، او حرکت يې وکړ، زه ډير تعجب کې شوم چې دا اوس حقيقت دی که مسخرې کوي.

زما سره بل بندي ملگری د غزني ولايت څخه و، هغه ته د شپې

خوب نه ورتلی، ویل به یې چې ته لږ سوچ وکړه، قومندان چې کومه خبره وکړه دا به رښتیا وي چې سبا یا بل سبا به خلاص شو؟ او یا دا چې قومندان به دا خبرې د مسخرو په ډول کړي وي؟ ما (شیرزاد) په هغه وخت کې مطالعه ډیره کوله، کتابونه مې ډیر لوستل، ملګري ته مې ویل چې الله ﷻ مهربانه دی، خلاص به شو، د غزني بندي ملګری مې د شپې تر لسو بجو پوري ماپسي تلی او راتلی، هر ځل به یې پوښتنه کوله چې ته لږ سوچ وکړه، چې څنګه به شي، اخر کې مې ورته وویل چې زه مطمئن یم ان شاء الله چې خوشی کیږو به.

سهار شو، د لمانځه وخت شو، بیا هم هغه بندي همهغه خبره وکړه چې څنګه به شي؟ نن به خلاص شو که نه؟ ومې ویل چې یقین مې دی چې خلاصیږو، او نن ورځ هم د خوشي کیدو ده، د پنجشنبې ورځ به عموماً ځینې بندیان خوشي کیدل.

د سهار چای مو څښلو چې عسکر راغی، ویل یې د ګوانتانامو بندیانو! پنډکیان (غوټې) مو وتړئ چې حرکت دی له خیره تاسي خلاصیږئ، یو دم د تکبیر چیغې شوې، د نورو بلاکونو بندیانو هم دا خبره واوریدله، چې د ګوانتانامو څخه راغلي بندیان خوشي کیږي. په بلاک کې د تکبیر چیغې او ازانګې پورته کیدلې.

موږ ۱۲ تنه خوشي شوو، ۴ د ګوانتانامو د زندان څخه او ۸ تنه د امریکا په لاس کې د باګرام زندان څخه چې پلچرخې ته راوړل شوې وو ،د ګوانتانامو څخه عبدالقیوم او محمد هاشم دکندهار، محمد رحیم د غزني، او زه (شیرزاد) د ننګرهار، ټول د طالبانو په تور نیول شوې وو، موږ یې له پلچرخي محبس څخه را و ایستلو، خو زموږ خپلوان یې نه وو خبر کړي، د چهار شنبې ورځ زموږ د خپلوانو سره د ملاقات ورځ

وه، زما پلار ورونړه او د تره زامن زما پوښتنې ته زندان ته راغلي وو، راته ويې ويل چې موږ ځارنوالي ته تللي وو، پر تاسي ټولو باندي يوځای فيصله کيږي او خوشي کيږئ، خو موږ نه وو خبر او نه هم هغوی ته ويل شوي وو چې سبا به خلاصيږئ، د چهارشنبې ورځ زما قريبان بيرته راځخه ولاړل، د پنجشنبې په شپه يې موږ ته دخوشې کيدو مشروط خبر راکړ، د پنجشنبې سهار يې خوشې کړو، ماته ورونړو دوه نمبرونه راکړي وو، هغوی ويل چې که چيرته خوشی شوې نو په دغه نمبر به موږ ته زنگ وهې، اطاق ته ننوتلم، ژر ژر مې هغه نمبر په يو کاغذ وليکی او کاغذ مې جيب ته واچاوو، له پلچرخې څخه يې موږ ملي امنيت ته بوتلو، هلته د امنيت مسؤل تن موږ ټولو ته وويل چې په تاسي پسې ډير ځار دی، تاسي بيا نيول کيږئ، بايد چې ډير احتياط وکړئ، تاسي ټولو ته وايم، ډير احتياط به په آينده کې کوئ، ښه ډير تقرير يې وکړ، په هاشم يې ږغ وکړ چې خصوصاً تاته وايم، ای هاشمه! هغه وويل چې صيب! ما څه کړي؟ د امنيت کارکوونکې وويل چې بس خبرې به ډيرې نه کوي، ستا په سر ما ډير جنجال کړی دی، ډير مشکلات مې تير کړل، خلک مې خپه کړل، ډير کوشش مې وکړ، که زه نه وای تر اوسه به په محبس کې وای، والله که شل کاله هم خلاص شوی وای، ځکه تا حاجي قدير وژلی دی، ما (شيرزاد) خپلو دوو نورو ملگرو ته وکتل چې بيگاه د محبس قومندان ماته دا خبره وکړه، او نن د ملی امنيت کارکوونکي بيا هاشم ته دا خبره کوي، فکر مې وکړ چې ولاړ شم او ورته ووايم، چې دا څنگه حاجي قدير دی د مومن خان ښامار مو ورڅخه جوړ کړ چې بيگاه ماته د محبس قومندان ويل چې تا (شيرزاد) وژلی اوس هاشم ته تاسي واياست چې حاجي قدير تا وژلی

دی، ملګري مې سترګه راته ووهله چې ارام کینه، پریږده چې ګرېږي، که نه زه پورته کیدلم ورته ویل مي چې دا څه ډرامه ده؟

بیا یې موږ ټول د صبغت الله مجددي دفتر ته بوتلو، ویل یې چې تاسي ته د خلاصون کارډ درکول کیږي، هغلته یې موږ ته یو مکتوب راکړ چې پکې لیکل شوې وو، تاسي د امریکایانو له خوا نیول شوې واست او د بیا پخلاینې د پروګرام په هڅو بیرته راخلاص شوئ، پنځه سوه افغانۍ (لس ډالره) یې هم راکړې، ورته مې وویل چې په دې ۵۰۰ افغانیو به موږ چیرته ورسیږو، زموږ سره نوري پیسې هم نه وې، ویل یې بس همدغه شی دي که رسیږئ او که نه رسیږئ، در وایې خله، ډیرې خبرې مه کوه.

## کورته رسیدل

زما سره د ننگرهار بل ملگری هم و چې د باگرام زندان څخه راوستل شوی و، د خوگیانیو د کبړې ولسوالي اوسیدونکی و، هغه ته مې وویل چې ته خو اوس کورته نه شي رسیدلای ځکه چې نور مازیگر دی ، دواړه به زموږ کورته ولاړ شو هلته به شپه له ماسره وکړي ، زما کور په ښار کي دی، بیا مو یو کرولا موټر (کابل ښار کې د ننگرهار تر اډي) پوري کرایه کړ، د ټکسي چلونکې څخه مې ټلیفون وغوښت، ټلیفون مې وکړ اول مې له ورور سره بیا دوېمه شماره د ماما زوی سره رخ شوه، هغوی ته مې د خپل خلاصون خبر ورکړ، له ننگرهار اډې څخه په کرولا موټر کې د ننگرهارپه لور وخوځیدو، څنگ کې مي بل نفر کیناست چې هغه هم ننگرهار ته تلی، له هغه سره ټلیفون و، چې کله سروبې ته ورسیدو، څنگ کي ناست سړي ته مې وویل چې موږ خو له زندان څخه تازه راخوشي شوې یو، ټلیفون نه لرو که ته مهرباني وکړي، دغې شمیرې ته یو زنگ ووهي، هغه مسافر سمدستي ټلیفون راکړ، ورور سره مې خبره وکړه، هغوی ماته وویل چې موږ در روان یو چیرته یې؟ ومې ویل چې ډیر ناوخته دی موږ له کابل څخه را راون شوې یو، سروبې ته را رسیدلي یو، تاسي دغلته ننگرهار کي ایسار شئ، هغوی وویل سمه ده موږ به د سرخرود دوه لارې کې درته ولاړ یو، زموږ د سفر ملگري چې په یوه موټر کې مو سفر سره کاوو، هغوی هم پوه شول، موږ هم ورته وویل چې په گوانتانامو او باگرام کې بندیان وو، ډیر خپه شول .

ورونو او خپلوانو مې ډیر زنگونه دهغه بل مسافر په ټلیفون راته وهل، ویل یې ټلیفون مه بندوه، موږ غواړو په ټوله لاره ستاسره خبرې وکړو،

ما ویل خیر دا دی زه در رسیږم، خو بیا هم د هغوی زړه طاقت نه کاوه، پنځه او لس دقیقي وروسته به یې زنګ راته واهه او ښې ډیرې خبرې به یې راسره کولې البته چیرته چې به ټلیفون کار کاوو، موږ چې کله ورته ورسیدو، ګلونه یې غاړې ته را واچول، د بازار خلک راټول شول پوښتنې یې کولې چې څه خبره ده، ځکه نه واده شته، او نه د حج وخت دی، ولې خلک د دغو کسانو په غاړه کې ګلان اچوي؟ وروسته هغه د بازار خلک هم خبر شول چې له ګوانتانامو او باګرام څخه بندیان راغلي دي، ګردو روغبړ راسره وکړ، مبارکي یې راکوله، کورته چې روان شوو، ورونړو مې راته وویل چې کله تا موږ ته وویل چې زه په سره کرولا کې در روان یم، دې وخت کې سرې کرولاګاني هم ډیرې د کابل له خوا راتلې، یوه سره کرولا راغله، له موږ نه لږ مخکې تیره شوه او ودریدله، موږ ویل چې بس همدا ده، د ماما ځوی سره موګل وو، یوه د ماما ځوی د کرولا د مخ دروازه خلاصه کړه، بل غوښتل چې په کرولا کې د ناست سړي په غاړه کې ګل ور واچوي، هغه د کرولا د مخ د سیټ سړي وویل چې څه خبره ده؟ وه وروره تاسي څه کوئ؟ بیا د ماما زامنو ورته وویل چې ډیر وبخښه، زموږ یو ملګری دی هغه راځي موږ په تاسي باندی دهغه ګمان وکړ، غلط شو.

له ورونړو سره په موټر کې ناست وم، د کور پر لور روان ؤ چې دپلار ټلیفون مې راغی ، زموږ په اړه یې پوښتنه کوله ، ورور مې ځواب ورکړ چې دوی راورسیدل، اوس د کور خواته در روان یو، زما د مشر ماما ځوی اکبر خان موټر چلاوو، ورته مې وویل چې د کلي جومات سره ودریږه ، چې یو څو رکعته د شکرانې لمونځ الله ﷻ ته کوومه او بیا به کورته ننوزم ان شاء الله، د کلي جومات ته ورسیدو، زما سره یو څو

کسان نور هم جومات ته ننوتل او مور گردو د شکرانې لمونځ وکړ، ورور ته مي وویل چې اوس مې مور خبره کړئ چې را ورسېد په جومات کې لمونځ کوي را به شي، زه چې د کابل څخه را روانېدلم په ټیلیفون کې مې ورور ته وویل چې مور په ډېر احتیاط سره خبره کړئ، ورته ووایاست چې ممکن نن به راشي، کله چې سروبی ته راورسېدو بیا مي پوښتنه وکړه چې مور می څنګه ده؟ ورور مي وویل ښه ده ، مور ته وایې چې خدای ج دي وکړي چې نن شپه راشي، لږ مخکې مو ورته وویل چې سروبي ته رارسیدلی دی، زموږ مورکۍ د وینې د فشار لوړیدو مریضي درلودله، له همدې امله مو په یو ناڅاپه او یوځل نه شوای خبرولای،ځکه نه یې د زیاتې خوشالۍ او نه هم د خفګان توان درلود.

د کور په دروازه ورننوتلم، د کور ماشومان مي له پښو څخه تاو شول ، ما هم هر یو په سر او مخ ښکلول خو پیژندل مي نه، وروسته یې هر یو را معرفی کاوو چې دا د فلانکي ځوی دی او دا د فلانکي لور، زه لا د ماشومانو سره په روغبړ وم چې پلار مي راغی، کلک یې په غیږ کې ونیولم ، پلار مې ډیر د غټ زړه خاوند او با جرائته دی، مګر په دی وخت کې می د ده د زړه درزا او سلګۍ واریدي ، زه هم ناتوانه شوم ، د پلار سلګۍ ته په سلګیو شوم.

الله ﷻ دي ریا په کې نه را ولي چې کله مې په جومات کې لمونځ کاوو ، یو څه مې زړه سپک کړی ؤ ( الله ﷻ ته مې ډیر وژړل)، خو د پلار او مور په لیدو مې صبر او حوصله دواړه یو دم له لاسه ورکړه، زړه می را ډک شو ، اوښکی بی صبره شوي، سترګو هم د وتلو اجازه ورکړه ، رڼې رڼې اوښکې مې په مخ را روانی شوې، مابه ژر ژر اوښکې

پاکولې، کله چې د انګړ منځ ته ورسیدم ، مور مې مخې ته را غله، زه یې په غیږ کې کلک ونیولم او په یوه ساه لګیا شوه ، الله شکر! خدایه شکر!خدایه شکر ...شکر.........شکر.....، نور یې اواز خپ شو، لاسونه یې مړه پړه شوه، زما ورور قدرت الله شیرزاد او د ماما ځوی می مور راسره و نیوله ، په ځمکه ورسره کښیناستو، ډیره عجیبه او غریبه صحنه وه، د خوښۍ او خوشحالۍ ورځ وه خو زمونږ د ټولو له سترګو څخه اوښکی بهیدلي.

الله تعالی دي زمونږ دټولو ملګرو، کورنۍ، قریبانو او دوستانو قربانۍ قبولي کړي، چاچی داسلام او دین لپاره ګاللی وې، او الله تعالی دي ټولو ته په ژوند او له ژوند څخه وروسته د سختیو او کړاو ګاللو عوض ورکړي، امین یارب العالمین

# حاجي محمد نعیم کوچی

**پېژندنه:**

حاجي محمد نعیم کوچی چې دا مهال نږدې د ۷۲ کلونو دی[۱۷]، د کوچیتوب ژوند یې درلود، له ده مخکې اته پلرونو یې د کوچیانو مشري کړي، او ځانګړې د هستونګې ځای یې هم معلوم نه و، اوسمهال په لوګر او کابل کې مېنې لري، او ډېر وخت د لوګر ولایت حصارک ولسوالي کې د خپلو خلکو منځ کې ژوند کوي.

د روسانو سره د جهاد پر مهال یې د سرو لښکرو په ضد وسلوال مقاومت او جهاد کړی دی . د افغان کورنۍ جګړې پر مهال په خوست ولایت کې و چې وروسته بیا له طالبانو سره ملګری شو.

کله چې د حامد کرزي حکومت راغی، داچې نعیم کوچی او حامد کرزی د جهاد پر مهال د حضرت صبغت الله مجددي اړوند ګوند ملي نجات جبهه کې و، له حامد کرزي سره د پخوانۍ پېژندګلوۍ له کبله یې لا هم ښې اړیکې درلودلې.

حاجي محمد نعیم کوچی څلور سکني او درې میرني ورونه درلودا، میرني ورونه یې ټول له ده مشران او په سکنیو وروڼو کې یو له ده څخه مشر وو، اوس مهال دوی درې وروڼه ژوندي دي او نور پنځه یې مړه شوي، کوچی ټول ټال ۱۴ اولادونه لري، ٦ زامن یې ژوندي او یو مړ شوی دی.

---

[۱۷] د لړم ۳۰مه، ۱۳۹٦ / د نومبر ۲۱مه ۲۰۱۷

## نيول کيدل

حاجي نعيم کوچي د خپل نيولو خبرې دا ډول پيل کړي: "پر افغانستان د امريکا تر حملې لږ وروسته، د خوست ولايت د يوسف خيل سيمې د ځدراڼو د قوم درې وروڼه د شمالي ټلوالې د کسانو لخوا ووژل شول، نږدې ۳۰۰ تنه ځدراڼ زموږ کور ته راغلل، موږ ټول يو ځای ارګ کې د حامد کرزي ځای ته ورغلو، د ارګ په مسجد کې له کرزي سره کيناستو، لفظي شخړه وشوه، يو ځدراڼ ځوان کرزي ته وويل چې زموږ يې درې کسان را شهيدان او شل زره لکه افغانۍ (۳۴۵۰۰ امريکايې ډالر) يې هم د هغوی له کوره غلا کړي.

کرزي وويل چې دا خو موږ او شتمن سړی دی، ډيري پيسې يې درلودلې چې تاسي دومره خلک د هغه په حق او دفاع کې راغلي ياست، که دا سړی غريب وای بيا دومره خلک ورپسې نه راتلاست. د کرزي دا ډول خبرې په موږ ټولو بدې ولګېدې، او موږ هم د کرز ي د خبرو جواب ووايه. د پکتيا په کچه مو خبره ورته وکړه، چې موږ عذر او زاريو ته نه يو راغلي، دغه ډول ناسمې کړنې تاسي ته راتلونکې کې ولسې ستونزې جوړوي، زموږ خلک له مجلس څخه ولاړ شول، له دي وروسته کرزي بيرته نرمښت اختيار کړ، ويې ويل چې تاسي به ۵ تنه سبا راشئ او ځانګړ ی مجلس به وکړو.

پنځه تنه زما په ګډون وټاکل شول چې سبا سهار به د کرزي سره مجلس لپاره ارګ ته بيا ځل راځي، په ارګ کې دننه مې په لوړ اواز

وویل چې سبا سهار اته بجې به همدلته ځانونه را رسوو، ما د ځان په اړه ډیر احتیاط هم کاوو، بې ځایه نه گرځېدم، ولي دلته زما په اند چې ما تیروتنه وکړه، او په لوړ اواز مې د خپل راتگ خبره هم وکړه.

سبا سهار (۱ جنوري ۲۰۰۳ ) چې د لوگر څخه را تلم، چهار اسیاب ته لا نه وم رسیدلي، نسبتاً هواره سېمه ده، له یو پُل سره زموږ د موټر مخکې بل موټر را وړاندي شو، زموږ موټر ورسره ولگیدی، امریکایان له موټر څخه را کښته شول، هغوی خپل منځ کې خبرې وکړي، ما فکر کاو چې موټر په غلطي له دوی سره لږ ټکر وکړ، خو هغوی زه له منگولو ونیولم او له موټر څخه یې کشته ، د دوی په خپل موټر کې یې ورسره سپور کړم. باور وکړه چې هیڅ تاثیر یې هم را باندي نه دی کړی، بالکل ډاډه وم، لکه چې خپل کور ته روان یم، هیڅ ډول تشویش او اندیښنه مې ونه کړه، پوهیدم چې یوه ورځ به مې امریکایان نیسي. په لاره د مزل پر مهال پوهیدم چې له کابل ښار څخه تیر شوم، او پلچرخی هم نږدې دی، مگر زموږ مزل ډیر وخت ونیو، پوه شوم چې باگرام زندان ته مې وړي.

له ځان سره مې ویل چې هسي هم سپین ژیری یم، عمر مې تیر شوی، نور نو مرگ ډیر رانږدې دی، ښه ده چې د همدې امریکایانو په بند کې یم، که په بند کې مړ شم، دا مې لا گټه ده ،الله ﷻ به مې گناهونه راته وبخشي. "

**د باګرام زندان**

باګرام کې زنداني وم، زموږ د خپل احمدزیو قوم مشران لګیا وو، چې له زندان څخه خوشی شم، درې میاشتې یې په یوه کوچنې اطاق کې وساتلم، ډوډۍ نه وه، یوازې لږ بسکوټ به یې راته را کاوو.

زه یې وهلی نه یم، داچې سپین ږیری وم، په یوه پښه درېدلای نه شوم، او نورې جزاوې هم را باندې دوی نه شوای تطبیق کولای، نو زما له پاره یوازې بې خوبې جزا را کول کېدله، او ډېره بې خوبي به یې را کوله. د اودس او لمونځ ځای هم زما اطاق و، د اودس لپاره اوبه او اجازه نه وه، تیمم به مې واهه.

په اونۍ کې یې یو ځل عمومې د ځان وینځلو تشناب ته پرېښودلو، نور به یې له اطاق څخه د باندې اجازه نه را کوله. کله چې به اړتیا وه چې د قضاء حاجت لپاره تشناب ته بندي ولاړ شي، په اسانه یې اجازه نه ورکوله، تر څو حالت به دې ته ورسېد چې په شور او کنځاو به سړي پېل وکړ، او بیا به یې په داسې سپک ډول تشناب ته بیوتی، چې هر بندي به په دې پښېمانه کیدی چې که توان یې وای چې بیخې تشناب ته نه وای تللای. ما د شکر مریضې هم درلودله، ادرار کولو ته به مې ژر اړتیا پیداکېده، خو تشناب ته اجازه اسانه هم نه وه. باګرام زندان کې مرګ ته سړي خوشالیدې او زړه یې مرګ ته ښه کاوو، تر څو له زجر، تکلیف او توهین څخه نجات ومومي.

**د ګوانتانامو زندان**

نږدې درې میاشتې وروسته یې موږ ټینګ وتړلو، سترګې، لاسونه او پښې مو تړلي وي، له درو میاشتو وروسته لومړی ځل و، چې پوهیدم په بدن مې د لمر وړانګې لګیږي، الوتکې ته یې پورته کړو، هلته یې هم د نورو بندیانو په شان زه چې سپین ژړی او کمزوری شوی هم وم، همداسي ټینګ په الوتکې کې وتړلم. لاسونه ولچک، پښې یې هم په الوتکې کې ځانګړو قلفونو پسې وتړلې، او بیا یې د بلې رسۍ پواسطه په چوکۍ پسې هم ټینګ وتړلم. داسي خولۍ یې را په سر کړه چې هیڅ نه لیدل کېدل، په باګرام زندان کې زما درې میاشتې تیرې شوې، ولي دومره زور او تکلیف نه وو، لکه چې زه یې ګوانتانامو ته په کوم ډول وړلم، په الوتکه کې تړلو او تکلیف تر هغه ۳ میاشتو زیات تکلیف کړم، څومره چې به موږ لاسونه او یا پښې ښورولي، هغومره به زولنې اتومات ټینګېدلي، زموږ لاسونو او پښو کې زولنې دومره ټینګې شوې وي، چې د ختلو / خلاصولو نه وي، بیا یې هغه پرې کړي. داسي نه چې زولني پلاستیکي وي، بلکې د اوسپنې ګیره لرونکي زولنې وي، ډیر یې موږ تکلیف کړو.

د مزل پر مهال یو ځای الوتکه کښته شوه، زه یې بلې الوتکې ته وخیژولم [۱۸]، له لږ ځنډ وروسته الوتکې پرواز وکړ ، موږ یې ماسپښین

---

[۱۸] کیدای شي یوازې حاجي کوچی به نه و، چې له هغې الوتکې یې را کښته کړی وي چې ګوانتانامو ته روانه وه، ما (لیکوال) ته مولوي وکیل احمد متوکل هم ویلي

مهال له باګرام څخه پورته کړي وو، سهار د لمانځه وخت و چې الوتکه کښیناستله، فکر مو کاوو چې ګوانتانامو ته ورسیدو، نه پوهیدم چې کوم ځای دی.

کله چې یې اطاق ته وروستلم، سترګې یې را خلاصي کړي، کټ مټ همهغه د باګرام زندان اطاقونه ، د بریښنا څراغونه او هر څه وو، پوه شوم چې موږ یې بیرته باګرام ته را وړي یو.

ژباړن غرمه مهال ولیدم، ویل یې چې زیرې درکوم چې تاسي خلاص شوې یاست، هغه ته مې وویل چې زما زړه یې نه مني، ژباړن وویل چې ستا د قوم ډیر خلک کرزي ته ورغلي وو، او په کرزي یې فشار اچولي، هغه ستا دخلاصون ژمنه ورسره کړي ده [۱۹].

---

چې د ګوانتانامو زندان لپاره یې الوتکې ته خیژولي و چې ګوانتانامو زندان ته یې انتقال کړي، خو په ترکیه کې الوتکې ناسته وکړه، او بیا یې زه ( متوکل) ورڅخه را کښته کړم، بیرته یې باګرام زندان ته راوړلم. دوی دواړه په همدې یوه الوتکه کې وو، او بیرته یې له ترکیې څخه د باګرام زندان ته راوړي وو.

[۱۹] د سپتمبر ۲۴مه ۲۰۱۹، حاجي میرزا علي خان ما (لیکوال) او ملا عبدالسلام ضعیف ته وویل: زه د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت معین وم، د حاجي نعیم کوچي د قوم مشران راته راغلل، هغوی ویل چې موږ ځو ځله حامد کرزي ته ورغلو، هغه ژمنې وکړي، خو ویې نه شوای کولای چې حاجي نعیم کوچی له بند څخه را خلاص کړي، تاسي ته موږ راغلي یو، که د امریکایې قواوو له مشر سره موږ ته ناسته برابره کړئ.

داچې زه (میرزا علي) د دولت رسمي مامور وم، د یوه بندی د خلاصون لپاره دا ډول غوښتنه او مجلس ترتیب کول سخت و، ما هم د نعیم کوچي د قوم مشران نهیلي نه کړل، له هغوی سره مې ژمنه وکړه چې زه کومه لاره پیدا کوم.

د امریکا سفارت سره مې اړیکه ونیوله چې د پکتیا، خوست او پکتیکا د کوچیانو مشران غواړي د امریکا قواوو له عمومي قومندان جنرال مک نیل General Dan Kelly McNeill سره د سیمې په سیاسي او نظامي حالت باندې خبرې وکړي، هغوی ته مې ونه ویل چې دوی د بندی خوشې کېدو لپاره ور سره ګوري.

له هغو وروسته د ارګ په ګلخانه ماڼۍ کې د پکتیا، خوست او پکتیکا د کوچیانو (احمدزي، نیازي او نورو قومونو) نږدې ۶۰ تنه مشران له جنرال مک نیل سره کیناستل، پخواني لومړی وزیر انجنیر احمدشاه احمدزی هم راغلی و.

له مقدماتې خبرو وروسته، د کوچیانو مشرانو جنرال مک نیل ته وویل، چې موږ په یادو دریو ولایتونو او لوګر کې په لکونو ځوانان لرو، اوس مهال موږ په خپلو سېمو کې اوسیږو، خو ستاسي د پوځیانو لخوا زموږ کورونه تالاشي کیږي، زموږ کسان بندیان کیږي، او موږ ځورول کیږو، که ستاسي د پوځیانو همدا عمل وي، موږ مجبوره یو چې ستاسي (امریکا) په ضد هم داسي وجنګیږو لکه چې د روسانو پر ضد مو جهاد کاوه.

لږ وروسته یوه بل قومی مشر جنرال مک نیل ته وویل: جنرال صاحب! زموږ ولسمشر تاسي یاست که حامد کرزی؟ جنرال وویل چې ستاسي ولسمشر حامد کرزی دی.

قومی مشر ورته وویل: داسي نه ده، اصلاً دلته ټول واک له تاسي سره دی، کرزی ستاسي غلام دی، هیڅ واک هم نه لري، زموږ د کوچیانو لوی مشر حاجی نعیم کوچی تاسي بندی کړی، موږ حامد کرزي ته ورغلو، هغه ویل چې په دوه ورځې کې یې درته خلاصوم، خو هغه هیڅ واک هم نه لري، نږدې یو کال پوره شو، مګر هغه راته را خلاص نه کړ. موږ له تاسي غواړو چې زموږ مشر راته را خوشی کړئ، هغه ډیر سپین ږیری دی.

په جنرال مک نیل دا خبره ډیره بده ولګېدله چې قومي مشر ورته وویل چې کرزی ستاسي غلام او هیڅ واک نه لري، هغه سخت غبرګون وښود، بیا یې وویل چې نعیم کوچی له موږ سره بندي دی، هغه ډیر خطرناک سړی دی، له طالبانو او القاعده سره یې اړیکې درلودلې، موږ له هغه څخه تحقیق کوو.

درې مياشتې نور هم زه په باګرام زندان کې پاتې شوم، بيا ځل يې الوتکې ته وخيژولم، د تير په شان يې په الوتکه کې ټينګ ټينګ وتړلم، موږ يې ګوانتانامو ته ورسولو، دلته کابل کې هواء سړه وه، خو هلته ګرمې وه، د هوا بدلون پر موږ ناوړه اغيز درلود، لاسونو او پښو مې پاړسوب پيدا کړی و. کله چې يې زولنې را خخه ليري کولي، په پښو او لاسونو کې لويدلي وي، او زخمونه يې زما لاسونو او پښو کې جوړ کړي وو، بيا يې زما د لاسونو او پښو اوسپنيزې زولنې په فلزي قيچي قطع کړي.
ګوانتانامو کې قانوني يوه مياشت دا جزا وه چې کوټه قلفې وي، يوازي به بندي په اطاق کې کوټه قلف و، له وړوکي غار (کړکۍ) به داسي څه چې سړی پري نه مړيدی، موږ ته راکول کېدل، بسکوټ به وو. بشپړ يوه مياشت چا هيڅ پوښتنه هم را خخه ونه کړه.

همدې اطاق کې چې کوچنی و، همدلته پکې تشناب هم و، د باندي يې بيخې نه ايستلو، اودس او لمونځ مې هم په همدې وړوکي اطاق کي کاوو، په اطاق کې له يو ديوال تر بله پښې رسيدلي او خوب هم پکې کيدی.

له يوې مياشتې کوټه قلفي وروسته يې قفس ( چې نور بنديان هم ليدل کېدل) ته بوتلم، قفس له سيخانو جوړ و، لاندي يې ترپال (نازک فرش) ډوله څه و، ساده کيمپله هم راکول شوه.
ګوانتانامو کې د قفس اړوند خلکو شکايت درلود، مګر زه په قفس کې دومره زيات په تکليف نه وم، خوشاله وم، لمر مې وليدی، ځمکه او

---

قومي مشر ورته وويل: موږ دغه ناست ټول مشران د حاجي نعيم کوچي ضمانت کوو، چې هر کله ستاسي په کار وي، موږ يې د تحقيق لپاره تاسي ته حاضرو، خو ډير سپين ژيری دی، هغه را خوشی کړئ.

اسمان مې ولیدل، خلک مې ولیدل، خو بې خوبې ډېر ځورولم، او داچې د اودس او لمانځه لپاره به مشکل وو. د قفس وخت کې لس او یا پنځلس دقیقې به یې گرځیدو ته هم پریښودلو. یو یو تن به یې ایستلو، ځکه که به یې ډېر سره یو ځای ایستلي وای، عرب ډېر ضدي خلک وو، کوم یو چې به هلته میدان کې کیناست، بیرته به قفس ته نه تلی، بیا به امریکایانو ته ډېر تکلیف و، هغه کس به یې بیرته په اساني قفس ته نه شوای را وستلای، بندي به زور ورسره کاوو.
لومړي یې د ملا عبدالسلام ضعیف سره نږدې په جلا قفس کې وساتلم، او بیا دویم ځل یې درې میاشتې له ملا فاضل اخوند سره نږدې بېل قفس کې وساتلم، او له یو بل سره مو خبرې هم کولې. بندیانو به تلاوت کاوو، لمونځونه به یې کول او اذکار به یې ویل، همدا د بندیانو تفریح او هر څه وو.

کله چې قفسونو کې اوسیدم، خوشاله وم، تحقیق یې هم را ښخه کاوو، د تحقیق پر مهال مختلفې جزاګاني هم بندیانو ته ورکول کېدی، او ماته هم راکول کېدي.

یو ځل یې په یو وړوکي اطاق کې ایرکنډیشن ته کینولم، سړه هوایې را باندې را پریښودله، دومره سړه، چې فکر مې کاوو، له یخه به مې زړه وچوي.

د کیناستو جزا یې هم راکوله، ځای په ځای به یې له ۴ تر ٦ ساعتونو کینولی وم، چې په یو ډول به په دوو پښو ناست وم، او اجازه به یې نه

راکوله چې ارام کښينم[۲۰] . د وهلو جزا يې دلته هم را نه کړه، د بې خوبۍ جزا يې را کوله، کومه ورځ يو ځل، کله دوه او کله هم درې ځله به يې تحقيق ته له قفس څخه ايستلم.
د تحقيق پر مهال به يې ډول ډول پوښتنې کولې، داسې: تاسې (کوچي) او ګلبدين حکمتيار د جهاد وختونو کې څو ځله سره ليدلي او تاسې يو بل سره څه وويل؟

جلال الدين حقاني سره دې رابطه څه ډول وه او څو ځله مو سره ليدلي او څه پلانونه مو درلودل؟

امريکايې محقق به ويل چې تاسې جګړې کړي، له طالبانو سره هم د جګړو پر مهال ملګرى وې.

ما (کوچي) هم رښتيا خبره ورته وکړه، امريکايې محققينو ته مې ويل چې زه طالبانو ته کندهار ته نه يم ورغلى، هغوى پکتيا او خوست ته راغلل، او نږدې ټول افغانستان يې نيولى او تر کنټرول لاندې را وستلى وو. د هغوى حکومت و، ادراه يې وه او ښه امنيت يې را وستلى و.

ځينې پوښتنې چې به يې وکړې، جوابونه به مې ورته ورکړل، بيا به يې نوې پوښتنې کولې، ماته معلومېدل چې معلومات له هيواد څخه دننه ورکول کيږي.

[۲۰] حاجي نعيم کوچى ډير ضعيف او سپين ژيرى دى، هغه ته په دوو پښتو کيناستل اصلاً له هر ډول جزا هم سخته جزا ده.

مثلاً ويل يې: د پکتيا په مچلغو کې چې ستاسي مجاهدينو جبهې وي، تاسي هلته له فلاني سره وکتل او فلاني ځای کې مو داسي عمليات او کار وکړ.

له ملامحمد عمر مجاهد سره دي رابطه څه ډول وه، او څو ځله دي ورسره ليدلي دي، هغه څه درته ويلي او تاسي څه ورته ويلي او دهغه په امر مو کوم کارونه سرته رسولي.

ډيرې پوښتنې يې د گلبدين حکمتيار او جلال الدين حقاني په اړه را څخه کولي، او دا پوښتنې يې هم کولي چې کومو هيوادونو ته دي سفرونه او دکومو موخو لپاره کړي دي.

يوځل يې د تحقيق پر مهال يو ماشين راووړ، ويل يې چې دا ستاسي رښتيا او درواغ معلوموي، داسي اله وه لکه د زړه گراف چې اخلي ، زه پوه شوم چې دا هسې روحې ستونزه جوړوې، او د دروغو او رښتيا معلومولو ماشين نه دی، امريکايانو ته مې وويل چې تاسي دروغ واست، دا ستاسي ماشين هيڅ هم نه شي معلوملای، نه رښتيا او نه دروغ معلوموي، هسې خلک وربانديې وارخطا کوئ، دوی هم وخندل. د ماشين کمال داوو، چې په دي وخت کې به د ډارن سړي د زړه ضربان زياتيدی.

روحې فشار يې هم د تحقيق پر مهال پر بنديانو راووړ، يو ځل ماته امريکايې محقق وويل چې تيرو کلونو کې به ستا سي (کوچي) وروڼه په لوگر کې هستوگن وو، اوس هلته نشته، چې هغوی به چيرته تللي وي؟

پوه شوم چې روحي فشار را باندي راوړي، محقق ته مې وويل: زه ورباندي پوهيږم، د امريکانو په ضد يې ټوپک اخيستی دی، جګړه به کوي. داچې زه بندي يم، او دوی لاهم په کور ناست وي، بد به وکړي، دوی به خامخا د امريکايانو په ضد جنګيږي، ځکه زه امريکايانو بندي کړی يم. محقق پوه شو چې تر روحي فشار لاندي نه راځم، ويې خندل او خبره يې بل لورته واړوله، نورې پوښتنې يې پيل کړي. په همدغسي پوښتنو به يې بنديان ډير انديښمن کول، او بيا به بنديانو په اطاقونو کې چورتونه وهل.

يو ځل بيا محقق وويل حاجي خان! پخوا به ستا قوم (احمدزي کوچيان) خوست کې د ډيورنډ کرښې ته نږدې ميشت وو، اوس هغوی د ډيورنډ دې غاړي (افغانستان) لورته نشته، چې هغوی به چيرته وي؟

امريکايې محقق ته مې وويل: زه پوهيږم چې هغوی زما په بندي کېدو بده منلي، خفه شوې، دوی به اوس له امريکايانو سره جنګيږي، او مېنې (د اوسيدو ځايونه) به يې هم بدلي کړي وي.

امريکايې محققينو به ډيری بنديان په دغسي خبرو باندي روحې مريضان کول، عرب په دې اړه ډير حساس او هيجانې کېدل، دومره بد تاثير به يې ورباندي کاوه، چې سم دم ليونيان به شوو. او بيا به يې د نه خوړلو اعتصاب هم ور پسې کاوو، ځکه عرب هم ډير ضدې خلک دي. يوه عرب پوره ٦ مياشتې ډوډۍ ونه خوړله، هڅوکي يې نري شول،

سترګې يې مخ کې رډې را ووتلي، امریکایانو به پیچکارۍ (ستنې) ورته لګولي چې د نه خوړو له امله مړ نه شي.

هر چا به همدې عرب بندي ته زارۍ کولي چې لږ ډوډۍ وخوري، يو ځل موږ ځو تنو نورو بنديانو هم ډيري زارۍ ورته وکړي، عرب وويل چې سمه ده، ډوډۍ خورم، په منډه امریکایانو ډوډۍ را ورسوله، مګر عرب ونه خوړله، ويل يې ما له الله ﷻ سره وعده کړي چې زه به د امریکایانو ډوډۍ ونه خورم. کيداۍ شي همهلته به مړ شوی وي.

ډيری بنديان د خپلو خبرو له امله ګوانتانامو زندان کې وځنډيدل، هغوی چې په خبرو کې يې د تحقيق پر مهال غور نه کاوو، امریکايي محقق به مجلس پيل کړ، د کورنۍ اړوند، د ورونو او کلي په اړه به يې داسي خبرې کولي چې د بندي توجه به يې بيخې بل لورته واړوله، بيا به يې اصلي پوښتنه په دغسې مهال له بندي وکړه، او دهغه به هيڅ پام هم نه وو، د ځينو بنديانو به له خولې ځينې خبرې ووتلي، او بيا به همهغه خبرو ورته ستونزې جوړولي.

بنديانو خپلو کورونو ته ليکونه استول او د کور لخوا هم ليک ورته راتلی، خو غټه ستونزه دا وه چې امریکایانو به ليک عيبي کاو، خراباوو به يې، د ليک ځينې برخې به يې ورڅخه پاکې کړي او يا به يې لاس پکې وواهه، چې تشويش او انديښنه يې لوستونکې (بندي) ته پيدا شي. ما له ګوانتانامو څخه زيات ليکونه خپل کور ته راليږلي وو، خو يوازي يو ليک زما کورنۍ ته رسيدلي و. کوم ليک چې به د کور لخوا

را رسیدی، هغه مهم ځای، نخښه، یا شفرې خبره چې به پکې لیکل شوې وه، هغه ځای او جملې به امریکایانو داسې توږلې وې چې سرې نه پوهیدی، او دغه لیکونه د سور صلیب لخوا وړل کیدل او را وړل کېدل.کله چې زه په گوانتانامو کې بندي وم، له کور سره په ټلیفون د خبرو کولو اسانتیا بیخې نه وه.[21]

کله به یې په کوچنۍ قطعي کې بندې شیدې را کولې، موږ په یو ډول غوښتل چې مستې ورڅخه جوړې کړو، کله چې به امریکایان پوه شول، او یا به یې مستې ۲۲ را سره ولیدلې، بیا به یې جزا راکوله. که به یې په اطاق کې اضافي شی (د خوراک او یا هم پلاستیکي پیاله) پیدا کړه، د جزا په ډول به یې په قفس او یا اطاق کې د خوب او اوسیدو لپاره ټول هر څه فرش او کیمپله وړله او یوازې خپل د بدن کالي به یې بندي ته ور پرېښودل.

---

[21] په وروسته وختونو کې د گوانتانامو بندیانو لپاره په ټاکلې موده کې د خپلې کورنۍ سره د ټلیفون په لیکه د خبرو اجازه ورکول کېده، او دغه اسانتیاوې د سور صلیب لخوا چمتو کیدې.

[22] زه (لیکوال) چې د کابل د ملي امنیت په ۵۰۱ ریاست (ریاست ۴۰) کې بندي (۳۱ جولای تر ۴ اکتوبر ۲۰۱۷) وم، موږ هر بندي ته یې سهار مهال نږدې ۲۰۰ گرامه د شیدو قطعې را کوله، ډیره هڅه مو وکړه چې مستې ورڅخه جوړې کړو، ونه توانېدو، مگر په زندان کې ځینو بندیانو له شیدو څخه د مستو جوړولو چل زده وو، هغوی به له شیدو څخه مستې جوړولې.

په اونۍ یا هم دوه اونۍ کې به یې تالاشي هم کوله، هر اضافه شی جرم و، یو ځل زما سره په جیب کې نږدې ۸ زره افغانۍ وې، دا هم جرم و، چې ولې زیاتې پیسې یو بندی له ځان سره ولري. پرته له قران کریم بل د هیڅ شي اجازه نه وه.

د شپې به په خوارۍ خوب ویده وو، یو ناڅاپه به دربی شو، اطاقونو دروازې به یې ډبولې او ویل به یې چې اطاق کې تلاشي کوو، د تلاشي خبره نه وه، یوازې بندي تکلیف کول و، ځکه هلته په هغه ځای کې به بندیانو څه شی له ځان سره پټ کړي وای، هیڅ شی نه ورته رسیدی. کله به یې په لوړ اواز په نیمه شپه کې ساز ږغاوو تر څو بندیان اذیت او تکلیف شي.

بندیانو هم جنجالونه او مظاهرې کولي، مثلاً اوازه به شوه چې امریکایې قران کریم ته لاس ور وړی، داچې د مظاهرو په نتیجه کې له امریکایانو سره د بندیانو توافق داسي شوی وو چې امریکایان به قران کریم باندی لاس نه وهي، کله چې به بیا اوازه خپره شوه، سمدستي به بندیانو بیا تظاهرات پیل او امریکایان به ډیر ورسره تکلیف کېدل.

داچې زه سپین ژیری وم، عربو او نورو بندیانو به ویل چې تاسي (کوچی) به مظاهره کې برخه نه اخلئ، ځکه د جزا توان بیا نه لرئ، په همدې بلاک کې تر ټولو زه سپین ژیری وم [۲۳]، چې له تحقیق به یې بیرته راوستلم، په بلاک چې به رانوتلم، په خپلو قفسونو کې به ټول د احترام لپاره ماته ودریدل، الله ﷻ دي له دوی ټولو سره احسان وکړي.

امریکایان چې به اطاق ته د تالاشي لپاره راتلل، بیا به سپی هم ورسره و، د دروازې سره به یې درولی و، او بیا به یې قفس ته د تالاشي لپاره

---

[۲۳] مولوي عبدالسلام ضعیف په خپل کتاب (د گوانتانامو انځور) کې د ارزگان د یوه سپین ژیرې مجاهد یادونه کړي چې نږدې ۱۰۵ کاله عمر یې درلود، او دا ډول د کابل ولایت د سروبې ولسوالي حاجي نصرت هم ډیر سپین ژیری و.

هم ور دننه کاوو، دعرب اطاق ته چې امریکایان ورتلل، هغه ورته وویل چې سپی به زما قفس / اطاق ته نه را ننباسئ، امریکایانو نه ورسره منله، عرب څو ځله ورڅخه وغوښتل چې سپی یې اطاق ته ور نه ولي، بله ورځ عرب ورته متوجه او چمتوالی نیولی و، کله چې امریکایان دده اطاق ته ور دننه کېدل، عموماً به یې سپی لومړی اطاق ته ورپرېښودی، او دوی به له شا ورپسې اطاق ته ور دننه کېدل.

په دي ورځ عرب بندي د خپل اطاق دروازې شاته ورته پټ او امادہ ناست و، کله چې امریکایانو د عرب د اطاق دروازې قلف ور خلاص کړ، عرب پر سپي حمله وکړه، سپې کوړنچارې شروع کړي، او امریکایانو منډه واخیستله، وتښتېدل. عرب سپي ته سوکان بند کړي وو، سپې چغاري وهلي، او امریکایان کله یوه بندي ته ورشي، هغه بندي چې په انگریزي به پوهیدی، ورته به یې ویل چې تاسي دغه عرب ته وواياست چې سپي ونه وهي، او کله بل بندي ته، خو عرب هغه سپی ډېر زیات وواهه، او بیا په ډېر تکلیف امریکایې پوځیانو په عرب هجوم وروړ او خپل سپی یې ور څخه خلاص کړ.

دعرب دغه کار دا گټه بندیانو ته وکړه، چې له دي وروسته امریکایانو د بندیانو د اطاقونو د تالاشي لپاره سپی نه راوستی، او بیا یې په سپي اطاقونه نه تالاشي کول.

کله چې به د خلاصیدو وخت د بندیانو را نږدې شو، بیا به یې له قفسونو څخه وایستل او تر دولس کسانو به یې په یوه اطاق کې اچول، موږ دا

وخت نږدې ۱۲ کسان په یو اطاق کې اوسیدو، یو ځل چې موږ یې د باندې لمر اخیستلو ته ایستلي وو، میدان ته یو لوی مار راغی، ډیر غټ مار وو، زموږ یو بندي ملګری چې د بنګله دیش و، هغه مار وواهه او مړ یې کړ. د مار مړ کېدل نه و، لکه چې لس کسان وژل شوې وي، او بنګله دیشې بندي لوی قتل کړی وي.

ډله ډله امریکایان همدې د مار وژلو ځای ته راتلل، په ټولو بلاکونو کې د امریکایانو تر منځ دا خبر خپور شو چې بندي مار وژلي، دا نو د دوی په نزد یو لوی جرم و. بنګله دیشی مو ځورواو، نورو بندیانو ورته ویل چې شل کلونه به نور قید هم د مار د قتل له امله تاته درکوي.
هلته زما د سپین ژیرتوب مراعت هر بندي کاوو، ډیر زړور او تکړه مجاهدین بندیان وو، خو ځینې پکې ډارن او د زړه له خوا کمزوري هم و، یو ځل زما د قفس یو لور ته د جلال اباد یو بندي و، او بل لور ته د لوی کندهار ځخه یو تن و. د جلال اباد بندي ډیر د زړه لخوا کمزوری و، ډیر به یې ژړل، او سهار وختې به یې ځینې کوچیانۍ سندرې او ټپې په لوړ اواز ویلې، خو موږ دده له سندرو او ټپو ویلو ځخه تکلیف شوو.[۲٤]
د لوی کندهار ملګري ته مې وویل چې ددې چاره به ځنګه کوو، چې سهار وختې له ټپو / غزلو ویلو ځخه منع شي. هغه وویل چې زما یې

---

[۲٤] دا سړی حاجي محمد نسیم نومیدی، د ننګرهار د چپرهار کوچی و، ډیر ساده او د خدای غریب انسان و، له ګوانتانامو تر خلاصېدو وروسته په افغان مدرسه کې موټر چلونکی و، خو هلته یې هم ګوزاره له استادانو سره ونه شوای کولای، کله چې په چپرهار کې داعش را پیدا شو، له هغوی سره یې هم اړیکې وي. اوس مهال هم په چپرهار کې اوسیږي. اقتصادي حالت یې ډیر زیات خراب دی.

چل زده دی، دي سرې ته ډېره خپله میرمن یادیږي، بس چې میرمن یې ورته په یاد کړي، نور به بیا دی خامخا ژاړي او ټپې، غزلې او سندرې به ورڅخه پاتې وي.
سهار مې نسیم خان ته وویل چې نسیم جانه! موږ خو دلته بندیان یو، ته وګوره په دا قفس کې یې بندي کړی یې، اوس به دي میرمن د باندي باغ ته راوتلي وي، د الوکاټو د ونو منځ کې به ګرځې خو ته به نه یې ورسره، همداسي به مې څو نورې خبرې ورته وکړي، سمدستيي به نسیم له ژړا تک شین شو، او ډیر زیات به یې وژړل.
څو ورځې مې نسیم وژړاوو، بیا یې راته وویل چې ماته کور مه رایادوه، ژړا راځي، هغه ته مې وویل چې ته به هم تعهد کوي چې سهار مهال به ټپې یا سندرې نه وایې. همداسي توافق مو ترمنځ وشو.
ځینې داسي بندیان وو چې هلته یې د قران کریم حفظ کاوو، هغوی به د لمانځه وروسته الله ﷻ ته سوال او زارۍ کولې چې تر هغه وخت پوري خلاص نه شي تر څو د قران کریم حفظ بشپړ کړي، او ډیری بندیان په ګوانتانامو کې د قران کریم حافظان هم شول.
هیڅ توقع مې نه وه چې زه به له ګوانتانامو څخه ژوندی ووځم، فکر مې کاوو چې ټول عمر به همدلته بندیان یو، ځکه همدا خبرې مو اوریدلي وي، چې له ګوانتانامو بیا بیرته وتل نشته. ولي چې کله قفسونو ته یوړل شو، هلته خبریدو چې ځینې بندیان خلاصیږي، بیا مو لږ تمه او امید د خلاصون لپاره پیدا شو، او چې کوم کس به خلاصیدی، د هغه په اړه به عرب خبر شوي وو، بیا به یې نور بندیان هم خبرول.
ماته محقق ویل چې تاسي له زندان څخه خلاصیږئ، زړه مې نه منله، هغه بندیان چې له ګوانتانامو زندانه به خلاصېدل، دوه درې ورځې

مخکې به هم پوهیدل، ځکه هغوی به یې د ځان وینځلو تشناب ته بیول، او هغوی ته به یې  پاکې جامې هم ورکولي.
له قفس څخه یې را وایستلم، لاسونه او پښې یې راته ولچک او سترګې یې راته وتړلي ، په زوړ موټر کې یې کینولم، همدلته یې په زندان کې ایسته دورې ګرځولم، داسي اطاق ته یې ورړم چې ځان به مې په ناستې ښه سره را ټول کړ، نو سجده مي لګولای شوای، ډیر تنګ او کوچنی اطاق و، او د بریښنا څراغ هم  داسي وو، چې یواځې  ښکاریده چې دلته هم کوم وړوکی ضعیف رڼا والا څراغ شته، اطاق تیاره و.
محقق خو مخکې راته ویلي و چې خلاصیږئ، خو ما ویل چې بیرته یې هغه د قفس اطاق ته بیولی وای هغه تر دی ځای ډیر ښه و، ځکه دلته ډیر تکلیف وم، همدا ورځ او شپه مې تیره کړه، بله ورځ هم تیره شوه،  بس ما ویل چې بیرته یې له دغه ځایه قفس ته بیولی وای، بله شپه یې هم راباندي تیره کړه، ډیرې سختې زړه تنګې شپې مې په دغه کوچني اطاق کې تیري کړي.
په اطاق کې نه د خوب کولو ځای  او نه هم کیمپله وه، همداسي به پکې ناست وم، رڼا پکې نه وه، قران کریم مې له قفس څخه را سره را اخیستی و، خو دلته اطاق کې دومره تیاره وه چې د قران کریم ایتونه لیدل کېدل نه چې تلاوت مې کړی وای.
دریمه ورځ هغه زما امریکایې محقق راغی، ږغ یې وکړ، چې حاجي خان (زما نوم) ! ښکنځل مې ورته شروع کړل، ژباړن ویل چې زما څخه پوښتنه کوي، څه ورته ووایم، ومې ویل چې همدا زما خبرې ورته وکړه، تکلیف یم، په دوزخ کې مو اچولی یم. د تحقیق پر مهال مې هیڅ ښه چلند نه دی یاد، خو چې کله خلاصیدم، چلند یې ښه و.

**له ګوانتانامو زندان څخه خلاصون**

امريکايي محقق له هغه کوچني تياره اطاق څخه دربېمه ورځ را وايستلم، لاسونه او پښې مې تړلي وو، سترګې يې راته تړلي او بندی کړي وي، زه يې موټر ته وخيژولم، ژباړن وويل چې امريکايي محقق دي وايي چې په موټر باندی لاس تير کړه، ووايه چې په څه ډول موټر کې به ناست يې، نوی دی که زوړ، ښه دی که خراب؟

پوه شوم چې په ښه موټر کې ناست يو، محقق ته مې وويل چې سترګې راته خلاصي کړئ چې موټر ووينم، مګر ويې نه منله، داسي ښکاريده چې په لوړ ځای باندي ورخيژو، لوړ ځای ته يې وروستلم، ونې وي، ښکلي او ښايسته ځای و، غټه کوټه يې راته راکړي وه، اشپز هم موجود و، زما څخه به يې پوښتنه کوله چې څه شی خوري.[۲۵]

له کوټې څخه د باندي د وتلو اجازه نه وه، خو تر کړکۍ شا وخو سېمو ته مې کتل، سترګې مې خلاصي وي، ډير ښايسته ځای يې هلته جوړ کړی و، بل داچې موږ خو د ګوانتانامو زندان کې په قفسونو او داسي کوټو کې ژوند تير کړی و، چې کله مو دا ځای وليد، نا اشنا ښايسته را ته ښکاريدی.

---

[۲۵] د ګوانتانانو زندان څخه ډير را خلاص شوي بنديانو سره زما (ليکوال) خبرې شوې، خو د دغه ځای يادونه او دومره سهولت په اړه هيڅ يوه هم نه دي راته ويلي، ممکن د حاجي نعيم کوچي د سپين ژر توب او د لوی قوم (احمدزيو) مشرتوب له امله به يې همدغه ځای ته د را خلاصيدو لږ مخکې ور وستلی وي.

څلورمه ورځ انجنير ابراهيم [۲۶] را غی، ما هغه نه پېژاندی، احتياط مې کاوو، نه پوهيدم، دا انديښنه هم را سره وه داسي نه چې افغان جاسوس وي. انجنير ابراهيم راته وويل چې زه د افغانستان د حکومت لخوا په تاپسې له کابله راغلی يم، دواړه به بيرته کابل ته ځو. هغه ته مې وويل چې دا ډول خبرې ډير ځله راته شوې، او زما زړه هم نه منل.

انجنير ابراهيم له همدې ليدو، يوه ورځ وروسته بيا هم راغی، موږ په موټر کې کيناستو، الوتکه د بحر په غاړه هوايي ډگر کې ولاړه وه، زما ورستنی امريکايي محقق هم تر دي ځايه راسره راغی. او امريکايي محقق يوازي دومره راته وويل چې حاجي خان! ته ډير ښه سړی يې، تا موږ ته رښتيا رښتيا وويل، نور يې نه بخښنه وغوښتنه او نه يې دا وويل چې تاسي بېگناه دوه نيم کلونه زموږ سره بنديان واست. يوه مياشت کم دوه کلونه مې په گوانتانامو زندان کې تير کړل، او شپږ مياشتې هم په باگرام کې وم.

## کورته رسيدل

له گوانتانامو څخه زه د انجنير ابراهيم سره يو ځای د باگرام هوايي ډگر ته راوستل شوم، ټول مو ۲۲ ساعتونه په هوا کې تير کړل، نږدې نيم ساعت لپاره کاناډا کې الوتکه د تيلو لپاره کښته شوه، انجنير ابراهيم سره ساعت و، هغه د ۲۲ ساعته مزل او کاناډا خبره راته وکړه، په الوتکه

[۲۶] انجنير ابراهيم د حامد کرزي د حکومت پر مهال د امنيت شورا غړی، او بيا وروسته د امنيت شورا سرپرست او د لنډ وخت لپاره د ملي امنيت اداري سرپرست هم و.

کې زه دا ځل تړل شوی هم نه وم، ځینې نور بندیان هم زما سره یو ځای په همدې الوتکه کې وو، د هغوی یو لاس او یوه پښه یې په چوکۍ پورې ټینګ تړلي وو.

موږ په ګوانتانامو کې دا خبرې اوریدلې وي چې کله بندیان له ګوانتانامو زندان څخه خلاص شي، بیا یې پلچرخې زندان ته وړي، او په پلچرخې زندان کې له بندیانو سره ښه چلند نه کیږي، له دي کبله به د ګوانتانامو هر بندي اندیښنه درلوده، او زما سره هم دا اندیښنه وه چې له ګوانتانامو زندانه خلاص شوم، اوس به مې پلچرخې زندان ته وړي.

له باګرام هوايي ډګر څخه د انجنیر ابراهیم سره یو ځای د هغه کور ته راغلو، وزیر اکبرخان کې یې کور و، خپل کالي یې راته د اغوستلو لپاره راوړل، او د ګوانتانامو جامې مې دده په کور کې له خپل بدن څخه لیري کړي.

نور بندیان چې زموږ سره الوتکه کې وو، هغوی یې کارته پروان کې د کانټیننټل هوټل شمال ختیځ لورته د ملي امنیت اړوند د بندیانو ځانګړي ځای ( حویلۍ) ته یوړل. سهار یې زه هم د انجنیر ابراهیم له کور څخه همدغه د بندیانو ځانګړې ځای ته راوستلم.

انجنیر ابراهیم ستړی و، هغه ویده شو، خپل کور کې پاتې و، هغه ته مې مخکې وویل چې بیا خو به نور تحقیق دلته نه وی، هغه راته وویل چې نور خلاص یاست، هیڅ هم نشته.

کله چې یې د بندیانو ځانګړې حویلۍ ته راوستلم، زما خو د انجنیر ابراهیم خبره په غوږ کې وه، چې نور نو خلاص یم، روان شوم، دروازې خواته ورغلم، عسکر راته وویل : کجا میري؟ ومې ویل، ځم کورته ځم. عسکر په غوسه شو، ویل یې پس شو، پس شو، دیګه بار ترا نه بینم. ډیر زور یې راکی، بیا و ډار شوم، چې بندي یم، او ازاد نه یم.

ماښام مهال همدې ځانګړي حویلۍ ته انجنیر ابراهیم راغی، د باندي زما ورونه او زامن هم انتظار وو، خوشی یې کړم او د شپې موږ لوګر ته ولاړو.

سبا سهار بیرته کابل ته راغلو، د حضرت صبغت الله مجددي صاحب د سولې او پخلاینې دفتر ته یې ور وستو [۲۷]، د ګوانتانامو څخه را خلاص شوې ټول بندیان همدلته راوستل شوې وو، هلته ډیر مشران او چارواکې راغلي وو، مننه او کور ودانی یو بل ته وویل شول.

دویمه او یا دریمه ورځ حامد کرزي وغوښتلم، هغه وویل چې ستاسي (کوچي) په خلاصون کې مې ډیر کوشش وکړ، کرزي ته مې وویل که دومره کوشش دي ربښتیا کړی وای، نو دوه کلونه به د باګرام او ګوانتانامو زندانو کې نه وم پاتي شوی. همدا تا (کرزي) په امریکایانو ونیولم، تاته راغلی وم، او بیا هم په سبا یې ستا سره د لیدو لپاره له لوګر څخه ارګ ته را روان وم، او تاسي امریکایانو ته په لاس ورکړم.

---

[۲۷] د پخواني شوروې اتحاد د سرو لښکرو په وړاندي د جهاد پر مهال حاجي نعیم کوچی د حضرت صبغت الله مجددي د ملي نجات ګوند کې پیاوړي او پیژندل شوی قومندان و.

که تا (کرزي) ته نه وای راغلی، او بیا ځل تاسي په سبا سهار نه وای را غوښتی، نو زه به چا څه کولم، زه خو بیا په دغه لاره نه راتلم، او نه هم کابل ته راتلم، چې امریکایانو به نیولم.

کرزي خندل، ویل یې چې ستا لپاره ډیر ښه شو چې زما د حکومت په وخت کې یې ونیولي.

او رښتیا خبره داده چې اوس زه (کوچی) هم وایم چې ښه ده چې د کرزي د حکومت پر مهال امریکایانو ونیولم، ځکه که د بل چا وخت کې نیول شوی وای، ممکن مشکلات به زیات وای، او بیا وروسته هم کرزي زیات احترام راته درلود.

یادونه: حاجي نعیم کوچی د سپټمبر ۲۸مه، ۲۰۰۴ کې له گوانتانامو څخه بیرته کور ته را ستون شو.

**ښه خاطره:**

چې درې میاشتې وروسته مې سترگې راته ټړل شوې، پښو او لاسونو کې ولچک وو، خو زه یې د باگرام زندان څخه د گوانتانامو زندان ته وړلو لپاره الوتکې ته روان کړې وم، زما پر بدن دلمر د شغلو احساس زه ډیر خوشاله کړم، چې له درې میاشتو وروسته ازادې فضا ته را ایستل شوی وم.

او بله د خوشالۍ ورځ مې هغه وه چې کله یې گوانتانامو کې له یوې میاشتې کوټه قلفي وروسته قفس کې واچولوم، لمر، ځمکه او اسمان او نور طالبان مې هلته ولیدل.

**بده خاطره:**

زندان خو ښه ځای نه دی، اوله ورځ چې يې ونيولم بيا تر خلاصيدو پورې مې د دوی (امريکايې او افغان امنيتي کارکونکو او محققينو ) هيچا سره روغبړ او ستړي مشي ونه کړه، او لاس مې د روغبړ په دود ور نه کړ.

يوه ورځ يې د تحقيق لپاره لاس او پښې تړلی روان کړم، په پښو کې مې زولنې پرتې وې، عمر مې تر ۶۰ کلونو اوښتی و، په تکليف روان وم، خو امريکايې پوځې فشارا راباندي راووړ چې چابک (تيز) به ځې، او زه چابک نه شوای تللای، ما هم چټيات په خپله ژبه ورته وويل، ژباړن نه وو، تندي مې ورته تريو کړ، دوی هم زما په غوسه پوه شول، لا يې ضد ونيوی، او تر اوږو يې ونيولم، چابک چابک يې ټيله کولم، په همدې مهال مې زولنې په پښو کې ننوتلې او زما پښې يې را زخمي کړې، ويني ورڅخه رواني شوې. درد به هر څومره وو، خو د درد له امله ډير نه ځوريدم، مگر د امريکايانو له ظلم ، وحشت او زما ناتوانې او بې وسې ډير ځورولم. تر دې زياته ترخه خاطره به زما له پاره نه وی. نا اميدي، مشکل، عاجزې، بې وسې، مايوسې او د امريکايانو بد او ناوړه نظر او چلند مې هر وخت په تصور کې راتلی او ځورولم يې.

## د لیکوال پېژندنه

نظر محمد مطمئن د جوم سرمست زوی په۱۹۷۳زېږدیز کال کی د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ په زرغون کلي کې سترګې رڼې کړې.

**زده کړې**

دولسم ټولګی یې په پېښور کې د سید جمال الدین افغان په عالي لیسه کې پای ته رسولي. په ۱۳۷۷لمریز کال کې د کابل پوهنتون د سیول انجنیري په څانګه کی خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړې .

د افغان پوهنتون د شرعیاتو څانګې د فقهې او قانون (۱۳۹۳ تر ۱۳۹۶ ل کال) څخه فارغ، اوسمهال دعوت پوهنتون کې په فقه او قانون کې د ماسټري وروستي سمسټر او په تیزس لیکلو بوخت دی.

**څیرمه دندې**

په ۱۳۷۵ل. کال د ننګرهار ولایت د راډیو او تلویزیون رئیس، په ۱۳۷۶ کې په کابل کې د عامه کتابتون او ملي آرشیف د لوی ریاست مرستیال او د کتاب مجلې مسؤل مدیر، په۱۳۸۷ کې دبیهقي کتابتون رئېس، په ۱۳۷۹ کې د هلمند ولایت اطلاعات او کلتور رئیس . په ۱۳۸۰ کې یې له بهرنیو نړیوالو مؤسیسو او د ښوونځیو او کوچنیو روغتونو جوړولو نړیوالو ادارو سره کار پیل کړ او د ۱۳۸۴ تر ۱۳۸۸ کال پوري یې د ملګرو ملتونو د ساختماني پروژو د تطبیق (یو ان او پي ایس ) دفتر سره په کندهار او کابل کې د مشر انجنیر په صفت دنده درلوده.

**د سولې هڅې**

په کابل کې د اوسیدو پرمهال د بېلابېلو سیاسي او اصلاحي ټولنو سره یې ناستې درلودلې، په هیواد کې د ریښتونې سولې اړوند یې هلې ځلې پیل کړې، او د سولې اړوند په ځینو کورنیو او نړیوالو کنفرانسونو کې

یې ګډون کړی، چې یو له ډېرو مهمو کنفرانسونو څخه د جاپان د کیو ټیو ښار د ډوشیشاپوهنتون کې په ۲۰۱۲ ز. کال کې هغه کنفرانس چې د طالبانو استازو، د اسلامي حزب (حکمتیار) استازي هم ګډون کړی ؤ، له دي مخکې په ۲۰۱۱ کې هم په نوموړي پوهنتون کې د سولي اړوند کنفرانس کې شرکت کړی ؤ. په ۲۰۱۰ کې د ترکیې په استانبول ښار کې په نړیوال اسلامي کانفرانس او په ۲۰۱۴ کې د پاکستان په اسلام آباد کې د سولي اړوند نړیوال کانفرانس کې یې شرکت درلود. د افغانستان اړوند مسایلو له پاره یې د پولنډ هیواد وارسا او کاراکوب ښارونو، اندونیزیا، قطر، متحده عرب اماراتو او ازبیکستان کې هم په ځینو مهمو ناستو کې ګډون کړی.

د افغانانو لومړي خپلمنځي ناسته چې ماسکو کې وشوه، مطمئن یې هم ګډونوال و.

## لیکلي چاپ آثار

۱. طالب مشرانو سره شپږورځې
۲. د ګوانتانامو ۳ بندیان
۳. طالبان په جاپان او موږ په وارسا کې (همدا کتاب)
٤. د سولې ناستې (له افغان سیاستوالو او چارواکو سره)

## لیکلي ناچاپه آثار

۱. مجاهدین او خپلمنځي جګړې
۲. د سولې ناستې (له ناټو او بهرنیانو سره)
۳. اندونیزیا کې د علماوو غونډه
٤. قطر کې له طالبانو سره ناستې